# د پښتو متل سپړنه

Ketabton.com

شاه محمود کډوال

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتو متل سپړنه

لیکوال:

**پوهنمل شاه محمود کېوال**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پیژندنه:


د کتاب نوم: د پښتو متل سپړنه

لیکـــوال: پوهنمل شاه محمود کړوال

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

ډیزایـن: ضیاء ساپی

کمپوز: خپله لیکوال

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۱۳)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيوليک

سرليکونه — مخگڼه

پيليزه................................................................................ ۱
سريزه ................................................................................ ۳
د فولکلور لنډه پېژندنه ............................................................ ۵
متل څه ته وايي ؟ ..................................................................... ۷
ايا متل له مَثل سره اړخ لګوي ؟ .................................................. ۲۰
د متل ډولونه .......................................................................... ۲۴
په متلونو کې د دودونو غبرګون ................................................... ۳۰
متلونه او د خلکو اندونه ............................................................ ۵۵
متلونه او کولتوري يون ............................................................... ۷۲
د متلونو ژبني او ادبي ارزښتونه ................................................... ۹۱
د متلونو شاليد ...................................................................... ۱۰۸
د متل شاليد ، له اصطلاح سره د توپير کرښه .................................... ۱۱۴
اخځونه .............................................................................. ۱۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانى ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیلیزه

پښتانه او پښتو ژبه هم د نړۍ د پرمختللو ولسونو او ژبو پـه څېـر دي ، خـو د ټولنیزو چارو او ژوند شتمني یې لږه تر کار لاندې لوېدلې او سپړل شـوې ده . پښتني فولکلـور د دې ځرګنـدویي کـوي ، چـې مـوږ د خپـل لـومړني ژونـد د اړتیاوو لپاره کافي مواد لرل او چاته اړ نه وو . که اړ وو ، هم په هغـه کچـه ، چې د نړۍ ټول ولسونه او ژبې دي او دا یوه طبیعي خبره ده .

پښتني فولکور او په هغې کې متل ، هغه ژبنی واحد دی ، چې زموږ او نړۍ د ژوند غوره تګلارې او معیارونه لري . دا واحـد تـر ډېره څېـړل شـوی ، خـو لا پراخو څېړنو ته اړتیا لري . متل د ټولنې وګړو ته د ټولنیز ژوند لپاره ښې لارې ټاکي .

ډېری متلونه د یوې پیښې او کیسې زېږنده ده . زموږ وګړو د ټولنیز ژونـد پـه بهیر کې رامنځته کـړي او تـر شـا یـې پخـې تجربـې پرتـې دي . ځرنګـه چـې وړاندې وویل شول ، د فولکلور او بیا ولسي ادب او همـدا ډول متـل پـه اړه ، درنو پوهانو او لیکوالو کار کړی او د درناوي وړ دی . موږ پـه تېـرو څېړنـو د ډېروني هڅه کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ( پښتو متل سپړنه ) موضوع ، هغه ده چې ما د ماسترۍ د تيزس د بشپړونې په موخه ځېړلې او چمتو کړې ده . د دې موضوع د څېړلو لپاره مې ، د خپلو شونتياوو په اندازه کې ډېره هڅه کړې او داسې څه مې ټولنې او پښتو مينوالو ته وړاندې کړي ، چې ټولنه کې خپل ځای لري . له بېلابېلو پښتو پوهانو ، استادانو ، کتابونو او خلکو مې معلومات راټول کړي او شنلي مې دي . په دې ترڅ کې د نورو قدرمنو په استازيتوب زما له لارښود استاد پوهنوال احمدشاه زغم نه مننه کوم او ورته د سوکاله ژوند غوښتونکی يم ، چې په ورين تندي يې زما اړتياوې بشپړې کړې او د څېړنې په بهير کې يې زما بشپړه ملتيا کړې ده .

درنښت

شاه محمود کړوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

پښتو ژبه او فولکلور هغه شتمني ده ، چې بېلابېلې برخې يې په ګڼو رنګونو ښکلې دي . په فولکلور کې د ژوند او ژواک هر اړخ شته ، د فولکلوري او ولسي ژبې او ادب له بېلابېلو واحدونو له ډلې یو متل دی ، چې زموږ د ولس لاسته راوړنه او پراخې ماناوې رانغاړي .

متل زموږ د ژوند بېلابېل پړاوونه او رنګارنګ اړخونه ځرګندوي . دا فولکلوريک ژانر او جوړښت ، له پيله زموږ د ژوند د بهير مادي او مانيز پرمختګ ، ګام پر ګام راښيي.

متل زموږ د ژوند بېلابېل اړخونه ، فکرونه ، معيارونه ، ارزښتونه ، آرونه او باورونه رااخلي او خوندي کړي يې دي . متل د يوه نږدې اوږد بهير ، کيسې ، پېښې او تجربې لنډيز ، پايله او نچوړ دی .

متلونه تر ډېره د شاليد لرونکي دي . يوه پېښه او کيسه پکې پرته وي ، ګڼ شمېر يې ډله ييز رنګ لري ، داسې چې ډېر وګړي پکې ګډون لري ، خو ځينې يې کېدای شي د يوه وګړي او فرد تجربه وي او ډله ييز رنګ ونه لري . د ځينو متلونو په اړه ويل کېږي چې شاليد نه لري ، په دې مانا ، چې تر شا يې پېښه او کيسه نشته ، هغه هم په ډله ييز رنګ کې ، دا ډول کېدای شي هماغه فردي تجربه وي .

متلونه يوه لنډه جمله ده ، تر ډېره نظمي بڼه لري ، منثور يې هم ځانګړې ښکلا او بڼه لري ، ځانګړی خوند لري ؛ له دې کبله يې ذهن هم ښه خوندي کولای شي او له خلکو نه هېرېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متل د لنډ جوړښت په پرتله ، د متل کیسه او پېښه اوږد جوړښت لري او د متل د لنډ جوړښت په څېر ښکلا او خوند هم نه لري . له دې کبله د ډېرو متلونو کیسې او پېښې هېرې شوي او له منځه تللې دي او یوازې د متل لنډ او خوندور شکل راپاتې دی ځکه موږ فکر کوو ، چې ځینې متلونه په شالید کې کیسه ، پېښه او تجربه نه لري . یوازې هغه متلونه ، چې د یو فرد د ذهني تجربې پایله ده او ډله ییزه تجربه پکې نشته د هغوی پېښه او کیسه هم فردي او ذهني ده.

د متلونو په شالید کې پېښې ، کیسې او تجربې بېلابېل رنګونه لري . یو شمېر یې تاریخي بڼه او مانا لري ، په دې ډول ، چې متل د یوې داسې پېښې لنډیز او پایله ده چې په تاریخ کې ځای لري . یو شمېر داسې دي ، چې دیني رنګ لري ، په شالید کې یې د قرانکریم د یو آیت او حدیث شریف مانا پرته وي . یو شمېر یې داسې دي ، چې په شالید کې یې اخلاقي او ټولنیزې تجربې پرتې دي . همداسې یو شمېر متلونه بیا داسې دي ، چې په شالید کې یې افسانې او اسطورې پرتې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱ ـ د فولکلور لنډه پېژندنه :

څرنګه ، چې زموږ د دې څېړنې اصلي موضوع (د پښتو متل سپړنه) ده او متل بیا له فولکوریکو توکو څخه یو دی ، ځکه پر فولکلور لنډې خبرې هم راتـه اړینې برېښي .

د فولکلور مرکبه کلمه له دوو بسیطو کلمو څخه جوړه شوې ده . لومړی توکی یې فولک (Folk) دی او د بې سوادو او عوامو خلکو پـه مانـا دی . دا کلیمـه په زړه انګریزي ژبه کې د (Folc) په بڼه ، په منځنۍ او نـوې انګریـزي کـې د (Folk) په شکل راغلې ده ، چې د خلکو ، ملـت ، قـام او د کـورنۍ د غـړو پـه مانـا ده . پـه ژرمانیـک ژبـه کـې (Folkam) راغلـې ، چـې د (ناثابـت) او (ناڅرګند) مانا لري . دویم توکی یې (Lore) دی ، چـې پـه زړه انګریـزي کـې (Lare) وه ، مانا یې د (حقایقو مجموعه عنعنه د یو شي په بـاره کـې د عوامـو فکر و عقیده عامیانه مالومات ، افکار او ولسي ذهنیت) ده .

اصلاً فولکلور د عوامو خلکو ، د یو ملت یـا یـو قـام او یـا یـو نـژاد پـه نظـر د حقایقو مجموعه ده . د دوی عنعنوي سرمایه ده او د ژوند او نړۍ په اړه د دوی فکر و عقیده مالومات ، افکار او د دوی عمومي ذهنیـت دی . د یـو ملیـت یـا ملت او یا د یو هیواد په فولکلور کـې د هغـوی ټولـه مـاضي او د موجـوده او راتلونکي ژوند لپاره ارزښتونه پراته دي .

د یوې ټولنې فولکلور موږ ته د هغوی د پلرونو ، نیکونو او اجـدادو کولتـوري نورمونه او ټولنیز ارزښـتونه بیـانوي او د هغـوی لـه کولتـوري معیـارونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هدفونو سره مو اشنا کوي . په همدې توګه فولکلور انسانانو ته لارښوونه کوي ژوند ته مانا ورکوي او د حرکت سمت يې ټاکي (۲ : ۱) .
فولکلور د لومړني او بدوي انسان هغه برداشت او تعبير دی ، چې له خپل چاپېر او د ژوند له اړخونو څخه يې کوي او د خپل شاوخوا موجوداتو په باب نظر څرګندوي او د فولکلور تاريخ هم له هماغه لومړني انسان څخه راپيلېږي ، چې د فولکلور په غېږه کې يې سترګې غړولې دي او له همدې امله د فولکلور هر اړخ ډېر لرغونی او زوړ دی( ۱۸ : ۵۸ ) .
مشهور پارسي قاموس (فرهنګ عميد) ليکي :
فولکلور : فرانسوي ټکی دی ، د عوامو پېژندنه ، د ولسي- خلکو د ادابو ، دودونو او تصنيفاتو پوهنه يا علم ، د سيمه ييزو عقيدو ، افسانو او ترانو ټولګه .
معين فرهنګ ليکي :
فولکلور فرانسوي ټکی دی . Folk د خلکو او Lore د هغو پوهه . هغه علم ، چې د يوې سيمې د اصلي پخوانيو استوګنو له خوا د هغو د دود و ادابو (اخلاقو) ، کيسو او ولسي تصانيفو نه جوړ دی يا خلک پېژندنه .
د اروانباد څېړندوی محمد صديق روهي په نظر :
" فولکلور د زيار ايستونکو د هلو ځلو او ژوند پېښو هېنداره ده ، چې په هغه کې د خلکو اجتماعي سيکالوژي د دوی انګېرنې او برداشتونه ، د هغوی ارمانونه او غوښتنې د دوی ذوق او د پوهې سطحه ، د دوی مبارزې او فعاليتونه او په پای کې د دوی د باطني نړۍ ژورتياوې منعکسوي . سره له دې ، چې په فولکلور کې جادو خرافات او دې ورته نور عقايد او تجربې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاملې دي ، خو که موضوع په ژوره او هراړخیزه توګه وڅېړل شي ، نو د لرغونو انسانانو جادو او خرافات هم ، له حیاتي اړتیاوو سره نېغې اړیکې درلودې . د ځینو خرافاتي اړخونو په نفي کولو سره له فولکلور څخه د تربیتي مقصدونو او ستیتیکي غوښتنو د پوره کولو لپاره هم استفاده کېږي ( ۲۴ : ۳ ) .“ فولکلور د ولسي۔ ژوند هېنداره ده . په دې هېنداره کې د خلکو دودونه ، ارزښتونه چال چلند ، انګېرنې ، کړنې او د ژوند هر راز لارې چارې منعکسوي . د فولکلور د څېړنې ساحه ډېره پراخه ده ، خو عمده برخه یې ولسي دودونه ، خرافات ، رواجونه ولسي ادب ( متلونه ، سندرې ، کیسې او نور ) دي ( ۷ : ۱ ).

**۲ ـ متل څه ته وايي ؟**

متلونه د یوه ولس د ټولنیزو ، پوهنیزو او رواني ازمېښتونو او لیدنو کتنو د محصول په توګه د ولس د پوهې او شعور د کچې ښکارندوی دي . پښتانه ، چې په ټولنیز ژوندانه مین قام دی ، که څه هم د سیاسي او اقتصادي ناخوالو په حکم له اکاډیمیکو او منظمو ښوونیزو مزکزونو لرې پاتې شوي یا پاتې کړای شوي دي ، خو بیا یې هم ټولنیز او سیاسي نظام د ژبې (پښتو) ترڅنګ د پښتو او پښتونوالۍ د نظام په رڼا کې یو بریالی ټولنیز او پوهنیز نظام چلولی دی ، په دغه نظام کې مشران ، مخور او شمله ور د ټولنیز نظام او پر ټولنیزو ستونزو د لاسبرۍ بریالۍ او اغېزمنې لارې چارې لري چې متل هم د همدغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرانو او مفکرانو د پوهې او تجربې د محصول په توګه د پښتنو د ورځنې ژوندانه د ناخوالو او نیمګړتیاوو د درملنې دنده پر غاړه لري ( ۱۶ : ۱ ) .

د پښتو متلونه هم د پښتو د ادب یوه غوره برخه ګڼل کېږي ، دا متلونه له ډېر پخوا څخه موجود او زموږ د سپېڅلو نیکونو غوره ، قیمتي او تللې ویناوې دي ، چې د نقلونو په شان له یو نه بل ته ، له بل نه بل ته ، نقل په نقل راغلي او پاتې شوي دي . د لنډیو په شان د متلونو د ویلو تاریخ هم مالوم نه دی ، مګر په هره زمانه کې ویل کېږي او کوم خاص ویونکي هم نه لري ، بلکې د ټولو پښتنو د خولې مرغلرې دي ، چې خورې ورې د خلکو په ذهنونو کې پرتې دي . د متلونو عبارات خوندور ، لنډ ، مختصر او ډېر مطالب پکې ځای شوي وي . پښتو متلونه که څه هم په نثر کې داخلېږي ، مګر اکثره یې سجع او قافیه هم لري .

متلونه د یو ملت د عاداتو او خویونو د ښکاره کېدو ایینه ده او د هر قوم د پوهې تجربو او طبیعت د صفایۍ اندازه ترې مالومېږي . متلونه هغه پخې پخې خبرې دي چې له ډېرو تجربو نه وروسته په لاس راځي او د ژوندانه لارښوونکي ګڼل کېږي . متلونه په کلام کې خوږوالی او قوت پیداکوي ، عبارت پرې خوندور او خوږېږي . دا وجه ده ، چې شاعر او لیکونکي یې په خپلو ویناوو کې راوړي او له دې کبله د بدیع په فن کې دا یو صنعت بلل شوی دی . د متلونو پېژندنه دوه خواوې لري ، یوه دا چې اصل مورد یې سړي ته مالوم شي ، چې دا یې حقیقي مانا ده او بل دا چې د استعمال ځای یې وپېژندل شي ، چې دا یې کنایي مانا ده ... ( ۸ : ۳۲ ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



متلونه هغه لنډې ويناوې دي ، چې د پېښو يا خبرو په وخت د استناد لپاره کارول کېږي . د يوې مخکينۍ ترسره شوې پېښې کيسه په يوه لنډه جمله يا ترکيب کې په ډېره لنډه بڼه وړاندې کېږي او د نورو قياس پرې کېږي .

متلونه د پښتني فولکلور او ژوند يو مهم ژانر دی ، چې اکثره وخت د خبرو پر وخت د ډاډ ، باور او رښتيانۍ لپاره کارېږي. اکثره پښتانه په عامو خبرو کې هم متلونه کاروي. متلونه خبرې مستدللې کوي ، خوند يې ډېر وي او د اورېدونکي يا لوستونکي ډاډ او باور ډېروي .

ښاغلی رفيع په دې اړه ليکي :

"متلونه د خلکو هغه سپېڅلې ، پاکې ، ماناداري او لويې لويې لنډې جملې دي ، چې د ولس د ثقافت ، فرهنګ علم او پوهې ، کړو وړو ژوندۍ نمونې او د ولسي پوهانو د لوړو افکارو نماينده ګان دي ( ۲۴ : ۱۲۲ ) . "

د پښتو ادب يو مهم توک دغه متلونه دي ، چې په لنډو ويناوو کې حکمتونه او د ګټې خبرې ځای شوي دي . په متلو کې د ملتو د روحياتو خورا ښې ښې نکتې پرتې وي او ځينې پوهان وايي ، چې تر شعر لا متلونه د ملتو پر عقليت ښه دلالت کوي . ولې ، چې اشعار د داسې خلکو له کومو راوځي ، چې فکر ، ذهن او عقليت يې تر عوامو لوړ وي . اما متلونه د عوامو له تفکره حکايت کوي او د متلو الفاظ لکه اشعار مصنوعي او پالش شوي نه وي او د عوامو په ژبه وي ، نو متلونه د وګړو ږغ ګڼلی شو او پر روحياتو يې دلالت تر شعر ټينګ او د ويسا وړ وي . متلونه د ملتو د اجتماعي ژوندون او د دوی د عقلي هويت ښکاره کوونکي دي . په مختلفو اوضاعوو او کيفياتو کې د تجربو او ازمېښتونو نتيجې په لنډو کليماتو کې ځای شوې دي ( ۳ : ۱۸ ، ۱۹ ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر ولس په شفاهي ادب کې متل (ضرب المثل) مهم ځای لري . د بډايو ژبو يو خصوصيت دادی ، چې په متلونو هم بډای وي . متل د خبرو يوه بېخي لنډه جمله ده چې د مانا په لحاظ بشپړه او د مفهوم او مورد په لحاظ عامه وي .

د متل بلاغت او فصاحت په دې کې دی ، چې د فورم له مخې لنډ او مؤجز ، د مانا په لحاظ مستعار او کنايه ، د افهام له مخې ساده او عام فهم او د افادې په لحاظ په هدف رسا او سم لګېږي .

ماکسيم ګورکي د متل په باب ويل : "په لفظي ساده ګۍ کې يې تر ټولو لويه هوښياري او حکمت ځای شوی دی ، متل او سندره هميشه مؤجز وي ، خو د بشپړ کتاب هومره تفکر او احساس پکې وي ." ده به ليکوالو ته مشوره ورکوله ، چې ليکوالي له متل څخه پيل او زده کړي ، چې الفاظ پکې داسې کښېښکل شوي وي ، لکه په موټي کې ګوتې ، متل (چې پښتانه ورته د هوښيارانو خبره هم وايي)خبره خوندوره کوي او د هغې مفهوم د مضبوطتيا او غبرګون غوندې دی .

متل اصلاً د يوه هوښيار او حکيم عاقلانه (مقوله) وي ، چې په قصدي يا اتفاقي ډول يې له خولې وتلې وي ، خو بيا د لفظي ښکلا او مناسبت او مانيزې حکيمانه افادې او ارزښت په برکت د ولس په ژبه جاري او خوندي ساتل شوی وي . د متل لومړی ويونکی د ولس له نظره لوېدلی وي ، خو وينا يې د شفاهي ادب يوه ارزښتناکه برخه ګرځي .

د متل په مرکز کې د ګرامر له مخې يو شخص (غالباً مفرد غايب يا مخاطب) ځای لري ، خو د ويونکي او هم د اورېدونکي په فکر کې د هغه مورد بېخي عام وي . متل د ولسي جهانبينۍ ، تفکر او ذهنيت بېل بېل اړخونه ترسيموي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخي وي ، لکه : (که ته نازو شې ، نو میرخان به څوک وزېږوي ؟ ) جغرافیوي وي (پېریانو ته غزنی څه شی دی ؟ ) اخلاقي وي (چې بد گرځې ، بد به پرځې) مذهبي وي (چې اوبه وي ، تیمم ته حاجت نشته) اقتصادي وي (د خپلې برېستنې سره پښې غځول په کار دي) او نور .

د متل ستر خصوصیت دادی ، چې همیشه کنایي مانا افاده کوي ، که خپله اصله او حقیقي مانا افاده کړي ، هغه بیا متل نه دی . مثلاً : (که غر لوړ دی ، پر سر یې لار ده) (د غله په ږیره خلی وي) (په یوه گل نه پسرلی کېږي) . دلته یو متل هم په خپله لومړۍ مانا نه دی او نه د (لوړغر ، په سر یې لاره) ، (غل ږیره ، خلی) (گل ، پسرلی) ترمنځه ارتباط ملحوظ دی ، چې د متل حقیقي مانا ده ، بلکې دلته هر متل خاص کنایي مفهوم لري ، چې هم اورېدونکی پرې پوهېږي او هم د ویونکي مطلب وي او هغه د متل کنایي مانا ده ، که کنایي مانا افاده نه کړي ، هغه متل بللی نه شو (۷ : ۵۲ ، ۵۳) .

پښتانه متل ته ډیر اهمیت ورکوي . هر متل ورته د کانې کرښه ښکاري او هغه یو پوخ او غښ دلیل بولي . پښتو متلونه د پښتنو د اجتماعي ژوندون پوره نماینده گي کوي .

د پښتو متلونه ډېر او په زیاته اندازه دي او لکه لنډۍ په هره خوا کې په بېل بېل ډول د خلکو په سینو کې پراته دي . د پښتو متلونه ډېر پخواني او لرغوني مالومېږي . ځکه چې د متل جوړیده او شهرت ډېره زمانه غواړي او ډېر ژر د متل حیثیت نه شي موندلای .

دغه شان ښایي ، چې د متلونو په عبارتونو کې هم ډېر توپیر نه وي راغلی ، ځکه چې د متلونو عبارت او لفظ د یو روایتي متن په توگه په خپل اصلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنگ ساتل کېږي او د زمانو بدلونه پکې زيات تغير نه پيداکوي . د پښتو هر متل لکه د لنډۍ يو ځانله خپلواک مضمون يا په بله ژبه د يوې پېښې او واقعې لنډيز دی ( ۱۱ : ۲ ) .

متل هغه عام اهنگدار او مؤجز کلام دی ، چې په حکمت بنا وي او د عموميت اهنگ او ايجاز په گاڼه پسوللی وي ، که لنډۍ د پښتنو جمالياتي ټولنيز شعور تمثيلوي ، نو متلونه عقلاني او فلسفي خوا ښيي. ښاغلی قيام الدين خادم د متل د ويې په باب ليکي: " د متل د ويي اصله مانا ماته نه ده مالومه ، خو د عربي د مثل او ضرب المثل مانا واضحه ده ، زه نه شم ويلای ، چې متل به له مثل نه جوړشوی وي ، مگر د مثل په مانا سړی پوهېږي ، چې دا هغه بديعه حکيمانه جمله ده ، چې د تشبيه ،کنايې او مثال په ډول د کلام د تحکيم لپاره راوړل کېږي .... "

خادم صاحب د مثال لپاره دا لاندې متل راوړي :"چې ځې ځې ، ابازو ته به راځې."

د مضمون له مخې د پښتو هر متل يوه گټوره وجيزه ده . دپښتنو روحيات او ټولنيز ژوند پکې په ښه توگه ځلېږي او د ولسي ادب هغه بډايه پانگه ده ، چې د ټولنيز ژوند ټولې خواوې پکې څرگندې شوې دي . د مينې او ښکلا، وصال او بېلتون ، خوښۍ او خپگان ، اخلاق ، تاريخ او جغرافيې ، مذهب ، اقتصاد ، عدالت ، هېوادپالنې او نورو فکرونو مخزن دی .

په متلونو کې د يوې ټولنې ډېر پټ دنننې رازونه پراته دي او پښتنو ته ډېر ارزښت لري ، ځکه دا وينا د ټولنې هغه گډ او ټولنيز مضمون دی ، چې د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خوا د عقل او پوهې له مخې سنجول شوی ، د ټولو له خوا قبول شوی او پـه سیمه کې یې د کلونو کلونو په تېرېدو ریښې پخې شوې دي .

د دې لپاره ، چې یـوه وینا د متل په نامه یاده شي او بیا د ټولو لـه خـوا د منلو وړ وګرځي ، باید ساده او د ولس په ژبه وي ، ښه اهنګ ولري ، په غوږونو ښه ولګي ، په مغزو کې سملاسي ځـای ونیسي- او زړونـه یـې ومنـي ، د همـدې مقصد لپاره په یوه متل کې تـل درې شـیان ، خـوږوالی ، لنډوالی ، مقصـد او مفهوم ضروري بلل شوی ( ۴ : ۸ ) .

متل هغه لنډه جمله یا عبارت دی ، چې د یوې انساني تجربې او مشاهدې بیـان پکې په ډېره په زړه پورې ښکلې بڼه او انداز کې شوی وي .

د متل عبارت ساده او روان وي ، خو ډېره سـتره او ژوره مانـا او مفهـوم پکـې پټ وي . دا د انسانانو د مغزونو خبرې دي ، چې د دوی د ټولنیز ژوند لـه پخـو تجربو څخه رازېږېدلې دي .

متلونه د یوې ژبې د ولسي او شـفاهي ادبیـاتو سـتره او ارزښـتناکه برخـه ده. اصلي جوړونکي او رامنځته کوونکي یې هم نه دي مـالوم ، د ټـول ولـس ګـډ مال دی . هر متل تر شا په خپل پس منظر کې یوه پېښه ، کیسه او د ژوند پخه تجربه لري ، چې د هغې نتیجه او نچوړ د پند او عبرت لپاره خوله په خولـه لـه یو نسل څخه بل نسل ته لېږدېدلې او د کاڼي کرښې ګرځېـدلې دي ، نـو ځکـه یې خلک پـه خبرو اتـرو کـې د خپلـې وینـا د منطقـي او بـاوري کولـو لپـاره استعمالوي .

ځینې متلونه په نظم وي ، چې وزن او قافیه لري او ځینې بیا په نثر وي ، چـې د وزن او قافیې له قید نه خـلاص وي ، خـو دواړه ډولونـه د پـوره فصـاحت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاغت نه برخمن وي . د يـادونې وړده ، چـې زمـوږ زيـاترو پخوانيـو شـاعرانو پخپلو شعرونو کـې د شـعري قـوت د لوړتيـا لپـاره متلونـه راوړي او د ځينـو مشهورو شاعرانو د شعرونو ځيني بيتونه او يا نيم بيتي په خلکو کې د متلونو په بڼه استعمالېږي ( ۲۱ : ۵۵ ) .

پښتو متلونه د ولس د خولو څخه راوتلې هغـه پخـې خـبرې دي ، چـې د ډېـرو تجربو او زمانو په تېرېدو سره هغه په هر تول باندې پـوره او پخـې شـوې دي ( ۲۰ : ۵ ) .

کلـه چـې انسـان د گلونـو غونچـه وويـنـي او پـه زړه او ذهـن د بـاغونو او گلستانونو زرگونه رنگونه خـواره شي ، همدغسـې متـل د ژونـد د تجربـو لـه ماناوو نه يوه ډکه پکه داسې مجموعه ده ، چې زړه او ذهن يـې واوري ، نـو د فکر او تخليق چينې تاندې کړي او خيالونو ته نوې او نااليدلې لارې پـه گوتـه کړي . متل د ژوند د کالبوت روح دی چې دغه قرار شي ، نو متـل بـې قـراري وربښي او چې بې قراره شي ، نو قرار ورکوي ، چې روغ وي ، بيمار يـې کـړي او چې بيمار شي ، نو خپله يې طبيب او په خپله يې دارو شي . متل د انسـان د ژونـد نـه مانـا اخيسـتې ده او متـل انسـان او د انسـان ژونـد ژواک تـه مانـا وربښلې ده ( ۲۳ : ۱۱ ) .

متل لکه اور اورکی يا اوربلک له ځانه رڼا لري . موږ متل ته د څراغ ويلو پـر ځای اوربلک په دې وايو ، چې دا لکه يو ژوندی شی په خپلو پښـو پـه ټولنـه کې روان وي مزل کوي او په رڼا کې يې خلـک د ژونـد غـوټې پرانيځـي. هـر ځای ، چې خبره بنده وي متل چې ور برابر شي ، نو داسې يې په اسانه خلاصـه کړي ، لکه کيلي چې کولپ (قفل) خلاصوي . د مزل کولو طريقـه يـې دا وي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د انساني تجربې پر بنسټ منځته راغلي ډېره زياته دانـايي پـه بېخـي لـږو ټکو کې په هر متل کې ځای شوې وي او دغه لـږ ټکـی دومـره سـاده ، دومـره اسانه او ترتيب يې دومره طبيعي وي ، چې نه يې حافظې تـه يـاد سـاتل گـران وي او نه يې ژبې ته ادا کول . په دا نو ، چې يو متل پر يوه موقع باندې وويل شي ، هلته هر څومره وگړي ، چې حاضر وي ، هر يوه ته هغه بې له څه کوښښه ياد شي او دا هر وگړی ، چې بيا چېرتـه بـل ځـای پـر همدغسـې موقـع بانـدې برابرېږي دغه متل يې خولې ته په خپله راځي او هلته موجود نور وگړي ، چـې يې اوري ، نو متل د هغو حـافظې تـه هـم ځـان رسـوي او ورسره مختـه ځـي . داسې هر متل په ټولنه کې په گرځېدو راگرځېدو وي او چې پـر خپلـه مناسـبه موقع يې واوري ، نو پوه به شي چې په دغه وړه کوزه کې څومره ژور سـمندر پروت دی ( ٦ : ١٦۴ ) .

متل هغه جمله ده ، چې د مثـال پـه طـور بيـان شي او پـه دلـيلي توگـه وجـود ومومي . په تېره زمانه کې ډېرې داسې واقعې تېرې شوې دي ، چې هغه يا پـه کيسه کې بياني شوي او يا په لنډه جمله کې هغې ته اشاره کوي او هـر کلـه ، چې د کومې پېښې اړوند دغه وړه جمله ، چې په وړو وړو ټکـو مشـتمله ده ، بيان کړی شي ، نو د اورېدونکو ذهن ته هغـه ټولـه واقعـه راوړانـدې شي ( ۵ : ٢١ ) .

په شفاهي ادب کې شايد متل يواځينی صنف وي ، چې د دنيا په ټولو ژبو کـې اوچت مقام لري . د متل د دې اهميت او عموميت لويه وجـه د هغـه پـه مـانيزه غنا پورې اړه لري . په متلونو کې د يوه ولس د اخلاقي ، عقل او پوهې کچـه د شفاهي ادب د هر بل صنف په پرتلـه پـه زياتـه انـدازه څرگنـدېږي . د پښـتنو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنيز قانون (پښتونولی) کابو ټول مفاهيم يواځې او يـواځې پـه متلونـو کـې خوندي دي . پښـتو متلونـه نـه يـواځې د پښـتو ادب غـوره نمونـه ده بلکـې د پښتون د نفسياتو او کلچر د ادراک لپاره بهترينه وسيله هم ده ( ۱۲ : ۱ ) .

د Oxford Advanced learner's Dictionary د متل په اړه ليکي:

**A well-known phrase or sentence that gives advice or says something that generally true.** ( ۱۲۱۵ : ۲۵ )

د متل نورې پېژندنې داسې شوې دي :

- پښتو متلونه ډېر لوی مقصد په لنډو وينـاوو کـې ښـکاره کـوي او د ويسا وړ ګڼل کېږي او په وينا کې د قالب او شاهد مثال لري .
- متلونـه د پوهـانو خـبرې دي ، چـې حـق و رښـتيا دي . دا د کلونـو د تجربې او مشاهدې پايله وي ، چـې پـه کوچنيـو کوچنيـو جملـو کـې بيانېږي .
- محاوره د هرې ژبې يو لازمي جز وي ، خو د متل استعمال پـه اختيـار پورې اړه لري .
- متلونه په عمومي توګه د عوامي ذهن امين وي او په شاليد کې يې د صديانو پوهه پرته وي ، دغه وجه ده ، چې متلونه د ژبـې ښايسـت او ګاڼه بلل کېږي . په ليـک او وينـا کـې د نـدرت د پيـداکولو لپـاره د متلونو استعمال ډېر ښه وي .
- په لفظي ساده ګۍ کې يې تر ټولو لويـه هوښـياري او حکمـت ځـای شوی دی. متل او سندره هميشه موجز وي ، خو د بشپړ کتاب هـومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفکر او احساس پکې وي . متلونه که څه هم لنډ او په ساده توګه لیکل شوي دي ، خو مفهوم یې دېر لوی دی ، چې اصلا د یوه کتاب بڼه لري .

- متلونه له لفظي او مانيزو ښکلاوو ډک دي . د متل ایجاز ، اختصار او په هغه کې د لوی مفهوم ځایول د هغه بلاغت او فصاحت همیشه د ادب د تیوری د محققینو پام ځانته اړولی دی .
- متلونه هغه عام حقایق دي ، چې د خلکو په خبرو اترو کې په ذوق او خوند سره ویل کېږي .
- متلونه هغه لنډې ویناګانې دي ، چې بلاغت او رښتینوالی ولري . دغه ویناوې د ډېرې پخوا زمانې څخه په خلکو کې موجودې او د دوی خوښې وي .
- متلونه هغه وړې ، مګر چستې جملې دي ، چې د انساني ژوند تجربې او مشاهدې پکې په ډېره عجیبه اندازه نااشنا طریقه او خوندناک شکل وړاندې شوي وي ، د طنز او مزاح مالګه هم ورسره وي .
- متلونه که څه هم لنډې او ساده جملې دي ، مګر حقیقت دادی ، چې په هر متل کې لوی حکمت پروت وي او دغه مقولې ، چې د تجربو نه وروسته منځته راغلي او په عام ساده او لنډ ډول یې په جامعه کې انتشار موندلی ، د یوې سیمې ، ټولنې او یوې زمانې د خلکو ذهني او فکري سویه ، کردارونه اجتماعي روابط ، هوښیاري ، د ژوند سطحه ، کولتور او نور په ښه ډول ترې څرګندېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- متلونه په عموماً په عوامي سطحه پيداکېږي . په دوی کې د عـوامي ژوند ځرک پروت وي ، بيا يې ښېګړه دا ده ، چې خاص خلک يـې هـم په خپل استعمال کې راولي، که څه هم د دوی له چاپېرياله سره اکـثره تړون نه لري . دا خبره نه ، خو د متلونو پـه اړه ده ، بلکـې د لفظونـو ، تلفظ او محاورو په اړه هم عوام ته خواص مات شوي دي .
- په متل کې د قرنونو تجربې ، د انساني ژوند مشـاهدې او د پوهـانو د احساساتو پانګه پرته وي . پـه متـل کـې د لفظونـو تقـديم او تـاخير درست وي خو د محاورې پـه شـان پکـې د مصـدر د ټولـو مشـتقاتو استعمال ناجايز وي .
- متل هغه عام آهنګداره او موجز کلام دی ، چې په حکمت بنا وي او د عموميت آهنګ او ايجاز په ګاڼـه پسـوللی وي . کـه لنـډۍ د پښـتو جمالياتي ټولنيز شعور تمثيلوي ، نو متلونـه عقـلاني او فلسـفي خـوا ښيي .
- متل د يوې تجربې پايله او يوه اخلاقـي نقطـه وي ، چـې پـه تمثـيلي اسلوب کې بيانېږي . لفظونه مختصر وي ، مګر لـه دوی څخـه يـوې لويې واقعې ته اشاره وي .
- ورځنۍ ، محاورې او متلونه د لساني ګروه د سماجي او لساني رويې او ثقافتي حيثيت غمازي کوي .
- متل يو داسې لنډه اغېزناکـه جملـه ده ، چـې اکـثره پـه اسـتعاري يـا تجنيسي فورم کې وي او په سمه توګـه د يـوې ريښـتينې تجربـې او مشاهدې ځرګندونه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- متل د ولس د متداولې او د ژوند د عملي فلسفې شعر دی .
- په عمومي توګه په متلونو کې پټه کنايي فلسفي مفکوره موجوده وي .
- متلونه او عوامي شاعري داسې ځيزونه دي ، چې موږ ورته خاص طور سره د يو قوم د ژوند ژواک کړه وړه ، دود و دستور ، روغ رنځور ، مړي ژوندي او د عاداتو خصلتونو وغيره وغيره ، چې په مختصرو الفاظو کې به ورته تهذيب ، تمدن ، کلچر او ثقافت ووايو ؛ ايينه دار وي .
- متل ، د مانا او مطلب ډکې وړې وړې خبرې دي ، چې د اوږدې تجربې نه رازېږېدلي وي .
- متلونه زموږ د عوامي ادب په شان ، زموږ شريک قومي ميراث دی . دا د خپلو خوندورو ماناوو او برجستګۍ له برکته د زړه د حال د اظهار لپاره ډېره غوره او خوندناکه ذريعه ده او هم د دې په ذريعه په خبرو کې خوند او زور پيداکېږي ( ۱۴ : ۲۵ ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳ ـ آیا متل له ( مَثَل ) سره اړخ لګوي ؟

متل زموږ د خلکو ، ولس ، فولکور او کولتور هغـه شـتمني ده ، چـې زمـوږ د ژوند سره تړلی تاریخ لري . په دې مانا ، له هغه مهاله ، چې موږ د یوې وګړنۍ ډلې او ولس په توګه او زموږ ژبه د پوهونې او راپوهونې د وسیلې په توګـه ، د نړۍ پرمخ رامنځته شوي یو ، بېلابېلې ژبنۍ ښکارندې او ژبنـې جوړښـتونه هم همدا مهال راپنځیدلي او تر ننه دوام لري .

ځرنګه ، چې زموږ د وګړو او ژبې تاریخ زرګونه کلونـه وړانـدې او زوړ دی ، همداسې د متل لرغونتیا هم زرګونو کلونو ته رسیږي . متل د یوه ژبنـي واحـد په توګه ، زموږ په ژبه کې هغه وخت هم شتون درلود ، چـې زمـوږ سـیمې تـه عربي ژبه او کولتور راغلي نه ول . د متل له څېړنې راته دا خبره ښه جوتیږي ، ځکه په متلونو کې داسې فکرونه شته چې هغه تر اسلام وړانـدې دي . زمـوږ هیواد ته د اسلام راتګ څرګند تاریخ لري ، په داسې حـال کـې ، چـې مـوږ تـر اسلام وړاندې هم ژوند کړی او ژبه مو ژوندۍ وه او په دې توګـه متلونـه هـم کاریدل .

متل که د عربي ژبې (مثل) پښتو شوې بڼه وبولو ، نو دلتـه دا پوښـتنه مختـه راځي، چې ایا متل د یوه ژبني واحد په توګه له هغې وروسته زیږیـدلی ، چـې عربي ژبه سیمې ته راغلې یا دا چې دا جوړښت وړاندې شتون درلود ، خو نوم یې اوښتی یا دا چې متل هماغه لرغـونی نـوم دی ، چـې د دې ژبنـي جوړښـت لپاره کاریدلی دی ؟

د متل په اړه ځینې بحثونه ، چې متل عربي ـ پښتو بولي ، په موږ کې ډېر نوي دي او که ډېر لرغوني هم وي ، هغه وخت رامنځته شوي ، چې سیمې ته عـربي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه راننوتي او زموږ په ژبو يې مستقيم او نامستقيم اغېز کړی دی . دلته دا خبره بيا راغبرگوم ، چې د يوه ژبني جوړښت په توگه د متل تاريخ ، زموږ په سيمه کې تر عربي ژبې لرغونی دی .

زموږ ستونزه داده ، چې په دې برخه کې شواهد او اسناد نه لرو ، چې متل ته يې په لرغونو وختونو کې کوم نوم ورکړی وو ، په سيمه کې تر اسلام او عربي ژبې وړاندې اړوند اسناد زموږ په لاس کې نشته ، له دې کبله اړ يو مسايل د عربي ژبې تر اغېز لاندې وسپړو . که متل زموږ د پښتو ژبې او يا نورو اريايي ژبو کلمه وي ، په اړه يې سمه څېړنه شوې نه ده ، خو دا چې دا کلمه د عربي (مثل) پښتو شوې بڼه وبولو بېلابېلې څېړنې شوې دي.

د متل کلمه په همدې شکل (فرهنگ عميد) رااخيستې ده ، چې عربي هم راته نه ښکاري ، خو دغې کلمې باندې چا ډېر بحث کړی نه دی . د (افسانه ، لنډ داستان مثل ، شوخه خبره) ماناوې يې ورته ليکلې دي . په پورتنيو ماناوو کې يو څه ليدل کېږي ، هغه دا چې ډېر متلونه يوه لنډه کيسه ، پېښه او داستان لري ، چې په پورتنيو ماناوو کې شته ، له همدې کبله دغې ژبني جوړښت ته متل ويل شوی دی .

متل ته په عربي کې مثل هم په دې اعتبار وايي ، چې د دويم شي حال د اول سره مشابه کېږي ، يعنې د استعمال ځای يې په اصل مورد کې قياسېږي (۸ : ۳۲) .

په پښتو کې متل عين هغه شي ته وايي ، چې په عربي يې مثل بولي ، ښايي چې متل له عربي څخه مفغن شوی وي . ځکه چې کله په تفغين کې (ث) په (ت) بدلېږي ، لکه ميراث چې ميرات شو . د عربي لغت پوهان وايي ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثل او نظير او دا کليمه له عربي مثـل څخه جوړه شوې او پر ټولو حکمتو او لنډو کيسو او اساطيرو اطلاق شوه( ۷ : ۱۸ ، ۱۹ ) .
متل او مثل د مفهوم ، مضمون او مانا له مخې يو دي ، چې په ټولـو خلکـو او قومونو کې شته ، د هغوی د ځانګړو پوهنو ، ژونـد پېښـو او تجربـو محصـول وي ، خـو مـوږ لـه نيکونـو نيکونـو رانيـولې د ژونـد ډېـر کولتـوري پړاوونـه درلودلي دي ، چې ټولو مادي او مانيزو شيانو ته مو خپل خپـل نومونـه لـرلي دي . متل او مثل هم همداسې درواخله (۱۰ : ۶۱) .
د متل لفظ د عربي د لفظ مَثَل سره تعلق لري . په سامي ژبو کې (ت) په (ث) بدلېږي لکه واخلئ (يافث > يافت) خو دا بدلون په عربي ژبه کې عام نـه دی ، ما په عربي کې د متل لفظ د (متل) شکل کې چېرته هم نه دی ليدلی . د عـرب (م ، ث ، ل) د مادې نه د عربي د قاعدو لانـدې ګـڼ اسـتقامات کـولی شي . د دغې مادې لفظ مِثل هم ځينې وخت د مَثَل مانا ورکوي او جمع يـې امثـال ده . په پښتو کې د متل جمع د عربي قاعدې لاندې امتال نه راځي ، بلکـې متلونـه راځي ( ۱۳ : ۳۱ ) .
مِثل ، مثال يا مثلً د عربي ژبې لفظ دی . دا لفظ په قران شريـف کـې څـو څـو ځايه او څو څو وارې راغلی دی . چېرته مثلاً او چېرتـه د جمعـې لپـاره امثـال ليکل شوی دی . مثل په اصل کې داسې قسم خبرې ته وايي ، چې هغـه د بلـې خبرې په شان وي يا د هغې خبرې په رنګ ، مانا او مطلب څرګندوي يا يو کـار ، کيسه او پېښه د بل کار يا بلې پېښې سره تړي . په ځينې ځايونو کـې د مثـل بيانولو يا وړاندې کولو لپاره د (ضرب) لفظ استعمالېږي . دا لفظ هم لـه عـربي ژبې او قران شريف نه اخيستل شوی دی ، لکه: ضرب‌الله مثلاً فمثله صـفوان ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



و مثلا الذين ينفقون (البقره) . داسې نورو ډېرو آيتونو کې دا لفظ بيان شوی دی او هم داسې دا لفظ د عربي نه نورو ژبو نقل کړی ، خپل کړی او اخيستی دی . په اردو ، پارسي او پښتو ژبو کې دا لفظ هم په دې ماناوو او مطلب سره استعمالېږي ، لکه : ضرب الامثال ، مثلاً ، مثال کے طور ، د مثال په توګه او داسې نور .

په پښتو ژبه کې د مثال لفظ هم د دې مطلب لپاره استعمالېږي ، خو جمع يې لکه د عربي د قاعدې لاندې امثال نه راځي ، بلکې مثالونه ويل او ليکل کېږي . د دې سره سره د پښتو ژبې يو بل توری (متل) زموږ په ورځني ژوند کې ډېر استعمالېږي . متل هم د مثال مانا او مطلب ورکوي يا ښکاره کوي ، مالومېږي داسې ، چې متل هم د مثل نه جوړ شوی او اخيستی شوی دی ، په زړه عربي ژبه کې د (ث) لفظ په (ت) ويل کېږي . نن هم د عربو په ډېرو علاقايي ژبو کې (ث) په (ت) ويل کېږي . لکه : د عربي يو نوم (ابن هيثم) دی ، خو په وينا کې (ابن هيتم) ويل کېږي يا د عربي بل لفظ ، چې په ليک کې (الاثين) دی ، خو په وينا کې (الاتين) ويل کېږي ، چې مانا يې (دوه) ده . داسې (الثلاثه) هم په (ث) ليکل کېږي ، خو په وينا کې (التلاته) ويل کېږي ، چې مانا يې (درې) ده .

دې د عربي لفظونو ته چې پام وکړو ، نو د دې نه دا مالومېږي ، چې پخوانۍ زمانه کې د (مثل) لفظ نه په پښتو کې (متل) جوړ شوی دی ، چې مانا او مطلب يې هوبهو د (متل) لفظ سره تړون خوري ، خو د دې جمعې د (امثال) پرځای (متلونه) جوړ شول .

(۲۳ : ۱۹ ، ۲۰ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهنگ عمید د ( مَثَل ) مانا داسې لیکي :

ورته ، صفت ، حدیث ، قصه ، مشهور قول ، ضرب المثل ( ۱۵ : ۲۱۷۹ ) .

یاد فرهنگ د (مُثُل) کلمې ته لیکي : جمع مثال ( ۱۵ : ۲۱۷۹ ) .

د (مِثال) کلمه بیا داسې مانا کوي : اندازه ، مقدار ، مانند ، شبیه [ فرمان ، حکم قصاص ] ( ۱۵ : ۲۱۷۸ ) .

د متل ( مَ تَ ) د کلمې مانا یاد فرهنگ داسې کوي :

افسانه ، لنډ داستان ، مثل ، هغه خبره چې د شوخۍ له مخې وویل شي ( ۱۵ : ۲۱۷۳) .

زاهد پښتو ـ پښتو سیند لیکي :

متل ( مَ تَ ) : یو لنډه جمله ، چې ستر کولتوري او علمي ارزښت پکې پروت وي .

( ۹ : ۹۴۲ )

همدارنګه د (مَثَل) کلمې ته لیکي : متل ، مشهور قول ، حکایت ( ۹ : ۹۴۴ ) .

ضرب المَثل ته لیکي : مثل وهنه ، متل اړونه ، متل ( ۹ : ۶۷۸ ) .

**۴ ـ د متلونو ډولونه :**

متلونه د شکل له مخې په دوو برخو ویشل کېږي :

۴ ـ ۱ ـ منظوم :

دا هغه متلونه دي ، چې نظمي ځانګړنې لري ، لکه :

په زړه صاف ، په خوله خلاف .

چې غواړې ، پرې واوړې .

ډېره یوه نېکمرغه ، یوه بدمرغه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه عمل ، د لارې مل .

چې هوس دی ، دومره بس دی .

چې نه دې وي له موره ، ورته مه وایه چې وروره .

چې مړ شو ، هغه پړ شو .

چې لوی غاپي ، کوچنی تراپي .

چې ژرنده يې گرځي ، بلا يې پرځي .

چې سبا شي غم پيدا شي ، چې بېگا شي غم پناه شي .

۴ ـ ۲ ـ منثور :

دا هغه متلونه دي ، چې نثري ځانگړنې لري ، لکه :

چې ښه وي ، بد دې اور واخلي .

په دسترخوان هر مچ زمری دی .

په سپي د خاوند زړه بدېږي .

په ډېرو ليونی خوښ وي .

په پټه خوله څه نه کېږي .

په بد زوی ، ښه پلار يادېږي .

په خپله ډوډۍ موړ ، په کلي نازولی .

په پوښتنه سړی مکې ته ځي .

پردۍ ورکړه ، نيمه خوا ده .

بد په بلا اخته ښه دی .

بربنډ له اوبو نه ډارېږي .

پردی غم تر واورو سوړ دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی اروانښاد دوست شینواري په دې اړه ګټور مالومات وړاندې کوي او متلونه په عام ډول په دوو برخو ویشي ، منثور او منظوم .

الف ـ منظوم متلونه : دا ډول متلونه د یوه بیت حکم لري ، چې هم د قافیې او هم د سیلابونو له مخې تر یوې اندازې مقید او خاص اهنګ او تال لري ، لکه:

بـد بـه دې پــه زړه لـرم
سلام به دې په خوله لرم

×××

که په کور کې غوره مومي
لیونی بـه غرو تـه درومي

×××

سـل روپـۍ پـورکـــړه
دا ختر شپه پـه کورکړه

ب ـ منثور متلونه : دا هغه متلونه دي ، چې د سیلابونو په شمیر او د قافیې په مراعات مقید نه دي او عروضي اساس نه لري ، بلکې مسجع نثر ورته ویـلای شو دا په خپل منځ کې په نحوي لحاظ په دوه ډوله دي :

الف ـ چې بشپړه جمله وي ، مسند او مسندالیه یعني فعل او فاعل یا مبتـدا او خــبر ولــري ، دې تــه پــه انګلیسيــ کــې (Proverb) او پـــه روسي کــې (پسلوویڅه) ویل کېږي . دا هغه مستعاره بشپړه مقوله ده ، چې کنـایي مفهـوم افاده کوي او غالباً اهنګ لرونکی (سندریز) فورم لري ، لکه :

که غر لوړ دی ـ پر سر یې لار ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب ـ هغه ، چې بشپـړه جمله نه وي او په نحوي لحاظ د کلام يـو مهـم جـز ونـه لري ، خـو نـور د متـل تـر تعريـف لانـدې راځـي ، دې تـه پـه انګليسي ـ کـې (Saying) او په روسي کې (پګه وورګه) ويل کېږي ، لکه :

زه ستا دارو ـ ته زما دارو .

اوړه دې پـه اوړه ـ منت دې پـه څه .

خپل عمل ـ د لارې مل .

خپلـه وطنه ـ ګلـه وطنه .

دغه ډول تـه ځينې خلک محاوره وايي ، خو د پښتو او دري د ولسي ادب پــه کتابونو کې عموماً د متل پـه نامه ياد شوي او پـه کـوم تـوپير ورتــه نــه دي کتل شوي . متل کله يوه جمله وي ، لکه : د غله ځای په غره کې هـم نـه شي . کله دوه جملې وي :

ړانده ته مه ګډېږه ـ کاڼه ته ډول مه وهه .

کله چې متل له دوو جملو څخه جوړ وي ، د دواړو جملو تر منځه کله د عطـف مانيز ارتباط موجود وي (د عطف ادات حذفېږي) لکه :

کوتک وهه د ورور لپاره ـ خبره کوه د خدای (ج) لپاره .

يا داسې نور ارتباطونه سره لري ، چې دويمه غالباً د لومړي تابع جمله وي . ډېر لږ متلونه له درېيو جملو هم جوړوي ، لکه :

(د کونډې کره زوی نه وو ، چې زوی يې پيدا شو، مرګو ګډه شوه) (۷ : ۶۰ ـ ۶۲) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارواښاد شینواري د متلونو په ویشنه کې د منثورو متلونو ، د دویم ډول په اړه ، چې په انګلیسي یې (saying) بللي ، ښاغلی عبدالکریم عامر په خپل اثر (پښتو محاورې) کې د (مقولې) تر سرلیک لاندې داسې لیکي :

مقوله د عربي ژبې له قول څخه ده ، چې لغوي مانا یې خبره او وینا ده . په اصطلاح کې هغه جملې یا فقرې ته ویل کېږي ، چې د یو ښه ناصحانه رنګ له امله خلکو خوښه کړې وي . دغه مقوله د متل لپاره هم استعمالېږي. له دې مقولې څخه په اصطلاح کې (مقاله) هم وتلې ده ، چې د ویلو په مانا ده . د مقولې لفظونه خپله حقیقي مانا څرګندوي او په دې کې د زوروالي شرط هم لازمي نه وي . یو څو بېلګې یې دا دي :

۱ . ته پوه شوې ، ستا ایمان .

۲ . ته پوه شوې ، ستا کار .

که د مقولې جوړښت ته وکتل شي ، نو د متل لور ته ذهن ځي . متل هم په لومړي سر کې یو قول وي ، چې پکې پوهه ، تجربه او مشاهده خپل کار کوي ، وروسته یې استعمال عام شي ، د ضرب المثل رنګ یاني په خبرو کې د مثالونو په رنګ راوړل کېږي.

پورتني مثالونه هم د متلونو ځای ته رسي ، مقوله هغه قول دی ، چې پکې هغه د متل لوازمات خپل کار کوي د خولې وتلې هره خبره مقوله ده ، خو هغه مقولې د عام ذهنونو او خولو برخه ګرځي . کومې ، چې څه دانایي ، پوهه ، تجربه او مشاهده ولري. د ژبې دغه څېړل شوي ټول اصطلاحات په بنسټیزه توګه پر لغت ولاړ دي ، له لغته پس دغه ټول اړخونه زېږي . که لغت یاني د یو شي لپاره مخصوص نوم نه وي ، نو دا اړخونه مخته نه راځي. د عام خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژبې زور پر خواصو باندې ډېر وي ، ځکه چې استعمال يې ډېر وي ، نو خواص د عوامو ژبه هر کله په خپلو ويناوو کې ځايوي . دغه ذکر شوی رنګ که د عامو يا د خاصو له خوا وي ، خو په ټولنه کې د عام استعمال ځای ولري ، د خپل مفهوم شهرت او لوړوالي له امله محاوره هم د متل رنګ لرلای شي ، نو مقوله هم په لومړي سر کې يو قول وي ، وروسته هغه د متل رنګ واخلي ، که داسې ووايو ، چې د متل بنسټ پر مقوله ولاړ دی ، بې ځايه به نه وي . دلته به يو څو متلونه رانقل کړو :

چې سر وي ، خولۍ ډېرې دي .

خپله لاسه ، ګله لاسه .

دغه بېلګې د متلونو دي ، خو په لومړي سر کې د خولۍ ډېرښت او د سر د خوندي پاتې کېدو ليدنې (مشاهدې) او تجربې دغه خبره خولې ته راوړې ده ، چې اوله يې د مقولې رنګ دی ، ياني خولۍ ډېرې دي د سر پاتې کېده ضروري دي يا خولۍ شته د سر سلامتي غواړه يا هغه د متل په رنګ کې هم مقوله وي . دغه د يو قول او خبرې ډېر استعمال د متل رنګ واخلي . د مقولې د خوند ځای دا دی ، چې خپله حقيقي مانا ورکوي ، د جوړښت په اعتبار له دوو تورو څخه وي ، پر مخ يې حد نه دی ټاکل شوی. په پښتو ژبه کې ډېرې مقولې شته ، چې خپل مانيز رنګ له محاورې او نورو اصطلاحاتو څخه بېلوي او خپل ځان ته يو جلا رنګ او مانا لري ، دوه بېلګې يې يادې شوې دي (۱۴ : ۳۱ ، ۳۲) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵ ـ په متلونو کې د دودونو غبرګون :**

ژبه د وګړو ترمنځ د پوهونې او راوپوهونې وسیله ده ، ژبه د انسان د مانویاتو مادي شکل دی . د ژبې بنسټ (غږ) دی ، چې دا خپله یوه فزیکي ښکارنده او ماده ده.

ادب په ژبه پورې تړلی او داسې ویل کېږي ، چې ژبه د ادب لپاره وسیله ده ، خو داسې وسیله ده ، چې نشتون یې ادب نشت کولای شي . د ادب د نورو توکو د ځرګندونې . برسېرونې او نورو وګړو او ټولنې ته د رسونې ګټوره او بنسټیزه وسیله همدا ژبه ده ، چې نالیدونکي ځواکونه خلکو ته رسولای شي . ښایي د سر په سترګو یې نه ګوري ، خو د زړه په سترګو یې لیدای شي .

متلونه د فولکلوریک ، ولسي ، ګړني ، ژبني او کلیوال ادب مهم توکي دي ، چې د یوې ټولنې د کولتوري یون لوړې او ژورې ښیي . د دې لپاره د همدې اثر په بېلابېلو پانو کې کې ګڼ داسې نظرونه لیدای شئ ، چې متلونه یې د ادب برخه بللې ده .

د متلونو په پېژندنه کې دا خبره ډېره ویل کېږي ، چې متلونه د یوې ټولنې او وګړو د ژوند هینداره ده . د هغوی رواني او نفسیاتي غوښتنې ، معیارونه او دودونه پکې خوندي شوي دي . همدا د ډېرو فولکلوریکو ادبي ژانرونو ځانګړنه ده .

متلونه د یوې ټولنې او وګړو هغه ژبنۍ پانګه ده ، چې د یوې ټولنې د نورو ډېرو ځانګړنو ترڅنګ یې دودونه هم خوندي کړي دي . دا لړۍ یواځې په متل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نه بلکې په نورو ادبي ډولونو کې هم غځول شوې ده او ادب د ارزښتونو او معیارونو د خوندیتوب غوره وسیله ګرځېدلې ده .

دود تر ډېره عملي او اجرایوي بڼه لري ، په دې مانا ، چې دود یو داسې ارزښت دی چې په عمل کې ترسره کېږي او متلونه بیا د همدې کړو وړو ځرګندوی دي . د بېلګې په توګه : ډېر عمره انسان ته سلام اچول زموږ دود او ځواب یې هم زموږ دود دی . په لغمان ولایت کې د کال په ځانګړي وخت کې د ولس له خوا ویالې پاکولو ته (کتېر) وایي ، چې دا یو دود دی ، همدارنګه نور ډېر بېلابېل دودونه ، چې موږ یې په ټولنه کې لرو .

مازیګرۍ دی ښېرې مه کړه

ته به د نار ښېرې کوې رښتیا به شینه

پورتنۍ لنډۍ د پښتو ولسي ادب ډول او شعر دی ، خو ګورو ، چې څنګه یې یو دود خوندي کړی . زموږ په ټولنه کې همدا اوس دود دی ، چې میندې هېڅکله په مازیګر کې خپلو اولادونو ته ښېرا نه کوي ، ځکه ویریږي ، چې قبولې نه شي ، د خلکو عقیده داده ، چې په دې وخت کې یې د قبلیدو شونتیا ډېره ده . که څوک غواړي ښېرا یې قبولې شي ، نو همدې وخت کې یې کوي . په پورتنۍ لنډۍ کې د دود ترڅنګ کرکه هم شته .

همدارنګه :

لاس دې تر زنې لاندې مه ږده !

ستا به عادت وي ما به ورک کړې له وطنه

په پورتنۍ لنډۍ کې هم د دې ترڅنګ ، چې محاوره یا ګړنه او کرکه خوندي ده . زموږ په ټولنه کې یو دود هم شته ، هاغه دا چې که څوک کوم ځای کې لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر زني ناست وي ، نو بل يې منع کوي ، چې داسې مه کښېنه ښه پايله نه لري يا پلار دې مړ کېږي .

د متلونو ويل په خپله هم زموږ د ټولنې او خلکو دود دی ، چې د وينا او ګړېدلو پر وخت يې کاروي .

د پورتنيو بېلګو په څېر ، د ولسي ادب ګڼ شمېر داسې ډولونه شته او حتا په اوسني شعر کې هم دا لړۍ روانه ده ، چې زموږ شاعرانو پکې خپل دودونه خوندي کړي دي. اوس يو څو داسې متلونه هم ګورو :

- مشر د کشر پل دی :

کشران له مشرانو زده کړه کوي ، د کوچني يا کشر د ژوند يو پړاو داسې دی ، چې له مشرانو او نورو اخيستنه يا کاپي کوي . ډېر ځله زوی يا کوچنی هغه کارونه کوي يا يې تکراروي ، چې پلار يې کړي يا يې د کورنۍ نورو مشرانو کړي دي . دلته کوم دود خوندي شوی دی ؟

که وګورو ، پښتانه مشران کوم نيمګړی کار يا داسې ، چې بد ورته ښکاري ، د خپلو کشرانو او کوچنيانو په مخ کې نه کوي او وېره لري ، چې ګواکې هغه به يې هم زده او تکرار کړي او فکر کوي ، چې ( مشر د کشر پل دی) چې دا يو دود دی .

- ګټه په تاوان کېږي :

د پورتني متل له بېلابېلو کارونو څخه يوه داسې دی ، چې که څوک خاني او ملکي کوي بايد ډېره او ډنده ولري . د خلکو سره د ستونزې پر وخت منډه ووهي ، له خپلو ګاونډيانو او کليوالو سره ښه چلند وکړي او ... اوس که وګورو همدې متل ته په کتو هغوی چې لوړې څوکۍ غواړي . دولت غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ... نو دايې په ځان منلې وي ، چې تاوان به کوي ، چې ګټه ترلاسه کړي . که ځان ولسي جرګې ته کانديدوي ، نو خلکو پسې به منډې وهي ، خپل ملګري به خوښ ساتي ، خلکو ته به ډوډۍ او چايونه ورکوي او نور خدمتونه به يې کوي ، چې دا ټول د شخص لپاره تاوان دی ، چې په پايله کې يې ګټه هماغه د ده وروستۍ موخه يا د ولسي جرګې وکالت او استازيتوب دی. اوس دا زموږ په ټولنه کې دود دی ، چې څوک ګټه غواړي ، نو تاوانونو ته غاړه ږدي .

- له کلي وځه ، خو له نرخه مه وځه :

دا هم يو پښتو متل دی ، هغه وخت کارېږي ، چې څوک غواړي مقابل لوری ، ټولنيزو آرونو ، معيارونو قوانينو او پرنسيپونو ته متوجه کړي . اوس دود پکې څه شی دی ؟

موږ همداسې متلونو او په دې کې پټ ارزښتونو ته په کتو ، له خپل کليوال او ګاونډي سره هغه کوو ، چې څه دود او دستور وي او دا زموږ دود ګرځېدلی دی .

- پردی کټ تر نيمو شپو وي :

پورتني متل هم ښايي خپله فلسفه ولري ، خو موږ يې څه وخت کاروو ؟ کله مو چې له چا يو څه راوړي وي ، نو هر وخت چې د هغه اړتيا شوه ، بېرته يې وړي . دې ته نه ګوري ، چې زموږ کار پرې خرابېږي ، بلکې خپل کار جوړوي او دا يې حق هم دی . دود پکې څه دی ؟

له يوې خوا ، له چا راوړی يا پور شوی څيز ، پر وخت ورکوو او ځان يې پوروړی بولو . دا زموږ دود دی ، چې دغو اشخاصو سره بايد پر وخت عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو ، څه وخت چې هغه وغواړي څيز يې ورکوو . بلخوا د دې متل پټ راز په دې کې دی ، چې موږ بايد خپل اړتياوړ توکي او نور ، چې د ژوند په بېلابېلو برخو کې ورته اړمن يو خپله پوره کړو او له بل نه يې ونه غواړو ، ځکه هغه رانه وړي . زموږ دود دادی ، چې تر ډېره هڅه کوو ، خپل اړتياوړ توکي ولرو او بل ته اړ نه شو .

- اخښي چې جيب تړلی وي ، په خواښې او ښينې يې قدر خوړلی وي(١٦ : ١) :

زموږ په ټولنه کې کوژده او واده د ټولنيز ژوند بېلابېل دودونه او پړاوونه دي . کوژده او واده ، د دوو پرديو انسانانو ، يو ځوان او يوې پېغلې او دوو کورنيو ، کلو او قومونو ترمنځ د نږديوالي لامل ګرځي . په کوژده او واده سره ، يو ځوان او يوه پېغله نوي خپلوان پيدا کوي . اوښې ، خواښې ، خسر ، ښينه ... خو د هلک لپاره د دې نويو خپلوانو او نجلۍ خوښ ساتل او د هغوی رضايت ترلاسه کول زموږ دود دی .

هلک اړ دی د نجلۍ کورنۍ او د کورنۍ غړي ، په ځانګړې توګه خواښې ، خسر اوښې او ښينه له ځانه راضي کړي ، چې د ده راتلونکې ميرمن خوښه شي . دا کار تر واده مخکې ډېر پېښېږي . دا داسې وخت وي ، چې هلک خپلې خسرګنۍ ته ډېر اړ وي ، وېره لري ، چې د واده بار پرې درون نه کړي . له واده وروسته بيا دا فشارونه لږېږي . دا موضوع په هغه وخت کې ، چې هلک غريب وي ، محسوسېږي ، خو د بډای لپاره بيا ياده ستونزه نه وي .

پورتني متل زموږ د ټولنې او خلکو دا دود خوندي کړی ، چې کله هلک کوژده وکړي بيا تر واده مخکې او حتا تر هغې وروسته په خپله خسرګنۍ ډېر مهربانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په هغوی لګښت کوي . هغـوی لـه همـدې لارې خـوښ سـاتي ، چـې دا پـه نامستقیم ډول د ده د راتلونکې میرمنې خوښي ده . زموږ میرمنې هم همداسـې دي ، که چېرته یې مېره د دې پلارګنۍ خوښه وساتي دا پرې خوښېږي . د مېره لپاره دا مهمه ده ، چې میرمن یې خوښه اوسي . د زوم قدر هغه وخت ډېر وي ، چې د خواښې ، اوښي او ښیني زړه خـوښ وسـاتي ، د خسرـګنۍ مهمـه برخـه ښځینه ده نارینه هم خوښ سـاتل پـه کـار دي خـو د ښـځو ونـډه د کـوژدې او ودونو په چارو کې ډېره غوښنه ده . که چېرته زوم یـا ځـوان د پـورتني دود پـر وړاندې حرکت وکړ او د خسرګنۍ په ځانګړې توګه ، خواښې اوښـي او ښـیني زړه یې ونه ساته ، بیا یې قدر او درناوی هم نشته . په پورتني متل کـې همـدا دود خوندي دی ، هغه دود ، چې زموږ د ټولنې زومان ورسره مخ دي ، هغه دود چې خواښې ، اوښی او ښینه یې له زومانو سره پالي .

- اختر چې تېر شي ، نکریزې په دیوال وتپه !

مـوږ د اسـلامي ښسـتونو لـه مخـې دوه اخترونـه لمـانځو ، کـوچنی او لـوی . اخترونه دوه ستري کلنۍ خوښۍ دي چې ډله ییز او عمومي رنګ لـري ، ټـول مسلمانان په دې کې ګډون لري .

اختر سره د یو دود په توګه ، نور دودونه تړلي دي یا دا دود جلا جلا برخې لري . یوه برخه یې داده ، چې ښځې او نجونې په اختر کې نکریـزې وهـي ، لاسـونه او پښـې سرې کـوي . دا زمـوږ د ټـولنې دود دی . د اخـتر ترڅنـګ پـه نـورو خوښیو ، لکه : کوژده او واده کې هم دا کار کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه څرنګه ، چې د خوراک اړتیا د ولګې پر وخت وي او په مـوړ ځـان څـوک څه نه خوري ، دغسې د نکریزو وخت هم اختـر او نـورې خوښـۍ دي ، لـه دې پرته بې اړتیا څوک نکریزې نه وهي ، بې وخته نکریزې په دیوال تپي .

- بنیادم یو نور ، جامه یې دوه نوره ( ١٦ : ١١ ) :

بنیادم ، الله ج او قرانکریم مکرم بللـی دی ، بنیـادم د الله ج خلقـت او نـور دی . ټول بنیادمان ، چې په هره جغرافیه کې اوسېږي ، له یادو ځانګړنو برخمن دي . بنیادمان ټول یو ډول نړۍ ته راځي ، په جوړښت کې یـې تـوپیر نـه وي ، خـو ځینې څیزونه له بېلابېلو ټولنو اخلي ، چې یوه یې جامه یا کالي دي .
په پورتني متل کې که د (جامه) له کلمې د کالیو او لباس مانا اخلو ، هغه چې موږ یې اغوندو او د ځان پټولو لپاره یې کاروو ، دا د بنیادم لپاره دوه نوره دي . جامې اغوستل زموږ دود دی .
که له (جامه) نه د اخلاقو مانا اخلو او د پورتني متل موخه دا ګڼو ، چې اخلاق تر بنیادمیت وروسته مهم او دوه نوره دي ، نو بیاهم زموږ د خلکو دا دود دی ، چې نېک او غوره اخلاق خوښوي او هر سړی هلته درون او قـدرمن وي ، چـې نېک اخلاق ولري . دا زموږ دود دی ، چې په خپله هم نېک اخلاق کـوو او لـه نورو یې هم غواړو .

- بې سته څوک جنت ته نه ځي :

ست کول زموږ په ټولنه کې دود دی . ست څه ته وایي ؟
له کندهاره یو راغلي شخص ته په کابل کې د هغه یو ملګری وایي ، چې راځه ! نن شپه له ماسره لاړ شه . دغسې غوښتنې ته ست وایو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دسترخوان ناست میلمه ته کوربه وایي ، ډوډۍ وخوره ! ست مه کوه . دا په داسې حال یا هغه وخت کې چې کوربه فکر کوي ، مېلمه موړ شوی نه دی .
ست یوه جدي غوښتنه نه ده ، خو غیر واقعي یا دروغ هم نه ده . موږ چې کله چانه غوښتنه کوو ، چې راځه! له ما سره لاړ شه یا له ماسره شپه وکړه ، هغه پرې خوښېږي او وایي ، چې پلاني ماته ست وکړ .

- پرهېز له سلو درملو ښه دی :

کله چې څوک ناروغ شي ، بیا درمل خوري ، خو د ناروغۍ د مخنیوي او شاتګ لپاره ښه لاره پرهېز او د هغو څیزونو نه خوړل دي ، چې ناروغي ډېروي .
د ناروغیو د درملنې لپاره درمل خوړل زموږ دود دی ، خو پورتنی متل پرهېز تر درمل خوړلو نه سل ځله غوره بولي . پرهېز کول هم زموږ د ټولنې بل دود دی .

- په ډېرو وهلی ښه دی ، په یوه ملامت نه :

په پورتني متل کې کوم دود پروت دی ؟
په وهلو کې د انسان بدن ضربهویني ، ټپي کېږي او تر دې ، چې د زیان کېدو ګواښ هم پکې شته او بیا چې دا وهل د ډېرو خلکو په وسیله وي . څرګنده ده ، چې ځاني او روغتیایي زیان یې هم ډېر وي . زموږ خلک دا هرڅه مني ، خو ګرمتیا یا ملامتي ورته تر دې درنه او سخته ښکاري .
دا اوس زموږ دود دی ، چې په یو کار کې هر څومره زیان ګورو ، راته سپک ښکاري خو ملامتي راته درنه ښکاري او ځان د خلکو له ملامتۍ ساتو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پړ مې کړه ، مړ مې کړه :

د ګرمتیا او پړتیا په اړه وړاندې هم وغږېدو . زموږ خلک هر ډول سزا منلو تـه هغه وخت چمتو کېږي ، چې پړ یا ګرم شي . له هغې پرته هېڅ ډول زیـان منلـو ته چمتو نه وي .

موږ د بېلابېلو ټولنیزو پېښو پر وخت دا دود پالو ، چې که چا زموږ پر وړاندې یو ناوړه عمل وکړ ، نو هغه د یوې جرګې یا په انفرادي توګه ګـرم او پـړ کـړو ، هغه ته د بېلابېلو دلیلونو په وسیله قناعت ورکوو ، چې ګواکې پړ دی . پـړ یـا ګرم وګړي هم دا دود پالي چې که په یوه موضوع کې ګرم شي ، بیـا هـر زیـان ته چمتو وي ، که هغه مرګ هم وي .

- په اوړي یې ګټه ، په ژمي یې ښته :

زموږ د هېواد په ډېرو سیمو کې اوړی د کرلو او رېبلو وخـت وي . پـه همـدې وخت کې بېلابېل فصلونه کرل کېږي او کرګر خپل حاصـلات لاسـته راوړي . په ژمي کې عام فصلونه نه کېـږي . پـه دې وخـت کـې هغـه حاصـلات لګـول کېږي ، چې په اوړي لاسته راغلي دي . زموږ په خلکو کـې دا اوس دود دی ، چې په اوړي کار کوي ځمکې کري او د ژمي لګښتونه برابروي .

- په خوارۍ څوک بد نه ایسي ، په بې کارۍ بد ایسي ( ۱٦ : ۲۰ ) :

په پورتني متل کوم دود پروت دی ؟

زموږ خلک کار خوښوي ، هغه انسان خوښوي ، چې په کـار بوخـت وي ، کـه څه هم ګټه یې ځان ته وي ، داهم یو دود دی . د دې ترځنګ له بې کارۍ کرکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي ، بې کاري ورته د سلو بلاوو مور ښکاري او هغه خلکو ته بد ګوري ، چې بې كاره وي داهم دود دی .

- په ژرنده کې دې شپه شه ، زوم کره دې مه شه :

په ژرنده کې شپه تېرول ، اسانه کار نه دی . هلته شپه په دې مانا ده ، چې شپه په وېښه تېره شي ، نه په خوب. په ژرنده کې د ژرندې د ماشينونو غږونه وي ، د خلکو شور ما شور وي . د غنمو او جوارو بورۍ وي ، د اوړو ګردونه او دوړې وي ، خو يوې خوابښې ، خسر ... ته د زوم تر کوره ښه ده .
زموږ خلک د یوه دود په توګه دا پالي او په زوم باندې ډېر حساب نه کوي . دا خبره او دود تر ډېره عام دی ځینې زومان کېداشي داسې نه وي .

- څو کوچنی ونه ژاړي ، مور تی نه ورکوي :

کوچنی خبرې کولای نه شي . که څه غواړي ، نو د بېلابېلو غږونو او ژړا په وسیله يې غواړي . هر کله ، چې کوچنی وژاړي ، مور یې پوهېږي ، چې کوچنی څه غواړي یا څه ستونزه لري .
که څه هم پورتنی متل د کارونې بېلابېل ځایونه لري ، خو په پورتني شکل کې یې څو دودونه خوندي کړي دي . یو دا چې کله زموږ د ټولنې کوچنی ارام پروت وي او نه ژاړي ، نو مور تی هم نه ورکوي . بل دا چې کله کوچنی وژاړي او مور وپوهوي ، چې وګی یم ، نو مور تی ورکوی ، چې دواړه دودونه شته .

- څه وهلی ، څه پورې وهلی :

وهل يو داسې عمل دی ، چې په هغې کې انسان ډېر کړاو او رنځ ويني ، بدني او روحي زيان ويني ، خو پورې وهل ، ټېله کول يا ديکه کول ، بيا داسې عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی ، چې د وهلو په پرتله سپک او ډېر زیان پر سړي نه راځي ، خو زموږ خلکو ته وهل او پورې وهل یوه مانا لري . دا د دود په توګه پالي ، که څوک د بل پـه وسیله پورې وهل شي هم د وهلو په توګه ورته ګوري .

- حاجي په مکه کې لټوه ، چرسي په تکیه کې :

حج کول او بیا مکې ته تلل زموږ دود دی ، چې اسلامي سرچینـه لـري . د دې ترڅنګ بل دود هم د چرسو څښل دي . تکیه په ننګرهار کې یوه سیمه ده ، چې چرس پکې ډېر کرل کېږي او چرسیان هماڵته چرس څښي .

د دې متل موخه داده ، چې د هر سړي کار و روزګار ته په کتـو ، د هغـه ځـای هم موندلای شو ؛ پوه او عالم بـه چېرتـه پـه پوهنتـون او ښـوونځی کـې وي او جاهل به چېرته په جواري ، غلا او وژلو بوخت وي .

- حیادار حیا کوله ، بې حیا ویل له ما څخه ویرېږي ( ۱٦ : ۳۴ ) :

حیـا کـول او شرم کـول زمـوږ د ټـولنې عـام دود دی ، چـې د اسـلامي بنسـټ ترڅنګ افغاني او پښتني هم لري . زموږ ښځینه او نارینـه ټـول د حیـا او شرم دود پالي . حیا د ګټنې بېلابېل ځایونه لري .

- حیوان چې بېکاره شي ، هم خوړل کېږي هم خرڅېږي ( ۱٦ : ۳۴ ) :

حیوان که غوا وي که غویی یا بل څه ، تر هغې ساتل کېـږي او لګښـت پـرې کېږي چې کار کوي ، یا شودې کوي یا یوی او کولبـه ، خـو کـه دانـه کـوي ، زموږ دود دا دی چې یا یې حلالوو او خورو یې او یا یـې پلـورو ، چـې پـه دې وسیله ځان له یو بېکاره او بې ګټې حیوان خلاص کړو .

- چټه چې څوان ووینې ، صورت حیران ووینې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورتنی متل هم هغه څه بیانوي ، چې زموږ په ټولنه کې دود دی . دا دود داسې دی چې کله هم یوه پېغله یو ځوان ووینې ، نو هیجاني کېږي . د مینې او عشق سیندونه یې څپڅپانده کېږي . له ځوان سره د یوځای کېدو هیلې یې را ژوندۍ کېږي . ځوان هم همداسې دی . دی هم د پېغلو په لیدو هغه حالت ته ځي ، چې پېغله ځي .

- چې غوښه وسوځي ، هم له پیتو نه ښه ده :

دا متل زموږ دا دود بیانوي ، چې زموږ خلک غوښه ډېره خوښوي او ډېره یې خوري . که غوښه سوځېدلې هم وي ، خو تر پیتو یې ورته ارزښت ډېر وي . یاد متل بیا په کنایوي مانا په بېلابېلو ځایونو کې کارېږي .

- چې ډب نه وي ، هلته ادب نه وي :

د مشرانو درناوی ، ښه ګرځېدل او ښه کول ، له ناوړه اخلاقو ځان ساتل ، ښې خبرې زموږ له نظره ادب دی ، خو دا څنګه راتلای شي ؟ څنګه کولای شو یوه با اخلاقه ټولنه ولرو ؟

زموږ وګړي په دې بارو دي او دا یې دود دی ، چې د ډب او کوتک په وسیله اخلاق او ادب راولي . که چېرته کوم کوچنی ناوړه کار وکړي ، نو وهي یې ، چې بیا هغه کار ونه کړي . په ښوونځیو کې هم دا کار کېده خو اوس یې تر یو ځایه مخه نیول شوې ده.

- چې سرونه وي ، خولۍ ډېرې دي :

په پورتني متل کې خولۍ یاده شوې ، لومړی خو دا زموږ دود دی ، چې خولۍ جوړوو بل دود مو دا دی ، چې خولۍ په سروو . خولۍ بیا د هېواد په بېلابېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمو کې جلا جوړښت او رنګ لري ، خو خولۍ هلته په کار راځي ، چې سر وي که سر نه وي ، نو خولۍ هم بې ګټې ده .

- چې سود کوي ، سودا به مومې ( ۱٦ : ٤۳ ) :

زموږ د ټولنې له بدمرغه دودونو څخه يو سود دی ، چې د اسلام مبارک دين ډېر بد او حرام ګڼلی دی . هغوی چې سود کوي ، ګټه نه ، بلکې زيان کوي ، خو نه پوهېږي .

- چې شپه تياره شي ، بدان تېره شي :

شپه د ټولو انسانانو لپاره پرده ده ، دا د هغوی لپاره هم پرده ده ، چې ناوړه اعمال ترسره کوي . که څوک غلا کوي ، زنا کوي ، قيمار وهي ... ټولو ته شپه غوره وخت دی . دا يو دود دی ، چې غله د شپې غلا کوي ، زاني زنا کوي ... . د دې پر وړاندې د خلکو دود دا دی ، چې د شپې ډېر نه ګرځي ، د کورونو ورونه تړلي ساتي او ښځينه له کورونو نه وځي . د شپې له خوا څوک پيسې او زيورات هم چېرته نه وړي .

- چې له ځايه مست نه وي ، په بنګو نه مستېږي :

زموږ په سيمه او هېواد کې ګڼ شمېر نشه يي توکي کارېږي ، سګريت ، نسوار ، چرس هيرويين ... چې يو يې بنګ دی . له بنګو نه د نشې په موخه ګټه اخيستنه زموږ په ټولنه کې يو دود دی او اوس هم ژوندی دی .

- چې هلک دې ملک شو ، کلی دې ورک شو :

زموږ د ټولنې دا دود دی ، چې د مشرۍ او ملکۍ لپاره پاخه او بوډاګان ټاکي . هغوی په دې فکر دي ، چې هلکان د بوډاګانو او پخو سړيو په پرتله بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربې او خام وي نه چې کليوالي چارې ګډې وډې کړي . داهم يو دود دی ، چې مشري او ملکي ځوانانو او هلکانو ته نه پرېږدي .

- چېرې کلاله ګوره ، خو خپله سياله ګوره :

زموږ خلکو کې دا دود دی ، چې کله يوه کورنۍ له بلې کورنۍ سره خپلوي کوي يا هلک ته کوژده کوي ، نو خپله سياله کوي ؛ داسې څوک ، چې له دوی سره د ژوند په بېلابېلو چارو کې انډول وي . ياد متل د ژوند په نورو برخو کې هم په پام کې نيول کېږي .

- چېرې چې ډنګ شي ، د ابۍ ګوډې ترڅنګ شي :

زموږ ټولنه د خوښيو په وختونو او نورو حالاتو ، لکه : چاته خبر ورکول يا اعلان پر وخت ډولونه ډنګوي . د پورتني متل موخه له (ډنګ) څخه هماغه د خوښيو ، کوژدې واده ، سنت ګرې او نورو وختونو کې ډنګ او ډونګ ، ټنګ ټکور او سيل کول دي چې داهم يو دود دی . داسې محفلونو او وليمو ته د ښځو (ابۍ) ورتګ هم زموږ دود دی ، چې په دوی کې يې ځينې بيا د دې خوښيو او ودونو ډېرې ليواله وي .

- خپل به دې وژړوي ، پردی به دې وخندوي :

دا زموږ د ټولنې او خلکو دود دی ، هغه څوک چې له چا سره د زړه له تله مينه او ملګرتيا لري ، هغه ته رښتيا او حق وينا کوي . داسې ويناوې ورته کوي ، چې کېدای شي هغه پرې خپه شي ، ځکه د هغه نيمګړتياوې ورته څرګندوي . بلخوا داهم دود دی چې پردي خلک چاته رښتيا نه وايي ، د چا په سپکوالي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپه کېږي ، بلکې يو شخص ته داسې خبرې کوي ، چې هغه پرې سمدستي خوښ شي ، که څه هم شخص له ګناهونو او تيروتنو ډک وي .

- خيرې په اوبو پاکېږي او وينې په وينو ( ١٦ : ٥٢ ) :

په پورتني متل کې کوم دود پروت دی ؟

يو خوا دا معمول دی او دود دی ، چې ټولې عامې خيرې او چټلۍ په اوبو پاکوي . ځينې يې کېدای شي په اوبو پاکې نه شي ، خو بياهم وروستی پاکوونکی يې اوبه دي لکه : ودانيز رنګونه ، چې ودانۍ پرې رنګوي ، اوبه يې پاکولای نه شي . لومړی بايد د پاکولو لپاره ځانګړي مواد يا د خاورو تېل وکاروو او بيا اوبه .

وينه په وينو پاکېږي . له دې څخه موخه څه ده ؟

خدای ج مه کړه ، که يو څوک بل ووژني ، نو زموږ دود دا دی ، چې بېرته بايد پکې قاتل ياد قاتل د کورنۍ بل غړی ووژل شي ، له دې پرته بل بديل نه منې . که څه هم شونې ده ، په بله لاره دا موضوع حل شي . ځينې يې په بدو هم حلوي .

- خيښي په خوښي ، سودا په رضا :

زموږ په ټولنه کې دا دود دی ، چې کله له چا سره خپلوي کوي ، يا خپل زوی ته د چا لور غواړي يا خپله لور د چا زوی ته ورکوي ، دغه دود په خوښۍ سره کېږي ؛ نه په بدۍ او شخړه . همدارنګه که څوک له چا څه پيري او يا يې په چا پلوري هم په خوښۍ سره کېږي ، نه په خپګان سره .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د خوار ملا مساله څوک نه اوري :

له بده مرغه شته او مال کله ناکله داسې بد دودونه په ټولنه کې دودوي ، چې ټولنه بدمرغه کوي . د يوه ناپوه او جاهل ، خو بډای شخص خبره خلکو ته سمه ښکاري او د يوه پوه ، عاقل ، خو غريب انسان خبره خلکو ته ناسمه ښکاري . دا زموږ د ټولنې دود دی ، چې که يو ملا ، مولوي او ښوونکی ، خوار او غريب وي ، نو څوک يې خبره هاغسې نه اوري ، لکه د يوه بډای او شتمن شخص يا ملا او مولوي چې اوري . که شخص شتمن وي ، نو خبره يې هم خلک ښه مني او که غريب وي ، خبره يې څوک نه مني ، که څه هم ډېره پوهه او عقل ولري .

- د خطا يا ناغه وي يا توبه :

دا متل کوم دود بيانوي ؟

زموږ په ټولنه او خلکو کې دود دی ، چې که کوم سړی خطا يا تېروتنه وکړي ، د دې لپاره ، چې له خطا څخه زيانمن شوي شخص ته ځان پاک کړي ، اړ دی يا ناغه ورکړي يا توبه وباسي . خطا يا تېروتنه يو قصدي کار نه دی ، بلکې په ناپوهۍ سره له يوه شخص کېږي . ناغه کېدای شي نقدي روپۍ وي يا بل څه . توبه د شخص ژمنه او اقرار دی ، چې دا تېروتنه يا خطا يې کړې او وايي ، چې بد ترې شوي ، بيا به يې نه کوي .

- دروغجن سړی ، هر چا ته بد ښکاري :

دروغجن انسان هغه څوک دی ، چې تل دروغ وايي او رښتيا نه وايي . داسې شخص د دروغو ويلو له امله د هيچا نه خوښېږي او ټول ورته بد ګوري او دا زموږ دود دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له واده نه وروسته ، سندرې څه په کار :

واده د یو ځوان او یوې پېغلې د یوځای کېدو او دوو کورنیو د خپلوۍ لپاره یو دود دی. د واده په بهیر کې د خوښۍ سندرې ویل هم یو دود دی ، خو له واده وروسته سندرې ویل دود نه دی او په دې وخت کې سندرې نه ویل دود دی .

- ډېره چې پر ځای پرته وي ، درنه وي :

کله چې څوک په یوه دنده کار کوي ، هماغه ځای کې خپل درنښت او عزت گوري او بل ځای یا دندې ته زړه نه ښه کوي . دا کار زموږ د ټولنې او خلکو دود دی .

- ډمه گډېدلې نه شوه ، ویل یې ځمکه کږه ده :

په پورتني متل کې د ډمې گډېدلو یا نځېدلو موضوع یاده شوې ده . کله چې زموږ خلک او ټولنه د خوښۍ مراسم ولري لکه : کوژده ، ودونه ... نو په داسې وختونو کې د کور او خپلوانو د ښځو ترڅنگ کلیوالې ډمې هم گډېږي او دا زموږ دود دی .

- راتگ په اراده ، بېرته تگ په اجازه :

زموږ په خلکو کې دا دود دی ، چې کله یو څوک چېرته ځي ، څرگنده ده ، چې په خپله خوښه او اراده ځي چې داهم دود دی او کله ، چې له هغه ځایه یا کوره وځي یا رخصت اخلي ، نو له کوربه څخه اجازه اخلي او پرته له اجازې نه ځي ، چې دا هم دود دی .

- رنگ یې د ملا ، عمل یې د بلا :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په ټولنه کې داسې خلک شته او داسې دود دی ، چې يو شمېر انسانان په ښکاره يو ډول او عمل يې بل ډول وي ، يعنې په ظاهره او وينا کې ډېر نېک او ښه ، خو په عمل کې بد او بلا وي .

- زوړ شو ، خو سوړ نه شو :

زموږ په ټولنه کې تر ډېره ځوانان مست او گرم وي او دا يو دود دی ، خو ځينې زاړه يا سپين ږيري هم داسې وي ، چې د ځوانانو کانې کوي ، چې دا کار د يو شمېر زړو او بوډاگانو دود دی .

په پورتني متل کې زموږ د خلکو دا دود پروت دی ، چې زموږ وگړي که د ځوانۍ په پړاو کې کوم داسې کار کوي ، چې ټولنې ته د منلو وړ نه وي يا يې بد بولي ، خو د بوډاتوب او زړښت په پړاو کې بيا ډېر درون او داسې کارونه کوي ، چې د ټولنې له غوښتنو او ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي . همدا زموږ دود او زموږ د ټولنې بوډاگان او زاړه ، ځان داسې سمبالوي ، چې کومه ديني او ټولنيزه نيمگړتيا ونه لري .

- زرگر د مور له نتکۍ نه هم غلا کوي ( ١٦ : ٥٧ ) :

پورتني متل هم زموږ د ټولنې يو اړخ او دود روښانه کوي . زرگران زموږ د ټولنې يوه برخه ده . د دوی کار دا دی ، چې له زرو نه بېلابېل توکي جوړوي ، په ځانگړې توگه د ښځو د سينگار وسيلې ، خو د دوی نيمگرتيا داده چې تل په بېلابېلو رنگونو له خپلو پېرېدونکو او خلکو غلا کوي ، د لږ ارزښت زر په لوړ ارزښت خلکو ته پېژني او په لوړ قيمت يې پلوري . همداسې نورې بېلابېلې غلاوې او چلوټې کوي .

- زور ته پوله نشته :

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بده مرغه ، زموږ په ټولنه کې داهم یو دود دی ، چې زورور هره ناروا کوي او هېڅ برید نه مني . هغوی چې زور لري خلک وژني ، د خلکو ځمکې نیسي- ، د خلکو لونې په زور واده کوي او نور بېلابېل تېري کوي .

- ژرنده او جومات نه پېژني :

ژرنده زموږ په ټولنه کې جلا او جومات جلا درېځ لري . زموږ دود دا دی ، چې په ژرنده کې اوړه کوو، خبرې کوو ، مرکې او کیسې کوو ، ژرنده کې په لوړ غږ غږېږو خو جومات کې بیا یواځې عبادت او دیني چارې ترسره کوو .

- ژبه لنده لښته ده :

زموږ په ټولنه او خلکو کې یو شمېر خلک داسې دي او دا دود دی ، چې په خپله ژمنه او ژبه ټینګ نه ودرېږي . هره ګړی ژبه اړوي او د خپل ځان په ګټه خبره بدلوي . د یو شخص پر وړاندې یوه خبره او د بل پر وړاندې بله خبره کوي.

- ږغ د ملا ، امین د کلي :

زموږ په ټولنه کې ملا او مولوي ستر مانیز درېځ لري او دا دود دی ، چې ملا ورته هر څه ووایي ، هاغسې کوي . که ملا خلک له کوم کار راوګرځول ؛ بیا یې نه کوي او که د کوم کار د کولو یې ورته وویل ؛ بیا هغه کوي.

- ږیره زما ، واک یې د ملا :

زموږ په ټولنه کې داهم دود ده ، چې د ملا واک او اختیار په ټولنه او خلکو کې ډېر دی . هر وګړی مکلف دی هاغسې وکړي ، چې ملا یې غواړي او غوښتنه یې کوي خو ځینې خلک بیا د ملا دومره واک نه مني .

- سپې چې غاپي ، څه ویني :

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپیان د شپې له خوا د نامالومو د لایلو له امله غاپي . مـوږ هـېڅ نـه وینـو او هېڅ مو په سترګو نه ښکاري ، چې فکر وکړو سپی هغو ته غاپي . ځیني وګړي وایي ، چې سپیان پېریان او ملایکې لیدای شي . پېریان او ملایکـې بیـا مـوږ لیدای نه شو . کله چې سپی د شپې له خوا پېریان او ملایکې ګوري ، نو ورته غاپي .

- سپینوالی د زړه ښه دی ، نه د ویښتو ( ۱٦ : ۷۹ ) :

زموږ خلکو کې دا دود دی ، چې سپین زړي او مخلص انسـانان خوښـوي او هغوی ښه ګڼي . ورسره بیا داهم دود دی ، چې سپین ویښتان یې نه خوښېږي ، سپین ویښتان خلکو تـه د زړښـت نښـه ښـکاري او هـر سـړی غـواړي ځـوان اوسي.

- سپین ویښته ، د عزت نښه ده :

زموږ په ټولنه کې دا دود دی ، چې ځوانان او ټول خلک د بوډا او سپین ږیري ډېر درناوی کوي . د هغه خدمت کوي او خبرې ته یې غوږ ږدي .

- سپی مې کړې ، کشر مې نه کړې ( ۱٦ : ۸۱ ) :

په هر کور کې مشر او کشر وي . زموږ په ټولنه کې د هر کور کشرـ او مشرـ خپلې دندې او مسوولیتونه لري. مشر سـتر کارونـه کـوي او کشرـ کـوچني ، کشر په کور کې د مشر تر امـر لانـدې وي . د دود لـه مخـې د کـور کـوچني کارونه ډېر په کشر وي .

- شلومبې او ښوروا د بې خونده سړي لړېږي :

شلومبې له مستو او چکې څخه لاسته راځي . په دې ډول ، چـې مسـتې او چکه نرۍ کړي او اوبه ورواچوي. دا د ټولنې او خلکو دود دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوروا هم همداسې ده ، لکه شلومبې ؛ غوښه پخه کړي او ډېري اوبه ورواچوي ، چې په دې ډول شلومبې او ښوروا د ډېرو خلکو لپاره کار ورکوي.

- شف شف مه کوه ، شفتالو ووایه :

زموږ په ټولنه کې دا دود دی ، چې خلک گونگې او ژوولې خبرې نه منې . که یو څوک په کنایو او اشارو کې غږېږي او مطلب مستقیم نه وایې ؛ دا نه خوښوي ، بلکې غواړي یو څوک ورته خبره سپینه او روښانه وکړي.

- ښځه په کور ښه ایسي ، ژرنده په شور :

په هره ټولنه کې د ښځو لپاره جلا فکرونه او دودونه شته . په موږ کې دا دود دی ، چې ښځې ډېرې لږې او د سختې اړتیا پر وخت له کوره وځي ، نور تل په کور کې وي او د کور کارونه سمبالوي .

- ښځه یا پر کور یا په گور :

د تېر یاد شوي او د دې متل کیسه نږدې ورته ده . د یو دود ښکارندویي کوي . زموږ په ټولنه کې کور بشپړ ارزښت لري او زموږ د چاپېریال د شونتیاوو او اسانتیاوو په رڼا کې کورته د یو شخص اړتیا وي ، چې هغه سمبال کړي . دغه شخص ښځه بلل شوې ځکه ښځه د کور په چارو ښه پوهېږي او مینه هم ورسره لري . له بلې خوا ، دا هم زموږ دود دی ، چې ښځه باید له خلکو پټه وي ، پردي وگړي یې باید ونه گوري . له همدې امله ښځې پر کور او پرده کې ساتل کېږي او ټولنیزو چارو او کارونو لپاره لکه نارینه بهر نه وځي ، یواځې د سختې اړتیا پر وخت ، لکه : واده ، ناروغتیا او ... کې له کوره وځي .

- ښځه مې دې نجل وي ، زامن مې دې سل وي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په خلکو کې دا هم یو دود دی ، چې ځان هم ځوان غواړي او ښـځه هـم ، خو دا هم دود دی ، چې د بېلابېلو لاملونو له مخې ، اولادونه او زامـن هـم ډېـر خوښوي .

- ښځه شریکه ښه ده ، نه تجارت :

سوداګري او تجارت زموږ د ټولنیزو چارو یو اړخ دی ، خو په سـوداګرۍ کـې د دوو یا ډېرو وګړو ګـډون بیـا زمـوږ خلکـو تـه ډېـر د منلـو نـه دی او دا نـه خوښوي . دا یې دود دی چې خپلواکه سوداګري وکړي . ښځه شریکـول زمـوږ ټولنه کې ناشونی کار دی ، له دې کار خلک ډېر بد وړي ، دا دود په موږ کـې نشته ، خو دا ورته تر ګډې سوداګرۍ غوره ښکاري .

- طلاقي د پردو ښځو هم بد ایسي :

طلاق یا د ښځې پرېښوول یو داسې عمل دی ، چې زموږ خلک ترې بـد وړي . دلته له ښځې سره تر مرګه ژوند کول دود دی ، خو طلاق دود نـه دی ، کـه وي هم ، دومره دی چې حساب پرې نه کېږي . دا هم دود دی چې له طلاقي شخص نه ښځې کرکه کوي ځکه هغه ښځې جنس ته بد کتلي دي او طلاق یې ورکړی دی .

- غل چې غلا ته ځي ، قسم پر شا ګرځوي :

غلا بد عمل دی ، خو زموږ په ټولنـه کـې شـته . د غلـو دا دود وي ، چـې کلـه رسوا کېږي او یا ونیول شي ، نو د ځـان د ژغـورنې لپـاره قسـمونه خـوري . د دوی لپاره ځان ژغورنه مهمه وي ، د قسمونو خوړل ورته کومه درنه موضـوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ښکاري د قسم خوړلو ارزښت ورته دا دی ، چې ځان پـرې وژغـوري ، هغـه هم د غله په توګه .

- غلو به قافلې وهلې ، نو نه چې يې کوټې وهلې :

د پخوانيو غلو دا دود وو ، چې په خپل کلي او کور کې به يې غلا نـه کولـه ، کاروانونه او قافلې به يې وهلې . اوسنيو غلو بيا دا دود بـدل کـړ ، کاروانونـه هم وهي ، کورونه او کوټې هم .

- غوښې د هر چا خوښې دي ، خو پيشو ايمان پرې راوړی دی :

غوښه خوړل په موږ کې ډېره دود ده . داسې لږ وګړي به وي ، چې غوښـه يـې نه خوښېږي . د دې ترڅنګ چې غوښـه خـوړل زمـوږ د انسـانانو يـو دود دی ، ځناور (پيشو) بيا له انسانانو تېر دي . د هغـوی لـه انسـانانو هـم غوښـه ډېـره خوښېږي .

- غل په تږمۍ کې خوشحاله وي :

زموږ په ټولنه کې دا دود دی ، چې غله تل د شپې له تاريکۍ نه په ګټنـه غـلا کوي ځکه څوک يې ليدای نه شي . که د ورځې غـلا وکـړي ، بيـا يـې خلـک ګوري او نيول کېږي .

- قربان له خپله کوره ، چې خبري شي په زوره ( ١٦ : ٩٤ ) :

زموږ په ټولنه او خلکو کې دا دود دی ، چې څه ډول په خپل کور او کلي کـې ژوند کوي ، هاغسې يې د بل په کلي او کور کې کولای نه شي . په خپل کور کې د خپلواکۍ او ازادۍ احساس کوي . هغه چې د بل په کور کې نه وي .

- قرض ورکول يو هنر ، اخيستل يې بل هنر :

(c) ketabton.com: The Digital Library



پور ورکول او اخیستل زموږ په ټولنه کې دود دی . ډېر ځله داسې کېږي ، چې د پور ورکولو پر وخت ، پور ورکوونکی خپه او پور اخیستونکی خوښ وي . خو کله چې پور ورکوونکی له پوروړي ، پور غواړي ، بیا دواړه خپه وي ، که څه هم پور ورکوونکی زړه کې ګوړې ماتوي ، چې پور به مې راووځي ، خو پوروړی ، اخوادېخوا کوي ، چې پور ورنه کړي . پور ورکوونکی اړ دی ، د دې لپاره ، چې نه سیخ وسوځي نه کباب ، له چل او هنر نه کار واخلي ، چې خپلې پیسې ترلاسه کړي .

- کارغه د زرکې مزل کاوه ، خپل یې هېر شو :

زموږ په ټولنه کې داسې دود دی ، چې ځینې خلک د نورو پیښې کوي یا خپل طبیعي عادات پرېږدي او د نورو عادات کوي ، لکه : خپله غریب دی ، خو د خانانو غوندې ځان ښکاره کوي یا د هغوی په څېر لګښتونه کوي . له دې کبله دویم حالت (خاني) هم خپله نه کړي او له لومړي حالته (غریبي) هم ووځي ، بیخي بل حالت ته لاړ شي .

- کار چې په سلا شي ، بې بلا شي :

کله کله یو وګړی ، د داسې کار کولو هیله لري ، چې په سمه توګه یې پایلې سنجولای نه شي . په داسې وخت کې زموږ د خلکو دود دا دی ، له هغوی سره ، چې په اړونده برخه کې پوهه او تجربه لري سلا مشوره کوي . د سلا او مشورې ګټه دا وي ، چې د کار پایلې ګټورې وي .

- کږې خولې په سوک سمېږي :

که څه هم دا ښه او غوره ده ، چې د ټولنې هر کار او ستونزه په سوله او منطق حل شي او همدا زموږ د خلکو دود هم دی ، خو کله نا کله بیا ځینو خلکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتک په کارېږي ، چې سم شي ، څکه هغـوی همداسـې روږدي وي . خلـک په زور او کوتک سمول هم زموږ دود دی .

- کونډه چې سترګې تورې کړي ، مېړه به وکړي :

کونډه هغې ښځې ته وايي ، چې مېړه يې مړ شوی وي . زموږ په ټولنـه کـې دا دود دی چې کونډې ، د ډېـرو کړاوونـو او غمونـو زغملـو لـه کبلـه رنځـورې ، مړاوې ، خپه او نهيلې وي . که ډېره ځوانه هم وي ، سينګار نه کـوي پـه خپلـه يې هم زړه نه غواړي او خلک هم دا نه خوښوي او دا دود هم دی . کـه کونـډه غواړي ، مېړه وکړي ، نو بيا دود دا دی ، چې ځان سينګاروي ، چې د چا خوښه شي او واده يې کړي .

- کونډه د لېوره په تمه ، له مېړه ووته :

زموږ په خلکو او ټولنه کې دا دود دی ، چې کله يې په کورنۍ کې يو زوی مړ شي ، نو بيا د خپل زوی کونډه بل زوی ته کوي . دا نه خوښوي ، چـې کونـډه بل ځای مېړه وکړي . په يوه کور کې کونډه شوې ښځه هم همدا خوښوي ، چې په همدې کور کې پاتې او واده شي . دا دود هم شته ، چې کېدای شي ، کونډه له کوره بهر واده وکړي خو دا ډېر عام نـه دی . ځينـې پښـتنو کـې دا دود دی ، چې کونډه داسې ښځه بولي چې واک يـې لـه دوی سره دی ، خـو ځينـې بيـا د کونډې په خپلواکۍ باور لري .

- که باران وي که ږلۍ ، ميلمه غواړي ښه مړی :

ميلمه زموږ په خلکو او ولس کې خپل ځـای او ارزښـت لـري . پـه مـوږ کـې داسې دود دی ، چې د ميلمه ډېر قدر او درناوی کوو . هغه سره خوږې خـوږې خبرې کوو ، د کوټې په بر ځای يا له وره يې لرې کښېنوو ، د خـوب پـر وخـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ځانګړی ځای ټاکو د کور له عادي خوړو نه د ده خواړه ښه چمتـو کـوو . هر سړی د خپل ځواک سره سم د مېلمه پالنه کوي . پـه هـر ډول حـالاتو کـې د مېلمه خوراک و څښاک زموږ له ورځنيو خوړو ښه وي .

- لاس چې مات شي ، خپلې غاړې ته لوېږي :

پورتنی متل کوم دود رانغاړي ؟

زموږ په ټولنه کې دا دود دی ، چې کله د چا ورور ، پلار ، خور ، مېره ، ميرمن ، تره ترور ... کوم زيان ووينې يا داسې شي ، چې د ژوند په چارو کې مرسـتې ته اړ وي ، نو دی اړ دی مرسته يې وکړي . ټولنه او خلک له دې شخص همدا هيله او تمه لري .

**٦ ـ متلونه او د خلکو اندونه :**

د متلونو په تېرو بحثونو کې دا خبره روښانه شوه ، چې ملتونه د ولسي ادب د يوه توک په توګه ، هغه ژبنـی واحـد دی ، چـې ديـوې ټـولنې د وګـړو د ژونـد چاپېريال ، کړه وړه اړتيـاوې او غوښـتنې منعکسـوي . متلونـه د يـوې ژبـې د ويونکو لپاره د ژوند د لارښود بڼه او مانا لري ، متلونه دي ، چـې پـه ويلـو او اورېدلو يې ستر بشري کړکيچونه او ربړې حليږي . متلونه يو لاروركي انسان ته لار ورښايي او رڼوند ته د امسا کار ورکوي .

متلونه چې د هرې ژبې اړونـد وي ، پـه بـاوري توګـه د هغـه خلکـو د افکـارو ځرګندوی او د ژوند روښانه هېنداره ده . که چېرته متلونـه وځېـړل شي ، نـو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوې ټولنې د ژوند ټول اړخونه ، که هغه مادي دي که مانيز ، ترې څرګندېدای شي .

د پورتني سرليک د روښانتيا لپاره ، لاندېني متلونه ګورو :

- کار مې د بل خوښ ، خوراک مې خپل (۱۱ : ۱۰٦) :

زموږ په ټولنه کې يو شمېر وګړي داسې دي ، چې د بل په خدمت او يا بېګار کې عدالت نه کوي . په دې مانا چې خپل کارونه يې پرېښې وي ، ځان او کورنۍ يې در په در ، خو دی ټوله ورځ ، د خلکو په کارونو پسې ګرځي . له دې سره سره ، کړاو او زيان يې خپل کور ته رسېږي . ټوله ورځ د بل په کار پسې ورک وي ، چې غرمه شي ډوډۍ کور ته راوړي ، جامې د خلکو په کار کې ناولې کړي ، خو وينځلو ته يې کور ته راوړي . که همدا متل سياست ته راوباسو نو ګورو ، چې ګڼ شمېر سياستوال داسې دي ، چې ګټه يې يو بل ملت او هېواد ته رسېږي ، خو زيان يې خپل ملت ته . په دې توګه دا متل زموږ د ټولنې د افرادو د اندونو د يو اړخ څرګندوی دی . په همدې توګه :

- د مېړه لوز ګوره ، د ښځې ښايست (۲۰ : ۲۰۸) :

که دې متل ته وګورو ، نو موږ ته ځينې معيارونه په ګوته کوي . هغه دا چې دلته د مېړانې لپاره معيار ژبه ، ژمنه او ټينګښت دی . مېړه هغه څوک کېدای شي ، چې په خپله ژبه او خبره ولاړ وي ، مېړه داسې ژمنه نه کوي چې بيا ترې په شا شي .

بلخوا ، ياد متل داهم راښيي ، چې مېړانه د ښځو کار نه دی ، ځکه دلته (ښځه) د (مېړه) پر وړاندې راغلې او دا زموږ د ټولنې يو واقعيت هم دی . موږ په يوه داسې ټولنه کې اوسو ، چې هلته نرواکي ده او له ښځو هغه تمه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي ، چې له سرو کېږي. په دې متل کې ، په ټولنه کې د نارینه او ښځینه دریځ هم روښانه شوی دی . د دې ترڅنګ دوه بېلابېلې پدېدې (لوز او ښایست) د دوو بېلابېلو جنسونو (نر او ښځه) لپاره مناسب ګڼل شوي دي . دلته دا هم روښانه شوې ، چې زموږ په ټولنه کې د ښځې ښایست څومره ارزښت لري ؟ هاغسې چې یوه مېړه ته (لوز) مهم معیار دی ، همداسې ښځې ته (ښایست) . ښایي څوک ووایي ، چې د ښځې ښایست نه به موخه ، د ظاهري ښکلا ترڅنګ باطني او اخلاقي ښکلا هم وي ، خو زه فکر کوم ، زموږ په ټولنه کې د ښځو لپاره تر ډېره ظاهري ښکلا د پام وړ ده ، نه اخلاقي او باطني . دلته داهم یادول په کار دي ، چې زموږ ښځینه طبقه نړدې په ورته او ښه اخلاقي ښکلا سمبالې دي ځکه نو هغې ته اړتیا هم نشته . له دې حقیقت نه هېڅوک سترګې نه شي پټولای ، چې زموږ د ټولنې هر نارینه ښایسته او ښکلې ښځه غواړي او ښځې ښایسته مېړه ، خو معیارونه ، د نارینه لپاره (لوز او ژبه) او د ښځې لپاره (ښایست) دی او دا معیارونه د دواړو (نر او ښځې) لپاره دي . په دې مانا ، چې د ښځو هم هماغه نارینه خوښېږي چې په خپل ( لوز او ژبه ) ټینګ ولاړ وي او خپله ژمنه نه ماتوي ، نارینه بیا هغه ښځه چې ښایست ولري .

د متلونو ستره ځانګړنه همدا ده ، چې پراخې ماناوې او مفاهیم په خپله غېږه کې رانغاړي ، دومره رنګین او ښکلي شالونه پرې خپاره وي ، چې یو له بله ښکلي وي او هر څومره خبرې ، چې پرې وشي ، پای نه لري .

که د پورتني متل بل اړخ راوسپړو ، نو هاغه دا دی چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



انحضرت (ص) د منافق له نښو څخه یوه دا بللې ده ، چې هغه څوک منافق دی ، چې (لوز او ژمنه یا ژبه) ماتوي او په مقابل کې یې هغه څوک له منافقته خلاص دی ، چې پر (لوز ، ژبه او ژمنه) ولاړ وي . دلته دا خبره هم زباتېږي ، چې زموږ متلونه څومره اسلامي رنګ لري او څومره له اسلام او شریعت سره اړخ لګوي .

که د پورتني متل بل اړخ سپړو ، نو هغه به دا وي ، چې هره پدیده ، الله (ج) په خپلو اوصافو او ځانګړنو سره پیداکړې ده . منه خپلې ځانګړني لري او ناک خپلې همداسې مندتې ، هندوانه ، ډبره ، لرګی ... انسان ته په کار ده دا ومني او پدیدې هم له خپلو ځانګړنو سره ومني ، ځکه (هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره که نه).

یوه بله بېلګه :

- د اولاد بد چاته نه ښکاري :

پورتنی متل هم زموږ د خلکو ترمنځ دود دی او په ورځنیو چارو کې یې کاروي . له دې متل هم بېلابېلې ماناوې اخیستلای شو ، خو ماته یې ډېره نږدې دا ښکاري :

زموږ په ټولنه کې دود دی ، چې یو څوک ، هغه مینه ، چې خپل اولاد سره لري ، د بل سره یې نه لري . د خپل زوی په ډېرو بدو ځان ناګار اچوي ، خو د بل لږ بد هم ډېر لوی ګڼي . که د ډېرو کورنیو حال وګورو ، نو وررورنه د اولادونو په سر خپلو منځو کې سره وران او تر دي ، چې په جګړو اوښتي ، د یو شمېر کورنیو د بېلتون لامل هم همدا اولادونه دي . دلته زموږ پام بل اړخ ته هم اوړي او هغه دا چې په پلرونو باندې خپل اولادونه دومره ګران دي ، چې بد یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ ليدای نه شي . په دې ځای کې زموږ د ټولنې د وګړو او پلرونو د ژوند يو بل اړخ څرګندېږي ، هغه چې کېدای شي د نړۍ په يو بل ګوټ کې داسې نه وي . د دې ترڅنګ دا پوښتنه هم راولاړېږي ، چې د اولادونو فکر بيا د پلار په مقابل کې څنګه وي ؟ په دې توګه پورتنی متل موږ ته د لا څېړنو لار اواروي ، چې د خپلې ټولنې په اړه يې وکړو .

پورتنی متل هم زموږ د ټولنې د وګړو د اندونو احوال راکوي ، لږ تر لږه زموږ په ټولنه کې د (پلار او اولاد) ترمنځ اړيکي څرګندوي .

- ژرنده که د پلار ده ، هم په وار ده :

پورتنی متل موږ کله کاروو ؟ هغه وخت ، چې يو څوک غواړي په يو کار کې له نورو خلکو مخکې شي او نوبت يا وار مرعات نه کړي . دا متل د دې څرګندوی دی ، چې زموږ په ټولنه کې بېلابېل توپيرونه نه منل کېږي. دا شوني نه ده ، چې يو خان دې راشي او د غريب وار دې ونيسي۔ او يا يو قومندان دې راشي د يو سرتيري يا عادي وګړي وار دې ونيسي . دلته ټولو ته يو معيار دی او هغه دا چې هر څوک مخکې راغلی ، له وروستيو مخکې دی .

ياد متل دا هم راښيي ، چې زموږ ټولنه په ټولنيز نظم او نظام باور لري ، د ګډوډۍ او بې نظمۍ پلوي نه ده خو دا هم په ګوته کوي ، چې شوني ده د خپلوۍ اړيکي لامل شي ، چې حق حقدار ته ونه رسېږي او ټولنيز معيارونه تر پښو لاندې شي ، لکه : دا اوس يې ځينې بېلګې ګورو ، اوس قومندان ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان یا د زور او زر خاوند ټولنیز معیارونه ماتوي د بې واکه ، بې وسه او بې ځواکه شخص حق خوري ، خو هر څه چې وي له معیارونو سرغړونه ده ، معیار هماغه پورته متل دی ، چې د حق پلوي کوي او دا زموږ د خلکو او ټولنې فکر دی .

که د متل بل اړخ سپړو ، نو دلته د (ژرندې) کلمه راغلې ، چې دا پخپل ځای د څېړنو جلا جلا زېګنالونه راکوي :

ژرنده ، زموږ د کولتوري یون یوه برخه ده ، له دې څخه زموږ د ژوند د پرمختیایي پړاو یو ګوټ څرګندېږي .

دلته د (ژرندې) کلمه د فرهنګي تاریخ لپاره ډېره مهمه ده ، چې دې متل خوندي کړې ده . نن زموږ په چاپېریال او ټولنه کې داسې وګړي شته ، چې هغوی ژرنده په هغه لومړني شکل (د اوبو ژرنده) لیدلې نه ده . ښایي راتلونکې کې هغه نسل ټول له منځه لاړ شي ، چې ژرنده یې په خپلو سترګو لیدلې ، نو بیا همدا متلونه او نوره ژبنۍ پانګه ده ، چې زموږ د ژوند رښتینې تصویر ساتي ، کله چې ژرنده یادوو ، له هغې سره موږ ځو کلي ، ولس او فولکلور ته . له ژرندې سره ، د ژرندې ابتدایي ماشینونه ، د ژرندې ودانۍ او جوړښت ، د ژرندې موقعیت ، د ګرځېدو وخت ، په ژرنده پورې تړلې افسانې او کیسې ، شیشکه ، اوبه ، شنیلی او ... . له دې لنډو جملو څخه څرګندېږي چې متل څنګه زموږ ژوند په خپله غېږه کې رانغاړي . متل د ولس ژبه او د ولس د اندونو خوندي کوونکی دی . دلته دا خبره باید یاده کړو، چې متل د زرګونو کلونو وړاندې وینا او تجربه ده ، خو اوس هم ژوندی او لا به ژوندی وي . موږ اوس هم له هغو پېښو سره مخېږو ، چې زرګونه کلونه وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانان ور سره مخ ول او بیا د متل مانیز پراخوالی ، هغه تل ژوندی ساتي ، د هغه ارزښت په ټاکلي وخت پورې تړلی نه دی .

یو بل متل دی ، چې په لغمان ولایت کې ما اورېدلی دی :

- له دې ځای تر کامې ، چا کړې یارانې :

لغمان د هېواد په ختیځ کې پروت یو ولایت دی او کامه د ننګرهار ولایت یوه ولسوالي ده . کامې ته یې یو وخت وره امریکا ویله ، ځکه ډېر کرنیز حاصلات یې لرل ، له همدې امله د لغمان خلک ډېر دې ولسوالۍ ته د کار لپاره راتلل . زه هغه وخت یادوم چې ښایي موټر او نور لېږدوونکي وسایل لا لغمان ته راغلي نه ول ، خلکو د سفرونو لپاره له ژویو یا خپلو پښو نه کار اخیست . که څوک به له لغمان نه کامې ته لاړ هم ، نو میاشتې او کلونه وروسته به بېرته لغمان ته راته او یا به د تل لپاره هلته پاتې کېده . له دې امله ، چې واټن ډېر وو او چا نه شو کولای دې دوو ځمکو ته لاړ شي راشي . په پورتني متل کې له (یارانې) نه موخه د اړیکو پالل او تګ راتګ دی .

که په تاریخي لحاظ دې متل ته وګورو ، نو بېلابېل اړخونه مو مخې ته ودرېږي ، چې باید روښانه شي . دا د یو داسې وخت متل دی ، چې که نن یو لغماني ځوان ته ووایې نو هغه ته به افسانه ښکاره شي ، چې ګواکې داسې وخت هم وو ، چې له لغمانه تر کامې چا د تک راتګ او اړیکو پاللو ځواک نه درلود ، په داسې حال کې چې نن په یوه یا دوو ساعتونو کې ورسېږې .

- غر که لوړ دی ، په سر یې لاره ده :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ټولنې د خپلو تجربو په لړ کې ثابته کړې ، چې د هرې ستونزې حل شته . هر سخت انسان یوه کمزوري لري ، یوې جگې ، بندې ، بې وره او بې گودره کلا ته د ننوتلو لار پیداکېږي . هره سخته غوټه د پرانیستنې لار لري ، هر زورور د کمزوري کېدو لار لري ، هر نه تسلیمېدونکی انسان د تسلیمېدو لار لري ، په هره تیاره کې تگ شونی دی یا له تیارې وروسته رڼا شته . لسیزې وړاندې چا نه منله ، چې گواکې انسان دې وکولای شي سپوږمۍ او فضا ته لاړ شي ، دا هم چا نه منله ، چې د نړۍ له یوه گوټه ، بل گوټ کې یو انسان بل انسان په ژوندۍ بڼه وگوري ، خو نن داسې بلا پرمختگونه وشول او روان دي .

زموږ ټولنې او وگړو ، زرگونه کلونه وړاندې دا فکر درلود ، چې د نړۍ ټولې نېمگړتیاوې او اړتیاوې به سوکه سوکه بشپړېږي ، که یو وخت سپوږمۍ ته ختل (غر او لوړ) ول ، خو دوی ورته ختل شوني بلل (په سر یې لار شته) .

پورتنی متل انسان ته د زغم او صبر لارښوونه کوي ، هېلې یې نه مري او د ژوند د پایښت هڅه او هاند کوي باوري کېږي ، چې د ټولو هغو کړکیچونو سره چې مخ دی حل لري او بری یې په برخه دی .

متل د ولسي افکارو بېلابېل رنگونه ښیي . متل د ولس د هغه وگړو تجربې او مشاهدې دي ، چې افکار یې د علم او ساینس له کتابونو اخیستي نه دي ، بلکې له خپل چاپېریال او ژونده یې اخیستنه کړې ده . ولس د پوهانو او فلسوفانو ژوند او نظرونه لوستي نه دي ، خو داسې متلونه یې رامنځته کړي ، چې پوهان او فلسوفان ترې اخیستنې کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چې د ولس ژوند ساده او طبيعي دی ، په متلونو کې هم ساده او طبيعي مسايل بيان شوي ، خو دا چې په فکري او مانيز اړخ کې ځومره پياوړي دي ، له دې ځرګندېږي ، چې تر ننه يې ژوند اوږد شوی او د هر زمان او مکان سره اړخ لګوي . د متلونو په شاليدونو کې پرتې تجربې کومې لابراتواري تجربې نه دي ، بلکې دا داسې تجربې دي ، چې په ټولنه او وګړو کې ازمايل شوي او پايله يې وړاندې شوې ده .

که څه هم متل په يوې ځانګړي وخت او ځای پورې اړه لري ، خو د مانا عموميت يې دا له دې دريځه وباسي او د ګڼو مسايلو د بيان وړتيا پيداکوي .

متل د يوې داسې پېښې پايله ده ، چې زرګونه کلونه وړاندې پېښه شوې ، خو دا چې په بشري ټولنه کې پېښې تکرارېږي او يا داچې د پېښو ترمنځ مانيز تړون او شکلي بدلون د دې لامل ګرځي ، چې متل تل ژوندی پاتې شي او هر وخت او ځای سره اړخ ولګوي .

- بې کاري لنګېږي ، خواري ترې زېږېږي ( ١٦ : ١٢ ) :

زموږ په کليوالي او ښاري ژوند دواړو کې ، بې کاري لويه بلا ده . بې کاره انسان هغه ماشين ته ورته دی ، چې ګرځي ، برېښنا لګوي ، نور لګښتونه لري ، خو ببرته توليد نه کوي يا د هغه کار لپاره ، چې چمتو شوی ، هغه نه کوي .

که يو پلار او د کورنۍ مشر بې کاره وو ، نو زامن او کورنۍ به يې خواره وي ، د ټولنې او وګړو اړمنه به وي نالوستې او د نورو ستونزو سره به مخ وي . کار ، نه يواځې دا چې انسان ته روغتيايي ګټې لري ، ګڼې نورې ټولنيزې او شرعي ګټې هم لري . که پلار کار وکړي او يوه اندازه پيسې لاسته راوړي ، ميرمن او کورنۍ به يې سوکاله شي ، د هغوی اړتياوې به يوه اندازه پوره کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



، ژمی به یې گرم او اوړی به یې سوړ شي . په کلي او گاونډ کې به سرلوړی او ډاډمن ژوند ولري او که نه بدمرغه او خوار به وي .
زموږ ولس فکر کوي ، چې بې کاري د خواریو ، ذلالت او بدمرغیو مور ده . انسان چې بې کاره شو او بوختیا یې نه لرله ، له دې امله یې ، له بې کاره خلکو ، غلو او نشه یانو سره مخه شي .
که فکر وکړو ، غله څوک دي او څوک غلا کوي ؟ ځواب به یې دا وي ، هغه انسانان چې زیار گاللی نه شي او غواړي د زیارکښو زیار په خپله گېډه کې واچوي . کارکول او زیار گالل ، د دې لامل گرځي ، چې انسان خوښ ، سوکاله او ډاډمن ژوند ولري .
د پورتني متل څخه څرگندېږي ، چې زموږ په ولسي نړۍ لید کې بې کارۍ ته په کوم فکر کتل کېږي . د بې کارۍ پر وړاندې ولسي غبرگون او دریځ څه ډول دی ؟
په یاد متل کې د کاڼي داسې کرښې ایستل شوي ، چې تر ننه تازه او خپل رنگ او کیفیت لري . د اوسنې نړۍ د انسانانو فکري تگلوری کټ مټ د پورتني متل سره جوخت ځي ، چا چې پورتنی متل منلی پرمختگ یې کړی او چا چې نه دی منلی خوار او بدمرغه دی .

- د بل زوی ، نه زوی :

د زوی په اړه زموږ ولس خپل تعریف او معیار لري . زوی هغه چاته وایي ، چې د شخص له وینې او نطفې څخه وي . له همدغې زوی نه بیا پلار لویې هیلې لري همدغسې زوی ته په درنه گوري او همدغسې زوی لپاره هره قرباني ورکوي . خو داهم باید هېره نه کړو ، چې زموږ پـه ټولنه او ولس کې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښې هم کېږي ، چې دوه بېلابېل وګړي د څه مجبوريتونو له کبله خپلوان شي . د بېلګې په توګه ، د چا زوی نه کېږي ، نو د بل چا زوی او ماشوم د خپل زوی په توګه مني او هغه لويوي يا داسې چې يو شخص هغې کونډې سره واده وکړي ، چې بچيان لري ، په دې حالت کې يو شخص د داسې زوی او لور سره مخ شي ، چې د ده نه دي .

د پورتنيو حالاتو پر وړاندې زموږ د ولس او ټولنې پرېکړه همدا ده د (بل زوی نه زوی يا پردی زوی نه خپلېږي) . دا فکر د پام وړ دی ، ځکه موږ په خپله ټولنه کې ګورو چې حتا په اوسني ښاري ژوند کې هم د (بل زوی) په ( نه زوی) حساب دی ، ډېرې لږې پېښې به داسې ولرو ، چې د (بل زوی ، خپل زوی) ثابت شوی اوسي . که خبره لنډه کړو او پورتني متل د طب او ارواپوهنې له نظره وڅېړل شي ، نو کټ مټ يو فورمول دی چې تر اوسني پرمختللي ژونده او مهاله هم ثابت او روغ دی او انسان يواځې هغه انسان خپل زوی بولي او ځانګړې اړيکي ورسره پالي ، چې له خپلې وينې او نطفې يې وي . له دې پرته ، که يو کوچنی ، چې نړۍ ته له راتګ سره سم ، يو داسې چا ته ورکړل شي ، چې پردی او پلار يې نه وي ، له لسيزو ژوند تېرولو وروسته به هم هاغه ځای ونه نيسي ، چې اصلي زوی يې لري . دا متل يواځې د نارينه او پلار لپاره نه دی ، بلکې ښځه او مور هم همداسې حالت لري ، ښځه او مور هم وايي ، چې (د بل زوی نه وزی) .

په پورتني متل کې پروت ولسي فکر ، همدا نن هم زموږ د ولس ، وګړو او ټولنې ژوندی فکر دی . نن هم هاغه وګړي ، چې زامن نه لري او يا يې زامن نه کېږي ، د دې هڅه نه کوي ، چې د بل چا زوی په زويتوب ونيسي- ، همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې زویه پاتې کېږي ، خو دا کار نه کوي ، ډېر لږ شوني ده ، چې څوک دې کار ته زړه ښه کړي .

- تر بې عقلې ناوې ، هوښیاره کونډه ښه ده ( ۱۱ : ۲٦ ) :

په دې متل کې څومره لویه فلسفه او منطق پروت دی ، څومره لوی ازمون او تجربه او څومره ژور ولسي فکر ؟

په پورتني متل کې متضادې کلمې او اړخونه راغلي (بې عقلي) له (هوښیاري) سره او (ناوې) د (کونډې) پر وړاندې راغلې کلمې دي . خو زموږ ولسي فکر کوم ته درنښت او ارزښت ورکوي ؟

(ناوې) هغه پېغله نجلۍ ده ، چې د لومړي ځل لپاره له یوه نارینه سره یوځای کېږي خپلې جلا رواني او فزیکي ځانګړنې لري ، دا معمولاً د (کونډې) په پرتله ځوانه او ښایسته وي ، ځکه د (کونډې) په څېر ناخوالو ځپلې نه ده . (ناوې) د (کونډو) په پرتله لږې غوښتنې لري ، په لږ شي قناعت کوي او نور بلا غوره صفتونه لري ، چې له همدې امله زموږ ټولنه ورته ځانګړی ارزښت ورکوي . په نشت حساب ځوانان به چمتو وي ، چې (کونډې) سره واده وکړي ، خو پېغلې (ناوې) ته هر یو حاضر وي .

کونډه ، خو بیا د هندیانو له نظره ډېره بدمرغه ښځه ده او دا فکر زموږ په ولسي نړۍ لید کې هم لږو ډېر شته له نیکه مرغه ډېر نه دی . کونډه هم ، یواځې له دې کبله ، چې وړاندې واده شوې او بل مېړه یې درلود ، د یوه ځوان لپاره کم ارزښته وي ، که نه هغه هم بیا په خپل وار ، غوره صفتونه لري ، د ژوند تجربه لري ، په عقل پخه او د کور د سمبالښت ښه پوهه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (ناوې) د ټولو ښو او د (کونډې) د بدو صفتونو پر وړاندې زموږ د ولس لپاره تر ټولو لوړ او غوره معیار د (بې عقلۍ او هوښیارۍ) توپیر دی . زموږ د خلکو او ولس لپاره هغه څوک غوره او ښه دی ، چې (هوښیار) وي که څه هم (کونډه) وي . زموږ ولسي فکر (بې عقلۍ ، ناپوهۍ او جاهلیت) ته ارزښت نه ورکوي ، که څه هم د یوې (ناوې) په وجود کې وي .

له پورتني متل څخه زموږ په ولس کې د (عقل ، پوهې ، عاقل ، عالم ، هوښیار ، ناپوه او جاهل) دریځ روښانه کېږي او پوهېږو ، چې ولسي فکر له اوسني فکر سره کوم توپیرونه او یورنګي لري . ولسي- فکر د اوسني فکر لپاره ، داسې بنسټونه ایښي ، چې تر قیامته به ونه رژېږي .

- سرې غرونه دي ، ښځې اړمونه :

زموږ او هره ټولنه له جنسي پلوه په دوو بازوګانو ولاړه ده ، یو یې (سړي) او بل یې (ښځې) دي . پورتنی متل په ټولنه کې د دواړو د دریځ او ځای یو اړخ څرګندوي ، دا متل ښیي ، چې زموږ په ټولنه کې سړي په ځواک لوړتیا او نورو اړخونو کې تر ښځو ښه دي ، خو همدې ځواکمن او پیاوړي سړي (غر) ته بیا ښځه (اړم) دی دلته له (اړمه) څو بېلابېلې ماناوې اخیستلی شو . یو دا ، چې د سړي عزت ، درښت ، لوړتیا او پرمختګ په ښځې پورې تړلی ، که ښځه د سړي مرسته ونه کړي ، نو راولېږي او سپکېږي ، د ژوند په چارو کې له کړاوونو سره مخېږي ، شرمېږي او ژوند یې خنډنی او ځنډنی کېږي . سړی که هر څومره پیاوړی دی ، خو د ښځې مرستې ته اړ دی،ځکه دا یې (اړم) دی ، که دا ترې لرې شوه ، نو (غر) راولېږي . ښځه مور ده ، که مور موږ سره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای ، نو څه به مو کړي وای ؟ ښځه میرمن ده که میرمن مو راسره د ژوند په چارو کې مرستیاله نه شي نو څه به وشي ؟

مور ټوله ورځ په کارونو بوخت یو ، د غرمې یا شپې ډوډۍ کور ته یوسو ، هلته راته ښځې (مور ، خور یا میرمن) ډوډۍ تیاره کړي وي او مور یې خورو ، جامې مو ناولې شي ، هغوی یې راته وینځي ، ناروغان شو خدمت مو کوي او ... دا څومره مرسته ده ؟

د دې ترڅنګ ، له دې حقیقته هم سترګې پټولای نه شو ، چې زموږ د ټولنې ډېر سړي او حتا ټول د ښځو له خبرې نه تېرېږي . په یوه موضوع کې سخت دریځ نیسي ، د کلي ، کلیوالو ، پلار و مور او ورور خبره نه مني ، خو د ښځې مني . په دې مانا چې که ښځه ، سړي ته ارم شوه ، بیا یې اړولی شي ، که څه هم هغه (غر) دی . همداسې په بېلابېلو مواردو کې د ښځو (اړمتوب) لیدای شو .

که پورتني متل ته ځیر شو ، نو دواړو (نر او ښځې) ته یو ډول ارزښت ورکوي . ښځه او نر دواړه د ټولنې مهم بنسټونه بولي او چاته یې لوړوالی او برتري ورکړې نه ده . همدا زموږ د ولس فکر دی او همدا هغه معیار دی ، چې په ولس او ټولنه کې پرې د (نر او ښځې) ارزښت ټاکل کېږي . دا معیار زموږ یو داسې ولسي معیار دی ، چې د نړۍ هېڅ ولس یې د ماتولو ځواک نه لري . پرمختللې نړۍ او وګړي د همدغې معیار لاندې ژوند تېروي .

- چې واک یې د مور وي ، کاڼي یې پر کور وي :

پورتنی متل زموږ د ولس او ټولنې د ژوند یو بل اړخ روښانه کوي . زموږ ټولنه یوه نرواکې ټولنه ده ، دلته پر ډېرو ټولنیزو چارو نر واکمن دی . تر دې ، چې د ښځو ډېرې پرېکړې هم دوی کوي . له دې کبله دا یو عیب او نېمګړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ، چې څوک دې د پلار پرځای د مور تـر واک لانـدې وي . زمـوږ ټولنـه پـه ټولنیز ژوند کې هغه واک ښځې ته نه ورکوي ، چې نارینـه تـه یـې ورکـوي ، ځکه نو هاغه کورنۍ او وګړي بدمرغه او لـه نـاخوالو سره مـخ بـولي ، چـې د ښځو (مور) تر واک لاندې ژوند تېـروي ، دوی فکـر کـوي ، چـې پـر کـور او کورنۍ یواځینی واکمن شخص پلار (نر) دی .

- د کور ګټه ، د لاهور ګټه :

پورتنی متل هم زموږ په ټولنه او وګړو کې یو ژوندی او عام متل دی او زموږ د ولسي فکر یو اړخ روښانه کوي . انسان په هغه ځای کې د خوښۍ احساس کوي او په رواني لحاظ سوکاله وي ، چې کوم ځای کې یې کلی ، کور ، مـور و پلار ، ورور و خور ، میرمن او بچي وي . لـه همـدغې ځایـه یـې بېلتـون او لرېوالی ځوروي ، تل غواړي له خپل کور او کورنۍ سره یو ځای ژوند وکړي ، دا زموږ د ټولنې د انسانانو فکر دی.

زموږ د ولس او وګړو فکر همدا دی ، چې که چېرته له خپلې کـورنۍ او کـلي لرې ډېره ګټه لاسته راوړي ، خو په کلي او کور کې لږه ، د کـلي او کـور لـږه ګټه ورته د لرې ځای او مسافرۍ له ګټې غوره ښکاري .

که سرۍ د یاد متل په نورو اړخونو بحث کوي ، نـو ویـلای شـو ، چـې دلتـه د (لاهور ګټه) د خبرو لپاره نور ورونه پرانیځي . په دې مانا ، چـې زمـوږ خلـک له ډېر پخوا له (لاهور ، هند - پاکستان) سره اړیکي لري او دا ښار یـو وخـت د ګټې وټې ښار وو . کور و کلي ته ارزښت ورکول ، زمـوږ د ولـس فکـر دی ، ښایي دا فکر په نورو ولسونو کې بل ډول وي . له دې خبرې زمـوږ د ژونـد او ولسي فکر بل اړخ څرګندیږي . بله دا چې په یاد متل کـې دا هـم ګـورو ، چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ولس او وګړي له خپل ولس ، کور و کـلي او کـورنۍ سره څـومره مينـه لري ؟ دا مينه دومره ده ، چې (لاهور) ورته پرېږدي ، خو خپل کلی کـور غـوره ګڼي .

متل د يوې پېښې ، کيسې ، ازمون او تجربې نچوړ او لنډيز دی ، متـل داسـې يوه جمله ده ، چې د ويولو او اورېدلو پر وخت يې انسان قناعت تر لاسه کـوي . د متل په اورېدو سره ، انسان هغه پرېکړه کوي ، چې د متـل خوښـه وي يـا د متل د منځپانګې سره سم داسې پرېکړه کوي ، چې يوه ستونزه له منځه يوسي . متل د ژوند په ټولو برخو کې يو فعال کارېدونکی توکی دی ، کـه هغـه فـردي معاملې دي ، که ډله ييزې يا ټولنيزې.

جرګې او مرکې د پښتني او افغاني ټـولنې دود دی . جرګـه د ټـولنې د افـرادو ترمنځ اړيکي تنظيموي . جرګه او مرکه نه پرېږدي ، چې بشري او ټولنيز ژونـد کړکيچن خنډنی او ځنډنی شي ، جرګه د ټولنيزو ستونزو کړکيچونـو او ربـړو د حل لپاره غوره او کارنده سيستم دی .

د جرګې جوړېدل د دې لپاره کېږي ، چې د دوو مخـالفو لوريـو تـرمنځ ربـړه او شخړه يا بل کړکيچ حل کړای شي . دلته خبرې کېـږي ، داسـې خبرې ، چـې د دواړو لوريو د قناعت لامل شي او جرګه يوې پايلې ته ورسېږي. جرګه د خبرو ، منطق او استدلال ځای دی ، جرګه مار ، که غواړي جرګه يو لـوري او پـايلې ته ورسوي ، نو د دې لپاره بايد داسې دلايل ووايي ، چې د ربړې او شخړې دوه يا يو لوری يې ومني .

جرګه زموږ د ولس دود دی ، زموږ ولسي خلک پکې ناست وي ، هغـه ولسي-خلک چې نه يې قرانکريم تفسير کړی او نه يې احاديث لوسـتي ، نـه ارسـتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژني نه اپلاتون نه د مصر له تمدنه خبر دي ، نه له بین النهرین او نـه یونـان . دوی کمونیزم ، سوسیالیزم کپېټالېزم او امپریالیزم هم نه پېژني او د فلسـفې او علم له اوسنیو کړکیچونو هم خبر نه دي .

دوی په خپلو خبرو کې پورتني یاد مسایل نه بیانوي ، بلکـې هغـه څـه وایـي ، چې د دوی خپل او له ژوند سره اړخ لگوي او دا منطقي هـم ده ، کـه مـوږ یـو شپون ته د ژوند مسایل د ارستو ، اپلاتون ، مارکس او ... له نظره بیـانوو ، نـه پرې پوهېږي او نه یې زغملای شي ، خو که یو متل ، لنډی ، حکایـت او نکـل ورته ووایو ، نو پدغو ادبي ډولونو کې پروت منطق ژر مني ، ځکه دا سـاده او له ژوند سره یې اړخ لگوي ، خپل مال یې دی . له همدې کبله دی ، چـې جرگـه مار او د جرگې نور گډونوال د شخړې او ربړې یو یا دواړه لوریو تـه د قناعـت لپاره او د خپلو خبرو د پیاوړتیا لپاره ، لـه متـل لنـډۍ ، حکایـت ، نکـل او ... څخه کار اخلي ، چې مقابل لوري ته قناعت ورکړي .

څرنگه ، چې زموږ په فردي ژوند کې متل ، زموږ د فکر او نظر د بـدلون لامـل گرځي همداسې په جرگه کې هم دی . هر کله چې د جرگې په بهیر کـې د ربـړې او شخړې یو یا دواړو لوریو ته د قناعت لپاره متل وکارول شي نو د هغه فکـر او نظر اوړي او هغه څه کوي ، چې د متل غوښتنه ده . له همدې کبله د جرگـو او مرکو په بهیر کې د متلونو کارونه ډېره او کارنده ده ، ځکه د کړکېچونـو او ربړو په حل کې ستره ونډه لري .

د جرگو او مرکو په بهیر کې د متلونو کارونه ، موضوع او وخت ته په پام سره ترسره کېږي . د متل کارونکی گوري ، چې د مقابل لوري د قناعت ، باور او د فکر او نظر د بدلون لپاره کوم متل پرځای او وړ دی ، هماغه متل کاروي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پورتنیو څو بېلګو څخه مو موخه دا وه ، چې وښـیو ، متـل پـه کومـه کچـه زموږ د ژوند او وګړو له اندونو سره تړاو لري . دا يې يوه کوچنۍ بېلګـه وه او دا چې په زرګونو متلونه لرو ، نو څرګنده ده ، چې زموږ د ژوند زرګونه اړخونه انځوروي او د خلکو له ژوند و اند سرچينه اخلي .

**۷ ـ متلونه او کولتوري يون :**

کولتور ، د وګړنۍ او بشري ټولنې مادي او مانيز شتمني ده . هر هغه څه ، چـې د ژوند له پيل څخه تر ننه لرو ، ټول کولتور دی .

د پورتني پېژند پر بنسټ ، زموږ د څېړنې موضوع ، ستر او کوچني موضوعات او سرليکونه کولتور دی ، فولکلور کولتور دی او متل هم کولتور دی .

د متل مانيز اړخ او فکر کولتور دی ، د دې تر څنګ په متل کې داسې بشري لاسته راوړنې يادې شوې دي ، چې موږ يې کولتور بولو ، لکه : ژرنده ، ويياله ، اټن ، ښوروا ادب او نور . موږ دلته موضوع يـو څـه راټولـوو او پـه لانـدې توګه پورتني ياد شوي مواد څېړو :

- اټڼ وهه شيرداده ، نن بيا د چرګ ښوروا ده :

په پورتني متل کې لومړی د ټول متل موضوع او فکر کولتـور دی . بيـا دلتـه اټڼ او د چرګ ښوروا ، هغـه ښـکارندې دي ، چـې زمـوږ د ټـولنې او بشر پـه وسـيله رامنځتـه شـوي دي ، لـه دې کبلـه يـې کولتـور بولـو . دا چـې مـادي جوړښت لري ، نو مادي کولتور دی .

- اختر پټ مېږه نه دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتني متل کې هم لومړی د دې متل فکر د کولتوري يـون يـو گـام دی او بيا اختر او مېږه زمور د ټولنې او بشر لاسته راوړنه ده ، ځکه يې کولتور بولو .

- ادب له بې ادبه زده کېږي :

ادب او اخلاق د کولتور او کولتوري يون يو گـام دی . اخـلاق او ادب د بشر او زمورږ د ټولنې او ولس لاسته راوړنه ده ، ځکه يې کولتـور بولـو . دا چـې د مانيزاتو برخه ده ، نو د کولتور مانيز اړخ دی .

- اسان يې نالول ، چونگښو هم پښې پورته کړې :

د پورتني متل فکري او تجربي اړخ بياهم د کولتور مانيز اړخ دی . بلخوا ، پـه (آس سپرېدل) بل کولتوري گام دی ، چې زمورږ د خلکو ، ولس او بشر لاسـته راوړنه ده او کولتور دی .

- اسياوان ، چې تسبې اړوي ، ژرندگړی خطا کوي :

په پورتني متل کې پروت فکر د کولتوري يون يو گـام دی . ورسره اسـياوان ، تسـبې او ژرنـدگړی ، هغـه ښـکارندې دي ، چـې د وگـړو او بشر پـه وسـيله رامنځته شوي دي، ځکه يې کولتور بولو .

- اوړه دې په اوړه ، منت دې په څه ؟

د پورتني متل فکر او تجربه هم د کولتوري يون يـو گـام دی . ورسره ، اوړه او منت زمورږ او بشر هغه لاسته راوړنه ده چې د ژوند په بهير کـې يـې رامنځتـه کړې ده او کولتور دی.

- اوسپنه ، په اوسپنه ماتېږي ( ۱۱ : ۹ ) :

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتني متل کې پرته تجربه او موضوع هم کولتور دی . اوسپنه هم د نړۍ د بشر لاسته راوړنه ده او د کولتوري یون یو گام دی .

- اوښ په غلبېل نه درنېږي :

د یاد متل فکر او تجربه زموږ کولتور او غلبېل هم د کولتور او کولتوري یون یو پړاو او گام دی . غلبېل د بشر او خلکو لاسته راوړنه ده ، ځکه یې مادي کولتور بولو .

- اوگره ، چې سړېږي ، بلا پرې لگېږي :

اوگره ، یو ډول خوراک دی ، چې له وریجو چمتو کېږي . دا د بشر او خلکو په وسیله رامنځته شوی دی ځکه د کولتوري یون یو گام دی . د متل فکر او تجربه هم زموږ د کولتور مانیز اړخ دی .

- اول همیانۍ گوره ، بیا نو شی رانیسه :

د پورتني متل نصیحت او فکر هم زموږ د خلکو کولتور دی . همدارنگه همیانۍ هغه وسیله ده ، چې زموږ ولس رامنځته کړې او د بشر لاسته راوړنه ده ، له دې امله ورته کولتور وایو .

- باغ د باغوان دی ، ژرنده د ژرندگړي :

باغ ، باغوان ، ژرنده او ژرندگړي زموږ او په ټوله کې د بشر لاسته راوړنه او د وگړو په وسیله رامنځته شوي دي ، ځکه یې د کولتوري یون یو گام بولو . بیاهم د متل فکر او تجربه د کولتوري یون مانیز گام دی .

- بده ماینه ، تنگه موچنه ده ( ۱۰ : ۱۳ ) :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتني متل تجربه او فکر هم زموږ د کولتور مـانيز اړخ دی . د دې ترخنـګ ماينـه او موچنـه زمـوږ د وګـړو او بشر لاسـته راوړنـه او د دوی پـه وسـيله رامنځته شوي ، نو ځکه يې کولتور او د کولتوري يون يو ګام بولو.

- برمته ، د بدی بانه ده :

برمته او بدي زموږ د ټولنې او خلکو دودونـه دي ، چـې پـه کولتـور کـې هـم راځي . سربېره پردې د ياد متل فکر او تجربه هم د کولتور مانيز اړخ دی .

- بلا وه که بلاګۍ ، ابا يې مړکه په چوړکۍ :

په پورتني متل کې لومړی د دې متل تجربه او فکر د کولتور يو ګام دی . بيـا د بـلا بلاګـۍ ، ابـا او چـوړکۍ زمـوږ د ټـولنې او بشر لاسـته راوړنـه او د کولتوري يون يو ګام دی .

- پاړوګر د مار له لاسه مري :

پاړوګر هغه چاته وايي ، چې ماران ساتي . دا کار د ولس او بشر کار او لاسته راوړنه ده ، ځکه يې کولتور بولو . بلخـوا د متـل موضـوع او تجربـه زمـوږ د کولتوري يون يو ګام را په ګوته کوي .

- پښ موړ شو ، چې پاته يې کور شو :

په پورتني متل کې نغښتی فکر او تجربه بياهم د کولتوري يون يو ګام ښـيي . د دې ترڅنګ پښ او کور د خلکو او بشر لاسـته راوړنـه ده ، چـې د کولتـور برخه يې بولو .

- په نيمځي کې هم ويښته لټوي ( ۱۱ : ۲۴ ) :

نيمځی ، هغه فرش او د کښېناستلو وسيله ده ، چې لـه ويښـتانو جـوړيږي . دا زموږ د خلکو او بشر په وسيله رامنځته شوی او په لاس راغلی دی . ځکه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کولتوري یون یو گام بولو . د دې ترڅنگ د متل مانیز اړخ ، فکر او موضوع هم د کولتور برخه ده .

- په یوه تیکي کې ، دوه تورې نه ځایېږي :

تیکی د تورې پوښ یا هغه ځیز دی ، چې توره پکې ساتل کېږي . همدارنگه توره د جگړې او دفاع یوه ستره چاره ده . دا دواړه تیکی او توره زموږ د خلکو او بشر په وسیله رامنځته شوي دي . ځکه یې د کولتوري یون یو گام بولو . په متل کې پرته تجربه او فکر هم د کولتور مانیز اړخ دی .

- تاته یې لور پخوي ، موږ ته یې تنور پخوي ( ۱۱ : ۲٦ ) :

د متل په زړه کې پرته مانا ، فکر او تجربه د کولتور مانیز اړخ دی . همدارنگه لور او تنور د انسانانو او بشر په وسیله منځته راغلي دي . ځکه ورته کولتور وایو .

- تاته یې ابۍ پخوي ، ماته یې تبۍ پخوي ( ۱۱ : ۲٦ ) .

په پورتني متل کې ابۍ او تبۍ د انسانانو او وگړو لاسته راوړنه ده او د دوی په وسیله رامنځته شوي دی . دې ډول لاسته راوړنو ته کولتور وایو . د تېر په څېر د متل موضوع ، فکر او تجربه هم کولتور دی هغه هم د کولتور مانیز اړخ .

- تربور ، د تررمې موړی دی :

په پورتني متل کې پرته مانا ، موضوع ، فکر او تجربه کولتور دی . سربېره پر دې تربور او موړی د انسانانو او بشر په وسیله رامنځته شوي دي ، چې د کولتوري یون یو گام دی .

- تر پردۍ مصرۍ تورې ، لور پر غاړه ښه دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتني متل کې مصرۍ توره او لور زموږ او د بشر د کولتوري يون يو ګام ، د وګړو او انسانانو رامنځته شوي توکي دي . په متل کې نغښتی فکر او تجربه هم د کولتور مانيز اړخ دی .

- تر مزد يې شکرانه ډېره ده :

مزد او شکرانه زموږ او د بشر د ژوند په بهير او پړاوونو کې رامنځته شوې ښکارندې او د کولتوري يون يو ګام دی . ورسره د متل فکر او تجربه هم کولتور دی .

- تر وېش يې په چور خوشحاله دی :

په ياد متل کې پروت فکر ، تجربه او د ياد متل موضوع زموږ کولتور دی . همدارنګه وېش او چور زموږ د ژوند د بهير او کولتوري يون يو ګام راښيي .

- تور نيمڅی په سابون نه سپينېږي :

تور نيمڅی او سابون زموږ او د بشر په وسيله رامنځته شوي دي . زموږ د ژوند د بهير پړاوونه او د کولتوري يون يو ګام دی . همدارنګه د متل فکر او تجربه هم کولتور دی .

- ځنګه جومات ، هسې بروزې :

جومات ، هغه ځای ته ويل کېږي ، چې مسلمانان پکې لمونځ او عبادت کوي . بروزې بيا يو ډول واښه دي ، چې پخوا به يې د جومات په ځمکه اچول او د فرش کار يې ترې اخيست . جومات او بروزې ، دواړه زموږ د کولتور برخه ده ، ځکه زموږ او د بشر په وسيله رامنځته شوي دي . د دې ترڅنګ ، په متل کې پروت فکر او تجربه د کولتور مانيز اړخ دی .

- څو يې ونه شاربې ، کوچ نه ورکوي ( ۱۱ : ۳۳ ) :

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پورتني متل فکر او تجربه کولتور دی . بلخوا شاربل او کوچ هغه ښکارندې دي
چې زموږ د ولس او بشر په مټ رامنځته شوي او د دوی لاسته راوړنه ده ، ځکه يې کولتور بولو .

- ځنګل ، چې اور واخلي ، وچ او لانده ټول سوځي :

د پورتني متل مانيز پانګه ، فکر ، موضوع او تجربه کولتور او د کولتور مانيز اړخ دی . ځنګل له يوې خوا طبيعي پيدايښت دی ، بلخوا بشري لاسته راوړنه هم ده . داسې ډېر ځنګلونه شته ، چې انسانانو رامنځته کړي دي . همدارنګه اور هغه ښکارنده ده ، چې يوخوا طبيعي او بلخوا بشري ځانګړنه لري ، ځکه نو د ځنګل او اور مصنوعي بڼه د کولتوري يون ګامونه دي .

- حال منصور وايه ، چې سر يې په دار شو :

په پورتني متل کې پرته پېښه او تجربه ، فکر او موضوع د کولتور برخه ده . همدارنګه دار هغه پړی او وسيله ده ، چې انسانان پرې وژل کېږي ، د بشر او وګړو لاسته راوړنه ده ، چې په دې توګه کولتور ګرځي .

- حساب په مثقال ، بخشش په خروار :

حساب يا شمېرل ، هغه عمل دی ، چې بشر د ژوند په بهير کې رامنځته کړی دی . همدارنګه ، مثقال او خروار د وزن واحدونه او بخشش ټولې بشري لاسته راوړنې او کولتور دی . په متل کې پروت فکر او تجربه هم د کولتور مانيز اړخ دی .

- چاره ، چې د سرو زرو شي ، څوک يې په نس نه منډي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتني متل موضوع ، فکر او تجربه کولتـور او مـانيز اړخ دی . همدارنگـه چاړه او سره زر هغه ښکارندې دي ، چې زموږ او د بشر له خوا رامنځته شـوي او د بشر لاسته راوړنه ده ، ځکه يې د کولتوري يون يو گام بولو.

- چې خاوند يې ليتۍ خوري ، د سپو به يې څه حال وي ( ۱۱ : ۴۱ ) :

ليتۍ يو ډول خوراک دی ، چې زموږ وگړي يـې خـوري . دا خـوراک زمـوږ د ولس لاسته راوړنه ده ، ځکه يې کولتور بولـو . پـه متـل کـې پـروت فکـر او تجربه د کولتور مانيزه برخه ده .

- چې سر وي ، خولۍ ډېرې دي :

په پورتني متل کې پـروت فکـر او تجربـه کولتـور دی . ورسره ، خـولۍ هغـه وسيله ده، چې زموږ ولس يې په سروي او خپله لاسته راوړنه يې ده . ځکه يې د کولتوري يون يو گام گڼو .

- چې مالگه وخوري ، لوښی مه ماتوه :

په پورتني متل کې پروت فکر او تجربه زموږ د ولس د ژوند د بهير او کولتور برخه ده . بلخوا مالگه او لوښی هغه ښکارندې دي ، چې زمـوږ ولـس او بشر- رامنځته کړي، ځکه يې د کولتوري يون يو گام بولو .

- د بې عقلې ښځې ، تل کميس سوځي :

د تېر په څېـر بيـاهم ، د متـل فکـر ، موضـوع او تجربـه زمـوږ د خلکـو ده او کولتور دی . د دې ترڅنگ کميس هغه بشري لاسته راوړنه ده ، چې موږ يې د ځان پټولو لپاره کاروو او اغوندو . داهم کولتور دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د تبر خوله نیمخي نیولې ده :

په پورتني متل کې پروت فکر او تجربه د کولتـور مـانیز اړخ دی . همدارنگـه تبر او نیمخی هغه وسیلې دي ، چې بشر رامنځته کړي او د کولتوري یـون یـو گام دی .

- د پیشو نظر به کولپۍ وي ( ۱۱ : ٦۱ ) :

کولپۍ ، چې په دري ژبه کې یـې (خمـیردان) بـولي ، زمـوږ او د بشر لاسـته راوړنه ده او کولتور دی . همدارنگه د متل فکر او تجربه د کولتور مـانیز اړخ دی .

- د تش ټوپکه ، دوه کسه ویرېږي :

ټوپک هغه وسیله ده ، چې گولۍ پکې کارېږي او تر لرې واټن موخه ویشتلی شي . دا د انسان او بشر په وسیله رامنځته شوی دی ، ځکه یې کولتور بولـو . د دې ترڅنگ د متل مانا ، فکر او تجربه د کولتور مانیز برخه ده .

- د خوریي خاوره ، د ماما له نغري ښخه ده :

خوریی د خور زوی ته وایي او نغری هغـه ځـای دی ، چـې اور پکـې بلیـږي . خوراک و ښناک پرې پخېږي خوریی او نغری دواړه د کولتوري یون گامونـه دي . په متل کې پروت فکر او تجربه هم د کولتور مانیز اړخ دی .

- د خطا یا ناغه وي ، یا توبه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناغه زموږ د ولس دود او په ټوله کې کولتور دی . همدارنګه توبه هم زموږ د بشر او خلکو لاسته راوړنه او کولتور دی . په متل کې پروت فکر او تجربه هم د کولتور مانیز اړخ راښیي .

- د دوبي کور د اختر په ورځ ګوره :

د پورتني متل موضوع ، فکر او تجربه د کولتور مانیز اړخ دی . همدارنګه دوبي ، کور او اختر هم کولتور او د بشر لاسته راوړنه ده .

- د دېوال عمر ، له اخېړه پوښته :

دیوال د ختو ، سیمنټو او یا نورو موادو څخه جوړ هغه پدیده ده ، چې بشر د خپل ژوندانه په بهیر کې لاسته راوړې او کولتور دی . همدارنګه اخېړ هم همداسې بشري لاسته راوړنه ده او کولتور یې بولو . د متل فکر او تجربه هم د کولتور مانیز اړخ رغوي.

- د دې کلي خورزه ده ، په دې کلي واده ده :

په پورتني متل کې کلی ، خورزه او واده بشري لاسته راوړنه او کولتوري ګام دی . د دې ترڅنګ ، د متل مانا، فکر او تجربه هم کولتور دی .

- د ډول آواز ، له لرې ښه خوند کوي :

ډول هغه وسیله ده ، چې موسیقي تولیدوي او دا د بشر لاسته راوړنه او کولتور دی . همدارنګه د متل فکر او تجربه هم کولتور دی .

- د ډېرو امسا ، د یوه ګېډۍ :

امسا او ګېډۍ په پورتني متل کې راغلي ، چې دا د بشر لاسته راوړنه او کولتور دی . د دې ترڅنګ ، د متل تجربه او فکر هم کولتور دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د سورناچي څه دي ، يو پو دی :

په پورتني متل کې پرته مانا ، فکر او تجربه د کولتور مانيز اړخ دی . ورسره سورناچي هغه چاته وايي ، چې سورنا يا سورنی غږوي . دا د خلکو او بشر لاسته راوړنه ده ، ځکه يې کولتور بولو .

- دښمن دې ، چې په شاتو مري ، په زهرو يې مه وژنه :

په پورتني متل کې دښمن ، شات او وژل د انسانانو او بشر لاسته راوړنه او د کولتوري يون يو گام دی . همدارنگه د متل فکر او تجربه يې هم د کولتور برخه ده .

- د کږې تورې ، کوږ چړتون وي :

فکر ، موضوع او تجربه بياهم په پورتني متل کې د کولتور مانيز اړخ دی . همداسې توره او چړتون ، چې د بشر او خلکو لاسته راوړنه ده ، د کولتور مادي اړخ بولو .

- د کبر کاسه نسکوره ده :

کبر او کاسه د خلکو او بشر لاسته راوړنه ده ، ځکه يې کولتور بولو . د متل فکر او تجربه بياهم کولتور او د کولتور مانيز اړخ دی .

- د لوی منگي اوبه خوږې وي :

په پورتني متل کې پروت فکر او تجربه زموږ د خلکو او بشر اړوند ده . دا يوه بشري لاسته راوړنه ده ، ځکه يې کولتور بولو . همدارنگه منگی هغه وسيله ده ، چې اوبه پکې ساتل کېږي ، داهم بشري لاسته راوړنه ده او کولتور دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د نشت نه موزي ښه دی ، کټ پرې ډک وي :

کټ هغه وسیله ده ، چې موږ یې د کښېناستلو او خوب لپاره کاروو . دا وسیله په ګرمو سیمو کې ډېره کارېږي. کټ د خلکو او بشر لاسته راوړنه ده ، ځکه یې کولتور بولو، په متل کې نغښتی فکر او تجربه هم کولتور دی .

- د ننګرهار له ټوپۍ نه سړی سرتور ښه دی :

اوسنی ننګرهار ولایت ، چې د هېواد په ختیځ کې پروت دی ، د بشر لاسته راوړنه ده . ورسره ، ټوپۍ هم همداسې درواخله ، داهم بشر جوړه کړې ده . د متل فکر او کولتور بیاهم د کولتور مانیز اړخ دی .

- له واده نه وروسته ، سندرې څه په کار :

واده ، زموږ او د بشر دود او په ټوله کې کولتور دی . سندرې هم د بشر په وسیله رامنځته شوي او کولتور یې ګڼو . په متل کې پروت فکر او تجربه هم د کولتوري یون یو ګام دی .

- دوست ته تشه پیاله ، دښمن ته ډکه ( ۱۱ : ۷۸ ) :

فکر او تجربه بیاهم په پورتني متل کې د کولتور مانیز اړخ دی . دوست ، پیاله او دښمن ، زموږ او د بشر لاسته راوړنه ده ، چې داهم کولتور دی .

- دوه لوخ ، په حمام کې سره ښه ایسي :

حمام ، هغه ځای ته وایي ، چې په ژمي کې ګرمې اوبه او په اوړي کې هم مناسبې اوبه لري او خلک یې د ځان وینځلو لپاره کاروي . دا انسانانو جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی ، د بشر لاسته راوړنه او کولتور دی . د متل فکر او تجربـه هـم کولتـور دی .

- ډال چې گرځوي ، ځان به ساتي :

ډال هغه وسیله ده ، چې په جگړه کې د توري او نورو وسلو پر وړاندې د ځـان ساتنې او دفاع لپاره کارېږي. دا د بشر او انسانانو په وسیله رامنځته شوی او کولتور دی . ورسره ، د متل فکر او تجربه هم کولتور دی .

- ډمه گډېدلی نه شوه ، ویل یې ځمکه کږه ده :

ډمه هغه ښځینه نڅاگره ده ، چې د خلکو په ودونـو ، کـوژدو او نـورو خوښـیو کې نڅېږي. دا چـې یـو انسـان دې کـار تـه اوړه ورکـړي ، پخپلـه د بشرـ او انسانانو لاسته راوړنه ده ، ځکه یې کولتور بولو . همداسـې گډېـدل هـم هغـه عمل دی ، چې بشر او خلکـو رامنځتـه کـړی او کولتـور دی . د متـل فکـر او تجربه بیاهم د کولتور مانیز اړخ دی.

- روپۍ که کوچنۍ ده ، کارونه غټ کوي :

روپۍ د بشري او انساني ژوند په بهیر او پړاوونو کې رامنځته شوې ده . پخوا به مال په مال تبادله کېده . کله چې پولي واحد او روپۍ منځته راغلـه ، اوس د روپیو او مال تبادلـه کېـږي . روپـۍ د بشرـ او انسـانانو لاسـته راوړنـه او کولتور دی . د متل فکر او تجربه بیاهم کولتور او مانیز اړخ دی .

- زامن خوارہ دي ، غشي یې کاره دي :

غشی ، هغه وسیله ده ، چې په جگړو کې کارېږي او دښمن پرې ویشتل کېږي . په نورو کارونو کې هم کارېدای شي . دا انسـان او بشرـ رامنځتـه کـړی او کولتور دی . همدارنگه د متل فکر او تجربه هم د کولتور مانیز اړخ راښیي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما غوړي ، ستا په کورتو لوېږي :

غـوړي او کـورت ، زمـوږ او د بشرـ پـه وسـیله رامنځتـه شـوي دي ، دواړه د خوړلو توکي دي . دا چې بشري لاسـته راوړنـه ده ، کولتـور يـې بولـو . د دې ترڅنګ ، د متل فکر او تجربه بیاهم د کولتور مانیز اړخ دی .

- ژاولې چخونیا شوي ، نه د ستا شوي نه زما شوې :

ژاولې ، هغه ښکارنده ده ، چـې ژول کېـږي . تـر ډېـره يـې کوچنيـان او ښـځې کاروي . يو ډول خواږه او نور توکي لري . دا چې ژاولې د بشر لاسته راوړنـه ده ، ځکه يې د کولتوري يـون يـو ګـام بولـو . د متـل فکـر او تجربـه بيـاهم د کولتور مانيز اړخ دی .

- سخوندر ، د موږي په زور غورځي :

موږی ، هغه وسیله ده ، چې له لرګـي يـا اوسـپنې جـوړېږي او کـورني ژوي ، لکه : غوا خوسی او پسونه ور پورې تړل کېږي . دا د بشر په وسیله رامنځتـه شوی او کولتور دی. د متل فکر او تجربه بیاهم کولتور او مانیز اړخ دی .

- سر چې د شال وړ وي ، له کشمیره ورته راځي :

شال ، يو ډول ستره لوپټه يا پټونی دی ، چې ښځې يې د ځان او سر پټولو لپاره کاروي. دا د بشر لاسته راوړنه او کولتور دی . د دې ترڅنګ ، د متل فکـر او تجربه هم د کولتور مانیز اړخ دی .

- سل د زرګر ، يو د ګګر ( ۱۱ : ۹۳ ) :

ګګر ، چې دري کې يې ( اهنګر ) بولي ، هغه شخص دی ، چې لـه اوسـپنو نـه بېلابېلې کرګري او نورې وسیلې جوړوي . زرګر ، هغـه شـخص دی ، چـې لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرو بېلابېل سينګاري وسيلې جوړوي . سل ، چې يو عدد دی ، د بشرـ لاسته راوړنه ده . زرګر ګګر او سل تېول د بشري ژوند لاسته راوړنې او کولتـور دی . د متل فکر او تجربه بياهم د کولتور مانيز اړخ دی .

- سلواغه ، هره ورځ په څا کې نه لوېږي :

سلواغه هغه وسيله ده ، چې موږ پرې له څا اوبه راوباسو ، تر ډېره لـه ربـړ نـه جوړېږي . همدارنګه څا په ځمکه کې کنل شوي هغه سوري ته وايو ، چې اوبه ترې اخلو. سلواغه او څا ، دواړه بشر او انسانانو رامنځتـه کـړي او د کولتـور مادي اړخ دی . د متل مانيز ، فکري اړخ او تجربه د کولتور مانيزه برخه ده .

- سود په لاس ، پيسې تر کاله :

د پورتني متل فکر او تجربه بياهم د کولتـور مـانيزه برخـه ده . سـود ګټـې تـه وايي او دا هغه ښکارنده ده ، چې څوک پيسې چاته ورکړي ، پيسې يـې ثـابتې او په خپل ځای وي او ګټه ترې اخـلي . دا د بشرـ لاسـته راوړنـه ، دود او پـه ټوله کې کولتور دی . همدارنګه پيسې يا روپۍ ، چـې وړانـدې مـو پـرې رڼـا واچوله ، د بشر او انسانانو لاسته راوړنه او کولتور دی . د کولتور مادي برخه ورته وايو .

- غلبېل ولاړ شو ، کوزې ته يې ويل ، په تا کې دوه سوري دي :

د پورتني متل مانيز اړخ ، فکر او تجربه د کولتور مانيزه برخه ده . غلبېـل هغـه وسيله ده ، چې زموږ بشر رامنځتـه کـړی ، پـه دې وسـيله بانـدې غلـې دانـې پاکوي ، بې ګټې دانې له ګټورو جلا کوي . دا د بشر لاسته راوړنـه ده ، ځکـه يې کولتور بولو ، هغه هم مادي اړخ يا برخـه . د دې ترڅنـګ ، کـوزه هـم هغـه وسيله ، چې د اوبو د ساتنې او لېږدونې لپاره کارېږي ، پخوا له ختـې او اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پلاستيک او نورو توکو جوړېږي . داهم د بشر لاسته راوړنه ده او د کولتور مادي اړخ دی .

- غله څه غواړي ، د ځان مله غواړي :

غل ، هغه شخص ته وايي ، چې بې زياره او بې کړاوه ګټه په وړيا توګه لاسته راوړي . که څه هم غلا خپله يو کړاو دی ، خو غل هغه څوک دی ، چې د بل انسان ګټه ترې پټوي . غلا او غل د بشر لاسته راوړنه او کولتور دی . د غله ملتيا هم د بشر لاسته راوړنه او کولتور دی . د دې ترڅنګ ، د متل فکر او تجربه د کولتور مانيزه برخه ده .

- غوايي حلال نه دی ، ښانک په سر ګرځوي :

غوايي حلالول ، هغه عمل دی ، چې زموږ په ولس کې تاريخي او اسلامي ريښه لري . دا عمل د بشر لاسته راوړنه ده او کولتور دی . ښانک هم يوه وسيله او لوښی دی چې د بشر لاسته راوړنه ده او کولتور دی . د متل فکر او تجربه هم د کولتور مانيز اړخ دی .

- کېږدۍ ، پخپلو مراندو ولاړه ده :

د پورتني متل مانا ، موضوع او فکر کولتور او مانيز اړخ دی . کېږدۍ ، هغه وسيله ده چې خلک ترې د کوټې او ژوند تېرولو لپاره کار اخلي . تر ډېره يې کوچيان کاروي ځکه هغوی تل په سفر او لېږد کې وي . کېږدۍ د بشر لاسته راوړنه ده او کولتور دی.

- که کټوه خوټېږي ، خپلې شونډې څټي ( ۱۱ : ۱۱۲ ) :

کټوه يو لوښی دی ، چې له خټو جوړېږي . په دې کې خوراکي اومه توکي پخېږي او ساتل کېږي . دا څيز زموږ د بشر لاسته راوړنه ده ، ځکه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


کولتــور او د هغــې مــادي برخــه ګڼــو . د متــل فکــري او تجــربي اړخ بيــاهم د کولتور مانيز اړخ دی .

- ليونی ، په ژمي فالوده غواړي :

فالوده ، هغـه سـوړ خـوراک دی ، چـې د اوړي او ګرمـۍ پروخـت يـې خلـک خوري . بېلابېل خواږه توکي او نور ورسره ګډ وي . دا څيز يا خـواږه د انسـان او بشر لاسته راوړنه او ماده ده ، ځکه يې د کولتور مادي برخه بولـو . د متـل فکر او تجربه بياهم د کولتور مانيز اړخ دی .

- مردار څروکی اور نه اخلي :

د پورتني متل فکري او تجربي اړخ د کولتور مانيزه برخه ده . څروکـی ، چـې د لوپټې او پړونې يو ډول دی ، هغه څادر دی ، چې ښځې يې د سر پټـونې لپـاره کاروي . څرنګه چې له ټوکر څخه جوړ دا څيز د بشر لاسته راوړنـه ده ، ځکـه يې د کولتور مادي برخه بولو .

- مرګ د ټوپک ښه دی ، نه د تلتک :

ټوپک باندې وراندې وغړېدو ، داهم د کولتور مادي برخه ده . تلتک هم د بشر او انسانانو لاسته راوړنه ده او مادي کولتور دی . همدارنګه د متل فکـري او مانيز اړخ د کولتور مانيزه برخه ده .

- ناوې هی هی لري ، خو په زړه کې ګوړې ماتوي :

د پورتني متل مانيز اړخ ، فکر او تجربه زموږ د ژوند او کولتور مانيز اړخ دی . ناوې هغه پېغله ده ، چې يو نارينه ته ودېږي . د واده پـه لومړيـو کـې ورتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوې وايي . داهم د کولتوري يون يو ګام دی . ګوړه هغه خوږه ماده ده ، چې د ګني له اوبو څخه لاسته راځي . ګوړه هم زموږ او د بشر لاسته راوړنه ده ، څکه يې کولتور بولو .

- مينځه ، چې توده شي ، هلته بيده شي :

مينځه يا وينځه ، هغه ښځه ده ، چې په يو کور يا دربار کې خدمت کوي . مينځه بشري لاسته راوړنه ده او کولتور دی . د متل فکري او مانيز اړخ د کولتور مانيز اړخ دی .

- نه ګندم چوتې ، بېزاره يم له ګتې ( ۱۱ : ۱۳۴ ) :

ګنډل يو داسې عمل دی ، چې زموږ او د بشر د ژوند په بهير کې د اړتيا پر بنسټ رامنځته شوی او کولتور دی . چوتې يا څپلۍ هم د بشر يا انسانانو لاسته راوړنه ده څکه يې کولتور بولو . د متل مانيز او فکري اړخ د کولتور مانيز اړخ دی .

- وګي د ملغلرو هميانۍ پيداکړه ، د نينو ګمان يې پرې وکړ :

ملغلرې يو کانۍ او طبيعي ښکارنده ده ، چې بشر او انسان د خپلې ګټې لپاره تر کار لاندې راوستی . هميانۍ هغه وسيله ده ، چې پخوانيو به پکې پيسې او نور ارزښناک څيزونه ساتل . نينې هم د بشر لاسته راوړنه ده . دا يو ډول خوراکي توکی دی ، چې د جوارو دانې په شګه يا مالګه کې سرې يا پخېږي او خوړل کېږي . ټول ياد شوي څيزونه د کولتور مادي اړخ دی . همدارنګه د متل مانيز اړخ او فکر د کولتور مانيز اړخ دی .

- هوښياره مرغۍ ، په دوو لومو کې نښلي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومه ، له بېلابېلو توکو جوړه هغه وسیله ده ، چې مرغۍ پرې نیـول کېـږي . دا وسیله ښکاریان د ښکار لپاره کاروي . دا د بشر او خلکـو لاسـته راوړنـه ده ، چې د ژوند په بهیر کې یې رامنځته کړې او کولتور دی . د متل فکر او تجربه هم د کولتور مانیز اړخ دی .

- یا به تخت وي یا تابوت :

د پورتني متل فکري اړخ د کولتور مانیز برخه ده . تخت ، هغه وسیله ده ، چـې له لرګي او نورو توکو جوړېږي او د خوب او استراحت لپاره کارېږي . تـابوت هم له لرګیو او نورو توکو جوړېږي . په تابوت کې مړی ږدي او خاورو ته یې سپاري . تخت او تابوت دواړه بشري لاسته راوړنه ده او کولتور دی .

- یا به یې کولاله کړې ، یا به یې مالداره کړې :

کولال ، هغه شخص دی ، چې له خټو بېلابېل خټین لوښي او وسایل جوړوي . د دوی کار پخوا ډېر وو اوس د صنعت له پرمختګ سره لـږ شـوی ، کـولال او کولالي د بشر لاسته راوړنه ده ، ځکه یـې کولتـور بولـو . د متـل فکـري اړخ بیاهم کولتور او مانیزه برخه ده .

- یا د چلم سر ، یا د پلاو بېخ :

د پورتني متل فکري او تجربي اړخ د کولتور مانیز اړخ دی . چلم هغـه وسـیله ده، چې چرس ، بنګ او نور نشه یي توکي پکـې څښـل کېـږي . پـلاو یـو ډول خوراک دی ، چې له وریجو چمتـو کېـږي . چلـم او پـلاو دواړه د بشرـ لاسـته راوړنه ده او کولتور دی .

- یارانه ډوبه جاله ده :

(c) ketabton.com: The Digital Library



يارانه ، د دوو انسانانو ترمنځ اړيکو ته وايـي ، کېـداى شي د بېلابېلـو موخـو لپاره وي . دا د بشر لاسته راوړنه ده او کولتـور دى . جالـه هـم د بشر۔ لاسـته راوړنه او کولتور دى جاله هغه وسيله ده ، چې خلک پرې له سيندونو او اوبو اوړي ، د لېږد رالېږد لپاره کارېږي . داهم د خلکو په وسيله جوړه شوې ، ځکـه يې کولتور او د کولتور مادي اړخ بولو. د متل فکري اړخ د کولتور مانيز اړخ دى .

- يوه دړه اور نه کا ، دوه بنې کور :

په پورتني متل کې فکر او تجربه زموږ د ژوند د بهير يو رنګ او کولتـور دى . دړه ، د لرګي يوه برخه ده او بنه هغه ښځه ده ، چې مېړه يې بله ښځه لري ، يوه ښځه د بلې بنه کېږي . دړه او بنه د بشر لاسته راوړنه او کولتور دى .

**۸ ـ د متلونو ژبني او ادبي ارزښتونه :**

متلونه له لفظي او مانيزو ښکلاوو ډک دي . د متل ايجاز ، اختصار او په هغه کې د لوى مفهوم ځايول ، د هغه بلاغت او فصاحت هميشــه د ادب د تيـورۍ د محقيقينو پام ځانته اړولى دى .

د مانيزو ښکلاوو ، استعارو ، تشبيهاتو او نـورو ادبي خصوصـياتو پـه څنـګ کـې متلونــه داســې ژبنــي خصوصــيات هـم لـري ، چــې د ژبپوهـانو او لهجـه پېژندونکو خاصه لېوالتيا ورسره پيدا شوې ده .

متلونه د ژبې د ډېرو لهجو ساتندوى دي ، نو د لهجو د څېړونکو لپـاره پـه زړه پورې موضوع ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژبپوهانو او د ژبنیو خواوو د څېړونکو او محققینو له خوا په هغو کې د ژبو لرغوني فورمونه او ژبنۍ خواوې څېړل کېږي ( ۷ : ۵۷ ) .

۸ ـ ۱ ـ متل د بېلابېلو ګړدودونو ساتندوی :

پښتو متلونه د پښتني ټولنې او وګړو زېږنده ده ، دا چې پښتانه په بېلابېلو سیمو او ځمکو کې میشت دي او په بېلابېلو لهجو خبرې کوي ، نو متلونو کې هم دغه لهجې ساتل شوي دي . کله داسې هم کېږي ، چې یو متل په یو ځای کې په یوه لهجه او بل ځای کې په بله لهجه موجود دی ، لکه :

الف . د لودیز ګړدود متلونه :

- اسمون چې ځومره کښېږي ، دومره نه ورېږي .
- اوبو وړی ، خلیو ته لوس چوي .
- ابا مه کسه ، خورجین یې کسه
- ووړه د میچنې ، زوی د خچنې .
- څرې یې ګتېم ، داري یې ښتېم ( ۲۲ : ۴۳ ـ ۴۵ ) .

ب . د ختیز ګړدود متلونه :

- چې ډېر شي ، نو ګنده‌ېر شي .
- چې څه کرې ، هغه به ریبې .
- پردی کټ ، تر نیمو شپو وي .
- اختر څه پټ مېږه نه دی .
- د ګور شپه په کور کېږي نه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج . د سویلي ګړدود متلونه :

- سپمولی ، سپو خوړلی .
- بړغ د ملا ، امین د کلي .
- سپی چې ځومره غاپي ، هومره نه تراپي ( ۱۱ : ۹۰ ) .

۸ ـ ۲ ـ متل د ژبنۍ ویپانګې ساتندوی :

متلونه د نورو ادبي ارزښتونو ترڅنګ ، داسې ویل شوي ، چې د ژبې د بېلابېلو سیمو قومونو او ګړدودونو کلمې او لغتونه یې خوندي کړي دي . موږ په قاموس لیکنه او نورو ګرامري څېړنو کې له دوی پراخه ګټه اخیستلای شو . په دې برخه کې ټول متلونه د پام وړ دي . لکه : په ( زه چې ستا په منګ وم ، ونه د لونګ وم ) متل کې د (منګ او لونګ) کلمې یې یوه بېلګه بللی شو .

۸ ـ ۳ ـ د متل بېلابېلې بڼې یا ځیلونه :

یوه بله د پام وړ موضوع د متلونو بېلابېل شکلونه او بڼې دي ، چې په بېلابېلو ځایونو کې یې رنګ جلا دی او له یو بل سره څه ناڅه توپیر لري ، لکه :

پښې سترې ښې دي ، نه زړه سترې / لاسونه سترې ښه دي ، نه زړه سترې .
پور چې ځنډنی شي ، خندنی شي / پور چې ځنډنی شي ، جنګنی شي .

۸ ـ ۴ ـ د متل سندریزه ځانګړنه :

متلونه زموږ د ولسي یا فولکلوریک ادب برخه ده ، که هغه منثور دي او که منظوم ټول د بلا ادبي ارزښتونو څخه ډک دي . ګڼ شمېر متلونه وزن او

(c) ketabton.com: The Digital Library



قافیه لري ، چې دغه ډول توکي د وینا د ښکلا او اغیز ډېرونې لامل گرځي او دا بیا د ادب لپاره یو ارزښت دی .

متلونه د دې ترڅنگ ، چې پیاوړی مانیز اړخ لري ، په شکلي اړخ کې هم غوره جوړښت او ځانگړی سبک لري . جملې یې داسې دي ، چې ساده ، خو شاعرانه او هنري رنگ لري ، په جملو کې یې تر ډېره ښکلا ته پام شوی ، نه گرامري قانون ته . په دې مانا ، چې د دې کیسه کې نه دي ، چې مبتدا دې چېرته راشي او خبر دې چېرته یا فعل ، ضمیر چېرته او قید چېرته .

د (خوار په هندوستان هم خوار دی) متل که وگورو ، یوه بشپړه جمله ده ، خو ځانگړتیا یې په څه کې ده ؟

دلته د (خوار) کلمې تکرار دې منثورې جملې ته نږدې د نظم بڼه ورکړې ده او یو ډول قافیې ته ورته ځانگړتیا وربښي که دا جمله داسې راغلې وای ، چې (خوار په هندوستان هم هماغه شان دی / خوار په هندوستان هم هماغه ډول دی / خوار په هندوستان هم هماغه خوار دی / د دې ځای خوار او هندوستان یو دي / دلته خوار او هندوستان کې خوار یو شان دي) او داسې نورې بڼې ، چې د پورتني متل مانا خوندي کوي ، خو دا وروستنی یو هم هاغه خوند او رنگ نه لري ، چې لومړنی یا اصلي متل یې لري . یاد متل ښایي په ډېرو کتابونو کې د (منثورو متلونو) تر سرلیک لاندې راغلي وي ، خو دا منثور متل یو ډول نظمي ، هنري او شعري ځانگړنه او جوړښت لري . د منظومو متلونو خبره ، خو بیا روښانه ده ، چې قافیه او سجع لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متل ستر کمال او هنريت په همدې کې دی ، چې نه يواځې دا چې مـانيز اړخ يې ډېر بنستيز او ژور دی ، بلکې دا ژوره مانا بيا په داسې شکل کې وړانـدې شوې ، چې هغه بيا جلا ښکلا او ځانګړې جوړښت لري . همداسې بل متل دی:

- خوار په خپله خواري ، نه شرمېږي :

په پورتني متل هم د منثور متل ګمان کېږي ، خو داسـې نـه ده . دلتـه ګـورو ، چې د (خوار) کلمه له (خواري) سره يو ډول هماهنګي رامنځته کـړې ، سـندريز او نظمي بڼه خپلوي . د متل او جملې لومړۍ برخه (خوار پـه خپلـه خـواري) د همدغو دوو کلمو له کبله، ځانګړې ښکلا لـري . بيـا د متـل دويمـه برخـه (نـه شرمېږي) کې د (شرمېږي) کلمې وروستۍ څرګنده (ي) د (خواري) د کلمې له وروستۍ څرګندې (ي)سره بله هماهنګي جوړوي ، چې په دې توګه (خـوار) لـه (خواري) او بيا (خواري) له (شرمېږي) سره د هماهنګۍ او موسيقيت په زنځـير تړل کېږي .

د هر متل ژبه که وکتل شي ، يو ځانګړی هنريـت لـري . د متـل جملـې د ژبـې عادي جملې نه دي ، د کلمو ترمنځ يې ځانګړی تناسب او تړاو شته ، کلمې يـې داسې کارېدلي ، چې د يو او بلې ترمنځ غوره هماهنګي راشي .

- ګټې تر ګټو لاندې دي (۱۱ : ۱۱۴ ) :

پورتنی متل وګورئ ! دوه کلمې (ګټې ، ګټو) چې اصلي بڼه يـې (ګټـه) ده او دلته په جلا ماناوو (فايده او ډبره) راغلي ، په متل کې يې داسـې هماهنګـي او موسيقيت رامنځته کړی ، چـې ځـانګړې ښـکلا وربښـي . کـه دلتـه د (ګټـو) پرځای (ډبره ، کاڼی او تيږه) راغلی وای ، مانا به يې بيا هم بدلون نه وای کړی ، خو بيا به يې ښکلا نـه وه . د دې ترڅنـګ د دوو مانـاوو يـو ځـای کېـدل پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ګټه) کلمه کې هم داسې ګونګتيا ده ، چې سړی شک کې اچوي او ژر په مانا پوهېدلای نه شي .

- د لښکر په اخر ځه ، د ماتې په سر (١٦ : ٢٧٩) :

پورتنی متل هم د هر اړخيزې مانا ترڅنګ ، ښکلی شکل او ځانګړتيا لري . د متل لومړی برخه (د لښکر په اخر ځه) له دويمې برخې (د ماتې په سر) سره د (اخر) او (سر) په کلمه کې هماهنګي جوړوي او متل ته ادبي او هنري رنګ ورکوي . په ياد متل کې (اخر او سر) د قافيې کلمې او (ځه) رديف دی ، چې له دويمې برخې لويدلی دی. بلخوا ، که هغه متلونه تر کتنې لاندې نيسو ، چې واضح منظوم دي ، هم بلا ادبي ارزښتونه لري لکه :

- سل روپۍ پور کړه ، د اختر شپه په کور کړه (٧ : ٦٠) :

پورتنی متل د يو بيت په بڼه راغلی ، د لومړي او دويم نيم بيتي هماهنګه برخه يا د قافيې کلمې (پور او کور) دي ، چې (کړه) ورپسې د رديف په بڼه راغلی دی او د يو نظم ځانګړتياوې لري . همدارنګه ، بل متل دی :

- دروغ وايه ، په شرع يې روغ وايه :

پورتنی متل هم ، چې د نثر ګمان پرې کېدای شي ، نظمي ځانګړتيا لري . د متل لومړی برخه (دروغ وايه) له دويمې برخې (په شرع يې روغ وايه) سره د (دروغ او روغ) په کلمو کې هماهنګي جوړوي او (وايه) يې رديف دی .

بل متل دی :

- غل هم وايي خدايه ، مل هم وايي خدايه :

په پورتني متل کې ځانګړې موسيقيت ، هماهنګي او د قافيې کلمې موجودې دي . د متل لومړی (غل هم وايي خدايه) او دويمه برخه (مل هم وايي خدايه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې (غل او مل) د قافيې کلمې دي او (هم وايي خدايه) پـه دواړو کـې رديـف دی .

بل متل دی :

- د کاله کشر مه شې ، د کاروان مشر (۱۱ : ۷۱) :

پورتنی متل هم په لومړۍ او دويمه برخه کې هماهنگي او نظمي ځانګړتيا لـري . د لومړۍ (د کاله کشر مه شې) او دويمې برخې (د کاروان مشر) د (کشر ـ او مشر) کلمې د قافيې کلمې دي او (مه شې) رديف دی ، خـو لـه دويمـې برخـې غورځېدلی دی .

- ثونه چې خرګی ، هغونه يې بارګی :

د پورتني متل لومړۍ (ثونه چې خرګی) او دويمه برخه (هغونه يې بـارګی) لـه يو بل سره د (خرګـي او بـارګي) پـه کلمـو کـې هماهنګـي جـوړوي او دا دواړه کلمې يې قافيې دي.

۸ ـ ۵ ـ د متلونو کنايي ځانګړنې :

د متل ستر خصوصيت دادی ، چې هميشه کنايي مانـا افـاده کـوي ، کـه خپلـه اصله او حقيقي مانا افاده کړي هغه بيا متل نه دی ، لکه : (که غر لوړ دی ، پر سر يې لار ده) (د غله په زړه خلی وي) ، (په يو ګل نه پسرلی کېـږي) . دلتـه يو متل هم په خپله لومړۍ مانا نه دی او نه د (لوړ غر ، په سر يې لاره) ، (غـل ، زړه خلی) ، (ګل پسرلی) تر منځه ارتباط ملحوظ دی ، چې د متل حقيقي مانا ده ، بلکې دلته هر متل خاص کنـايي مفهـوم لـري چـې هـم اورېـدونکی پـرې پوهېږي او هم د ويونکي مطلب وي او هغه د متل کنايي مانا ده او کـه کنـايي مانا افاده نه کړي ، هغه متل نه شو بللی (۷ : ۵۳) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



متل په عامه توګه د استعارې او کنايې په ژبه خبرې کوي ، کله چې يو څوک دا وايي چې (باز که هر څو خوار شي ، چنګښې نه خوري ) نو هر څو که دغه خبره په لغوي مانا هم سمه ده ، خو نه د دغه متل کاروونکی دلته د (باز او چنګښې) ټکی د هغو د لغوي مانا لپاره کاروي او نه اورېدونکی دغه مانا ترې اخلي ، په دې متل کې د پښتونولۍ يو زرين اصل نغښتی دی . دلته له باز څخه مراد هغه مثالي انسان دی، چې د هر پښتانه زړه غوارې ، چې هغسې جوړ شي . دغسې انسان که هر څو پاتې راشي له داسې يوه شي څخه بيا هم ګټه نه پورته کوي ، چې د ده له شانه سره نه ښايي . همدغه راز که موږ ووايو (د بل سپی د ډوډۍ په زور خپلېږي) نو دلته هم (سپی او ډوډۍ) دوه داسې ټکي دي ، چې مجازي مانا ترې مراد ده او هر څوک ، چې يې واوري ، نو همدغه مجازي مانا ترې اخلي (٦ : ١٦٥ ) .

کله چې موږ په خپل ولس کې ، د متلونو کارونې ته ګورو ، نو د کنايې څرګونه پکې له ورايه روښانه دي . د بېلګې په توګه ، يو شخص ظلم کوي ، تيری کوي ، موږ د دې لپاره ، چې هغه د دې کار له بدو پايلو خبر کړو ، ورته وايو (مه کوه پر چا ، چې وبه شي پرتا) په دې مانا ، چې نن که ته له خلکو سره ظلم کوې ، سبا به پر تا کېږي . څرګنده ده ، چې پورتنی متل په يو خاص مورد کې کارول شوی ، شاليد کې يې کيسه ازمون او پېښه پرته ده . که ډله ييزه نه وي ، نو فردي او ذهني خو ده ، خو په نورو بېلابېلو مواردو کې يې کارونه کنايه ده .

يو بل متل دی :

- د خره مينه لغته ده :

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورتنی متل هم خپل شالید ، کیسه او پېښه لري . چا پورتنی حالت لیدلی یا یې ذهن کې مجسم شوی او بیا یې ویلی ، خو موږ په بېلابېلو وختونو کې یاد متل کاروو :

کله ، چې یوه ناپوه او کم عقل انسان غواړي له یو بل شخص سره خپله مینه څرګنده کړي ، نو خولې نه یې داسې کم عقله خبره ووځي ، د دې پر ځای ، چې هغه شخص سره خپله مینه څرګنده کړي او هغه ته ګټه ورسوي هغه ته زیان ور اړوي او هغه خپه کوي ، په دغه حالت کې متل کنایه کېږي .

بل متل دی :

- ړانده ته شپه او ورځ یوه ده :

پورتنی متل هم د تخلیق خپله ځانګړې پروسه لري ، خو موږ یې په بېلابېلو ځایونو او پېښو کې داسې کاروو:

یو شخص ته دوه بېلابېل شیزونه ، چې جلا ارزښت او قیمت لري ، ورښیو ، خو هغه د دې دواړو شیزونو په بېلابېلو ځانګړنو او توپیرونو نه پوهېږي ، دواړو ته ښه وایي او دواړه خوښوي . په داسې حال کې ، چې یو یې ښه او بل یې لږ ښه یا بد دی ، په دغسې حالت کې دا کنایه ده .

متل دی :

- د زرو قدر له زرګر سره وي :

د پورتني متل نږدې او له کلماتو راوتلې مانا داده ، چې د زرو په ارزښت او درنښت باندې زرګر پوهېږي ، څرګنده ده ، چې قدر یې هم له هغه سره وي او هغه څوک، چې د زرو په ارزښت او قیمت نه پوهېږي ، قدر یې هم ورسره نشته ، خو موږ پورتنی متل په خپله ټولنه کې په بېلابېلو ځایونو کې کاروو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څوک غوښه نه خوري ، تل له ترکاریو او سبزیجاتو ګټه اخلي ، خو بل انسان ، چې د ترکارۍ خوړلو سره مینه نه لري دا کار یې نه خوښېږي ، په داسې حالت یا هغه شخص ته د قناعت لپاره وایو ، چې (د زرو قدر له زرګر سره وي) . په دې مانا ، هغه څوک ، چې ترکاري خوري ، په ګټه یې پوه دی . په دې حالت کې دا متل کنایه ګرځي د هغې مانا لپاره چې موږ په یو ځانګړي او جلا حالت کې ترې واخیستله .

- مار خوړلی ، له پړي هم وېرېږي :

د دې متل نږدې او له کلماتو راوتلې مانا همدا ده ، چې څوک مار خوړلی یا چیچلی وي ، بیا له پړي هم وېرېږي ، هغه چې مار نه دی ، خو مار ته ورته شکل او جوړښت لري . د یاد متل د کارونې بل ځای داسې دی:
یو سوداګر ، چې د کچالو په پېر او پلور کې یې زیان لیدلی ، کله چې ورته وایو ، دا ځل پیاز واخله ، هغه د کچالو زیان ته په پام ، د پیازو له پېرلو هم ډډه کوي ، چې په دې کې به هم زیان وکړم ، په دغسې وخت کې موږ دا متل کاروو .
دلته د متل د کارونې د لومړني او دویم حالت ترمنځ ، مهالنۍ واټن شته ، چاپېریال هم توپیر لري ، خو مانیز تړاو لري . ویونکی یاد متل په دویم حالت کې کاروي . دلته دویمه مانا ، موږ د خپل اړتیا پر بنسټ ترې اخلو ، چې په دې حالت کې متل کنایه کېږي .

- سپیان غپېږي ، کاروان تېرېږي :

پخوا به سوداګري ، پوځي او حکومتي انتقالات په کاروانونو کې کېدل . اوښان ، پیلان او نور ژوي به د موادو د انتقال لپاره کارېدل ، کله به چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم کلي او کور خواته تېرېدل ، نو سپيو به ورپسې غپل ، خو د سپيو غپل د کاروان پر وړاندې کوم خنډ جوړولی نه شو او نه يې هغه ودرولی شو . دا متل په لاندې کارونې سره کنايه کېږي :
يو څوک د ژوند په چارو کې ډېر بريالی او سوکاله دی ، ښه يې ګټې او ښه يې څټې . خو د کلي او ګاونډ بدنيته وګړي د دې شخص په دې حالت خوښ نه دي . ده ته ستونزې جوړوي او دا شخص دې حالت ته ځوربږي . د ده يو خواخوږی ده ته په دې متل سره قناعت ورکوي .
د پورتني متل لومړنی حالت د متل له کلمو څرګندېږي . په دويم ځل استعمال سره، چې د ټولنې بېلابېل وګړي يې په بېلابېلو حالتونو کې استعمالوي ، کنايه کېږي ، چې په هر حالت کې يې استعمالوي د يوه مانيز تړاو له کبله کېږي .

- بې مېوې ونه څوک په ډبره نه ولي :

د دې متل څرګنده موخه دا ده ، هغه ونه چې مېوه نه نيسي ، نو د مېوې د راغورځولو او شکلولو لپاره يې څوک په ډبره هم نه ولي . خو موږ يې کله کنايه کوو :
کله ، چې د يو چا خير ټولنې ته نه رسېږي او خلکو سره ښېګڼه نه کوي ، نو د چا تر نيوکې لاندې هم نه راځي . يا داسې چې يو څوک د خلکو خدمت کوي ، هغوی سره ښېګڼه کوي او بيا ځينې ور پورې بدې خبرې کوي يا پرې نيوکه کوي هغه ناکراره کېږي ، د قناعت لپاره يې پورته متل کارېږي .

- جنګ سوړ شو ، ميری تود شو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا متل هم خپله کیسه او شالید لري ، په یوې پېښـې پـورې تړلـې تحربـه ده ، چې د شخص نوم (میری) هم پکې راغلی دی ، خو موږ یې څه وخت کاروو او څه وخت دا متل کنایه کېږي ؟

کله ، چې په یوه غونډه یا مجلس کې د خبرو یا غونډې ګډونوال پـه جـوش او خروش او احساساتو کې خبرې وکـړي ، خـبرې خلاصـې شي او مجلـس سـوړ شي ، د ښې ارامتیا او پایلې ته تر رسېدو وروسـته یـو څـوک راجـګ شي او بیا احساساتي او ګرمې خبرې وکړي ، نو خلـک دا متـل کـاروي ، پـه دغسـې استعمال سره وایو ، چې دلته پورتنی متل کنایه شوی دی .

۸ ـ ٦ ـ په متلونو کې تشبیه :

د متلونو له بېلابېلو ښکلاوو څخه یو هم د تشـبیه ادبي صـنعت دی ، چـې پـه ځینو متلونو کې لیدل کېږي ، لکه :

- بده ماینه ، تنګه موچنه ده ( ۱۱ : ۱۳ ) .

په پورتني متل کې بده ماینـه لـه تنګـې مـوچنې سره تشـبیه شـوې ده . تنګـه موچنه یې مشبه به او بـده ماینـه یـې مشـبه ده . د مشـبه او مشـبه بـه تـرمنځ ورتوالی یې (بدي او رنځول) دي .

- تربور ، د تربږمی موږی دی :

په پورتني متل کې تربور له د تربږمـی مـوږي سره تشـبیه شـوی دی . تربـور مشبه او د تربږمی موږی مشبه به دی . د دواړو ترمنځ ورتوالی په (زیان) کې دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د بل ډوډۍ یا پور ده یا پېغور :

په یاد متل کې د بل ډوډۍ له پور او پېغور سره تشبیه شوې ده . د بـل ډوډۍ مشبه پور او پېغور مشبه به دي . د دواړو یا ټولو ورتوالی پـه (بـدوالي) کـې دی .

- ښځه د تن جامه ده :

په پورتني متل کې ښځه له تن جامې سره تشبیه شوې ده . ښځه مشبه او د تن جامه مشبه به دی . د دواړو ورتوالی په (درنښت او پرده) کې دی .

**۹ ـ د متلونو شالید :**

متلونه ، دیوې پېښې ، کیسې او تجربې لنډیز ، پایله او نچوړ دی .

متلونه ، عادي ، ساده او ورځنۍ جملې نه دي ، لکه : کـه ووایـو (مـوږ ډوډۍ خورو) دا یوه عادي او ساده جمله ده مانا یې هم سیده او روښانه او د کـارونې یواځې یو ځای او مورد لري . هغه وخت یې کاروو ، کله چې ډوډۍ خورو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



متل بیا داسې نه دی ، د متل مانا دومره سیده او څرګنده نه ده . د کارونې ځای یې کېدای شي ، په لومړني ځل کارونه کې جوت وي ، خو لـه هغـې وروسـته یې عاموالی موندلی او نورو بېلابېلو ځایونو کـې کـارېږي . کلـه چـې ځینـې متلونه اورو ، نو سمدستي مو یو اوږد بهیر فکر ته راځي .

متلونه شالید لري ، یا یې په شالید کې یوه کیسه او پېښه پرته ده یا تجربه . دا تر ډېره ډله ییزه بڼه لري ، ډېر وګړي پکې ګډون لري ، خـو کلـه ناکلـه کېـدای شي ، د یو وګړي او شخص تجربـه وي . پـه دې مانـا ، چـې یـو شـخص خپلـه تجربه په یوه لنډه وینا کې رانغښتې وي او هغې د متل ځای خپل کړی وي . د ځینو پوهانو وېناوې چې متلونه شـوي دي ، د همـدې بېلګـه کېـدای شي . پـه متلونو کې هماغه یې ملي ، عام او ولسي رنګ او دریځ لري ، چې ډله ییز وي ، په دې مانا چې په شالید کې یې داسې تجربه او ازمون پروت وي ، چې ولس پکې ګډون ولري ، همدا ډول متلونه خواږه او پاخه هم دي .

د متلونو شالیدونه بېلابېل رنګونه لري . ځینو کې د قرانکریم د ایتونو او ځینو کې د احادیثو مانا نغښتې ده . ځینې یې د پوهانو وېناوې او نـور یـې زمـوږ د ټولنې او خلکو کیسې او تجربې دي . هغه متلونه ، چې په بېلابېلـو ژبـو کـې ګډ دي هم کیسې او تجربې لري ، خو د لومړنۍ سرچینې یا لومړنۍ ژبې ، چـې دا متل پکې ویل شوی مالومول په کار وي ، چې دا یو ګـران کـار هـم دی . د ځینو متلونو سره کېدای شي ، کیسې او تجربې هم یو بل تـه لېږدېـدلې وي او ځینو ته کېدای شي په هره ژبه کې جلا شالیدونه شتون ولري .

ګڼ شمېر متلونه ، چې زموږ په ژبه او ولس کې شته ، کیسې او پېښې یې هم خلکو ته مالومې دي . دا ډول شالیدونه ګڼو لیکوالو لـیکلي او خونـدي کـړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې دي ، خو يو شمېر متلونه داسې دي ، چې پېښې او کيسې يې نه چا لـيکلي او نه خلکو کې شته . د دې لامل دا کېدای شي ، چې متـل ، خـو يـوه عامـه ، خوږه او لنډه جمله ده ذهن يې هم ښه خوندي کولای شي ، خو د متـل کيسـه ، پېښه او تجربه بيا اوږده او دومره خوږه نه وي ، ځکه لـه خلکـو هيـرې شـوې دي . بلخوا د متلونو عاموالی ، د دې اړتيا نه پېښوي چې د متـل هـر ويـونکی دې اوروېدونکي ته د متل کيسه او پېښه هم بيان کړي . همدارنګه دا چې اوس متل ، په داسـې ځـايونو او مـواردو کـې کـاريږي ، چـې د متـل لـه اصـلي او لومړنۍ کارونې سره شکلي بدلون لري ، له دې کبله هم د شاليد ژوندي سـاتل او خوندي کېدل ګران وي .

د متلونو شاليدونه ، د هغوی مانا ته په کتو ، په بېلابېلو ډولونو ويشـل شـوي دي ، چې په راتلونکو سرليکونو کې يې لولو .

۱۰ ـ د متل د شاليد ديني اړخ :

د متلونو په منځ کې يو شمېر يې داسې دي ، چې تر شـا يـې د قرانکـريم د يـو آيت يا د حضرت محمد (ص) د ويناوو او حديثونو مانا پرتـه ده . دا ډول متلونـه هم په پښتو ژبه کې شته ، چې موږ يې دلته څو بېلګې ګورو :

- ښه چې دې ياد کړه ، نو دې برباد کړه .

د پورتني متل شاليد په لاندې ديني او شرعي بنسټ ولاړ دی .

لاتبطلو صدقتکم بالمن و والاذا ( االقران ) .

ژباړه : خپلې نيکۍ په منت او احسان سره مه باطلوئ .

افةُ الاحسان المن ( الحديث ) .

ژباړه : د نيکۍ آفت ، منت دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د خدای بې حکمه یوه پاڼه لا نه خوري .

د پورتني متل شالید هم په لاندې دیني لاسوندونو ولاړ دی :

وما تسقُطُ من ورقةٍ الا یعملها ( القران ) .

ژباړه : داسې پاڼه نشته ، چې هغه راایله شي او خدای (ج) دې نه وي پرې خبر .

لا تَتَـحرَّک ورقةٍ الا باذن الله ( الحدیث ) .

ژباړه : د الله ج له ارادې پرته یوه پاڼه خوځېدلای نه شي .

- خپلوان لړمان دي .

د پورتني متل بنسټ لاندې حدیث شریف دی :

الاقاربُ کالعقارب .

همدارنګه :

- حسد داسې نیکي خوري ، لکه بل اور چې لرګې خوري .

د پورتني متل شالید کې لاندې حدیث شریف پروت دی .

الحسدُ یاکلُ الحسنات کما یاکلُ النارُ الحطب .

ژباړه : حسد ، نیکۍ داسې خوري ، لکه اور چې لرګي خوري .

بل متل دی :

- حب د دنیا ، سر د خطا .

د پورتني متل په شالید کې لاندې حدیث شریف پروت دی .

حبُّ الدنیا راس کلِ خطیـــةٍ .

ژباړه : له دنیا سره مینه ، د ټولو خطاوو سر دی .

بل متل دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چې په ځان کې يېويني ، هغه يې په جهان کې ويني .

د پورتني متل شاليد کې لاندې حديث شريف پروت دی :

من رای في نفسه فقد رای في غيره .

ژباړه : څوک چې څه په ځان کې ويني ، په نورو کې يې ويني .

بل متل دی :

- شرم د ايمان پوښ دی .

پورتنی متل هم په لاندې بنسټ ولاړ دی :

حياءُ المرءِ سترة .

همدارنگه :

- حيا نيم ايمان دی .

متل په لاندې حديث شريف ولاړ دی .

الحياءُ نصفُ الايمان . حيا نيم ايمان دی .

په همدې ډول لاندې متلونه :

- سپين ويښته د مرگ استازی دی .

رسول الموت الشيب . الحديث

- مرگ د عالِم ، مرگ د عالَم .

موت العالم موت العالم . الحديث

- شر د عالِم ، شر د عالَم .

شر العالم ، شر العالم . الحديث

- د مسلمان زړه دخدای (ج) کور دی .

قلب المومنِ عرش اللهِ . الحديث ( ۱۳ : ۴۳ ، ۴۴ ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱ ـ د متل د شالید تاریخي اړخ :

په پښتو متلونو کې یو شمېر یې داسې شالیدونه لري ، چې تاریخي او واقعي کیسې او پیښې دي . په دې ډول متلونو کې د ځینو پاچاهانو ، اشخاصو او ځایونو نومونه راغلي چې واقعیت ته یې نږدې کوي .

د دې ډول شالیدونو څو بېلګې دا دي :

- انصاف له حیوان سره هم په کار دی :

ویل کېږي د اوسني هلمند ولایت د بست کلا کې د نوشیروان عادل د پاچاهۍ مرکز یا پلازمېنه وه . نوشیروان عادل یو ډېر عدالت خوښوونکی انسان وو ، له هر چا سره به یې انصاف کاوو او د چا حق به یې نه په خپله خوړ او نه یې بل چاته اجازه ورکوله چې د چا حق وخوري یا ظلم پرې وکړي .

نوشیروان عادل د دې لپاره ، چې خلک وکولای شي ، په اسانۍ سره د ده دربار ته راشي او خپلې غوښتنې وړاندې کړي د بست کلا په باندې برخه کې پر یوه دېوال زنګ نصب کړی وو . هر چا به چې غوښتل نوشیروان وګوري او خپل عرض ورته وکړي ، دا زنګ به یې واهه ، بیا به د پاچا عسکر ورتلل او دا سړی به یې د پاچا دربار ته راووست او نوشیروان به یې عرض ته رسېده .

وایي یوه ورځ یو خر د کلا له څنګه تېرېده ، په زنګ پورې لګېدلی ، پاچا چې زنګ اورېدلی خپلو کسانو ته یې امر کړی ، چې عارض د ده حضور ته راولي . د پاچا کسانو ولیدل ، چې انسان نشته او خر په زنګ پورې لګېدلی دی . پاچا ته یې دا خبره وکړه ، پاچا ورته وویل ، رایې ولـه . حتماً څه خبره شته ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکرو خر د پاچا حضور ته راوست ، پاچا ولیدل ، چې خر ډېر ډنګر دی ، سمدلاسه یې امر وکړ ، چې د خره څښتن حاضر کړي. پاچا د خره څښتن ته مناسبه سزا ورکړه او توصیه یې ورته وکړه چې انصاف له هر چا سره په کار دی ، وروسته له هغه دا متل عام شو ( ۱۲ : ۲۱ ، ۱۳ ) .

- احمد د خسو د اوړو ، ککو د مرکو :

وايي دپروان په ولایت کې دوه ورونه ول ، یو احمدخان نومېده او بل یې ککو نومېده . احمدخان به خواري مزدوري کوله او په خپله کرونده کې به یې کار کاوه او د کور خرڅ به یې برابروه ، ککو په ځوانۍ کې د نسوارو جوړولو په کارځی کې کار کاوو ، له همدې کبله یې سترګې د وخت په تېرېدو سره ړندې شوې وې . ده به کاروبار نه کاوو یواځې به په کور ناست وو ، مېلمانه به چې راتلل ، ککو به ورسره ناست وو ، مجلس به یې ورسره کاوه او د کلي کور تېولې خبرې او مرکې به ککو ترسره کولې . مور به یې ویل ، چې شکر دوه زامن لرم احمد د خسو او د غلو ، ککو د مرکو ، یعنې احمدخان کور ته لرګي ، غله او نور خرڅ برابروي او ککو مرکې خلاصوي . وروسته بیا دا خبره متل شوه ( ۱۲ : ۱۴ ) .

- اوبه چې شي تر غاړې ، زوی او لور شي تر پښو لاندې :

روایتونه وايي د نوح (ع) د توپان په وخت کې یو سړی له توپان څخه د خلاصون لپاره له خپل زوی او لور سره د یوه لوړ غره سر ته وختل ، خو هلته هم اوبه ور ورسېدې . سړي لور او زوی راواخیستل او د یوې بلې جګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوکې سرته وختل ، خو هلته هم اوبه وروړسېدې ، نـو د ځـان د خلاصـون پـه خاطر يې زوی هم تر خپلو پښو لاندې واچاوه ، خو اوبه نورې هم ډېـرې شـوې او بيا د سړي تر غاړې ورسېدې . سړي د ځان د ژغورلو لپاره خپله ګرانـه لـور هم تر خپلو پښو لاندې واچوله ، خو د توپان اوبه نورې هم ډېرې شوې او سړی له اولادونو سره يوځای غرق شو ( ۱۲ : ۱۵ ) .

۱۲ ـ د متل د شالید افسانوي اړخ :

د متلونو په شالید کې یو شمېر پېښې ، تجربې او کیســې افســانوي رنـګ لري ، چې لاندې يې څو بېلګې لولو:

- په ګیدړې پورې خپل پوست اور دی :

یو وخت یوه ګیدړه د کلي یوه کور ته ورغله ، چې چرګـان وخـوري ، خـو د کور خاوند پرې خبر شو . د هغه په نارو نور کلیوال هم خبر شول ، ټول کلیوال په ګیدړې پسې راووتل . ګیدړه مخکې کلیوال ورپسې ول ، نـږدې وو ، چـې ګیدړه ونیسي ، خو ګیدړې یو دم چیغې کړې :

اور دی ، اور دی !

د کلي خلکو فکر وکړ ، چې په کـلي کـې اور لګیـدلی ، بېرتـه وګرځېـدل او د کلي په لوري يې منډه کړه . ګیدړه په روغو پښو تري خلاصه شـوه ، کلیـوال ، چې کلي ته راورسېدل ، اور نه وو لګېدلی . له ګېدړې څخه چا پوښتنه وکـړه ، چې ته خو تل وايي چې زه دروغ نه وایـم ، ولـې دې دورغ وویـل ، چـې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلي کې اور لګیدلی ؟ ګیدړې ورته وویل : ما هېڅکلـه دروغ نـه دي ویـلي ، رښتیا هم اور وو . ورته یې وویل ، چې تا دروغ ویلي ، هیڅا هم اور ونه لید ، کلیوال چې بېرته کلي ته ورغلل اور نه وو لګیـدلي تـا هسـې چیغـې وهلـې . ګېدړې ورته وویل : ما دروغ نه دي ویلي ، ما هیڅکله دا نـه دي ویـلي ، چـې په کلي کې اور بل دی . ما ویلي چې اور دی او هغه اور زما په پوست دی په ما پسې مې خپل پوست اور دی ، کلیوالو زما د پوست لپاره په ما پسې منډې وهلې چې ما ونیسي او له پوست څخه مې ګټه واخلي . نو ، ماته خپل پوسـت اور دی .له دغې پېښې وروسته ، دا متل وشو ، چې پـه ګیـدړې پـورې خپـل پوست اور دی .

( ۱۲ : ۲۲ ،

( ۲۳

- نیکي سین هم نه وړي :

هسې وایي ، چې د یوې کوترې ځاله دیو داسې کمر په غاړه وه ، چـې پـه بـیخ کې یې سین بهیده . کوترې بـه تمامـه ورځ د خپلـو بچوړـو لپـاره دانـې مـانې راټولولې . بچوني یې په ګېډه ښـه مـاړه او د دنیـا لـه هـره غمـه بېغمـه وو . د کوترې بچوړو، چې لږ څـه سـترګې خلاصـې شـوې او شـاوخوا تـه یـې لیمـې وغړولې ، نو د مور دې عادت ته حیران شول چې هغې د دوی لـه خـوړو څنـې څو دانې هره ورځ سین ته اچولې . یوه ورځ یې بچوړو ورڅخه د دې کـار وجـه وپوښتله ، هغې ورته وویل : بچو ! یواځې ځان ساتل او مـړول ضرور نـه دي ، بلکې نیکي کول هم ضرور دي . بچو یې په تعجـب سره پوښـتنه څنـې وکـړه ، چې له اوبو سره نیکي کول څه مانا لري ؟ مور یې ورته وویل : نیکي له هر چا او له هر څه سره ښه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې خبرو څو ورځې وروسته يوه ورځ ، چې کوتره په ځاله کې نه وه ، يو مار د دوی ځالې ته راپورته شو بچونو يې د الوتلو کوښښ وکړ ، خو يو هم د الوتلو قابل نه ول ټول په سين کې ولوېدل ، په سين کې کبانو وپېژندل ، چې دوی د هغې مور بچونې دي چې هره ورځ به يې سين ته داني رااچولې . کبانو ته د هغې نيکي سترګو ته ودرېده ، د کوترې بچونې يې ساحل ته راوايستل او له لاهو کيدو يې وژغورل .

ماښام چې کوترې دوی د سين په غاړه وموندل او د کبانو د نيکۍ کيسه يې واورېده نو بچيانو ته يې وويل :

اوس ، خو پوه شوئ بچيانو ، چې نيکي سين هم نه وړي ( ۱۲ : ۵۷ ) .

۱۳ ـ د متل د شاليد اخلاقي او ټولنيز اړخ :

د متلونو پـه شـاليد کـې د کيسـو او تجربـو لويـه برخـه ټـولنيزه ، اخلاقـي او نصيحت ډوله بڼه او محتوا لري ، لکه:

- د خره څښتن ته ورپيښه ده :

ويل کيږي د چا خر له بار سره په ختو کې لويدلی وو او په وياله کې بند پاتې وو ، د خره څښتن ، چې هر څومره زور وواهه ويې نه شو کولای ، چې خر له ختو وباسي . له يو بل لاروي يې مرسته وغوښتـه ، لاروی راغـی خـر يـې تـر غوږو ونيو ، خو د زړه زور يې نه کاوه . په دې منځ کې ډېـر وخـت تېـر شـو ، شپه رانږدې وه ، د خره خاوند وليـدل ، چـې لاروی هسـې لګيـا دی ، د زړه لـه اخلاصه مرسته نه کوي ، نو ورته يې وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروه ! کور دې ودان ، ورځه ورځه ، چې په تا ناوخته کېږي . د خره څښتن تـه هسې هم ورپېښه ده . يعنې چې ماته خو راپېښه ده ، مجبور يـم خپـل کـار بـه کوم ( ۱۲ : ۹ ) .

- ته مې وزې وهه ، زه به دې روژې وهم :

وايي پخوا زمانو کې يو مالدار سړي روژې نه نيولې . چا ورته وويل ، چې روژې نيسه خدای (ج) به دې په مال کې هـم برکـت واچـوي ، هغـه وو چـې د روژې په مياشت کې يې په روژه نيولو پيل وکړ ، خو هغه کال د وزو ناروغي هم خپره شوه . ده ډېرې زياتې وزې درلودې ، هر سهار به ، چې له خوبه پاڅېده ، ليدل به يې ، چې څو وزې يې مړې شوې دي . دې سـړي هـم بېرتـه پـه روژه خوړلو پيل وکـړ ، چـې هـره ورځ بـه يـې وزې مـړې ولېـدلې ده بـه هـم ډوډۍ راوغوښته ، ډوډۍ به يې وخوړله او دا به يـې ويـل چـې خدايـه (ج) (تـه مـې وزې وهه ، زه به دې روژې وهم) د دې سړي ټولې وزې مردارې شوې او روژه يې هم ونه نيوله ، يعنې دوه تاوانه ورواوښتل ، له هغه وروسته دا خبره د متـل غوندې مشهوره شوه ( ۱۲ : ۱۰ ) .

- پکه ، چا په ورا نه پرېښوده ، دې د سر کجاوې غوښتې :

په زياترو کليوالو سيمو کې داسې دود دی ، چې د ناوې د راوړلو لپاره لومړۍ درې ورځې يا هم يوه ورځ دمخه خيښان د زوم له کوره د ناوې کور ته ځـي او بيا د واده په ورځ ورا د ناوې د راوستو لپاره ځي او بيا ناوې راوړي . پخوا به يې ناوې په ډولۍ او کجاوو کې راوړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي په يوه واده کې يو پکه نجلۍ وه . دا تر نورو مغروره هم وه ، نو ويل يې ، چې زه له نورې ورا سره نه ځم ، زه له ناوې سره يوځای د مخې په ډولۍ کې کښېنم ، چا ورته وويل اوس هم خوشحاله اوسه ، چې مور دې له ورا سره پرېږدو ته لا خوشحاله نه يې او د سر کجاوې غواړې .

له هغه وروسته دا متل وشو .

دې ته نږدې بل متل هم شته :

پکې ورا دې راغله ، دې ويل گومان مې نه شي .

يا : ورا دې راغله پکې ، دې ويل گومان مې نه شي ادکې ( ١٢ : ١٨ ) .

**۱۴ ـ د متل شاليد ، له اصطلاح سره د توپير کرښه :**

اوس نو دا خبره نږدې روښانه شوه ، چې متلونه شاليد لري او په هغه کې يوه کيسه پېښه او تجربه پرته وي په دې اړه مو ډېر څه ولوستل .

اصطلاح يا گړنه يو بل ژبنی واحد دی ، چې ډېر وخت يې له متل سره توپير ورکېږي د دې دواړو واحدونو د توپير په اړه ، لاندې خبرې لرو ، خو يوه خبره دلته يادوو چې هغه شاليد او په هغې کې پرته پېښه او تجربه چې مور د متل لپاره لرو ، په اصطلاح ، گړنه يا محاوره کې نشته . په دې مانا چې اصطلاح شاليد نه لري يا هاغسې پېښې او کيسې نه لري ، چې متل يې لري . داسې نه دي شوي ، چې چا د کومې اصطلاح کيسه يا تجربه اورېدلې وي . دا يو بل توپير دی ، چې مور يې د متل او اصطلاح په توپيرونو کې ډېرولای شو .

د متلونو او اصطلاحاتو په اړه ځينې نور بحثونه داسې دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د متلونو په اړه د پوهانو څرګندونو ته ځېر شو ، د متلونو په باره کې یواځې په ماناییزه او موضوعي اړخ ډېره څېړنه شوې ، جولیزه او ګرامري هغه یې ژوره څېړل شوې نه دې .

ژبه د انسانانو د ذهني ښکارندو (پدیدو) د څرګندونې یوه غوره وسیله ده ، له همدې امله کېدای شي ډېر ژبني واحدونه سره ورته دندې ترسره کړي ، نو له ماناییز او موضوعي پلوه د ژبنیو واحدونو ویشون ګرانه خبره ده ، ځکه ټول ژبني واحدونه د ذهني ښکارندو د څرګندونې کالبونه دي ، ګړېدونکي د دغه کالبونو په مرسته خپل ذهني توکي اورېدونکي ته وړاندې یا وراوروي . په هره توګه هڅه کوو د متلونو او اصطلاحاتو یا ګړنو (Idioms) ترمنځ د توپیر کرښه په لاندې څرګندونو سره پیاوړې کړو :

متلونه هغه ژبني واحدونه (غونډلې) دي ، چې د انساني ژوند د بېلابېلو اړخونو څرګندویي کوي . نړدې ټول هغه موضوعات ، چې انسانان یې په ذهنونو او فکرونو کې لري متلونه یې رانغاړي . متلونه یو نصیحت لرونکې وینا یا غونډله ده . پښتو متلونه بیا له ماناییز او منځپانګیز اړخه د پښتني چاپېریال انځورګري او څرګندونه ده . متلونه د جولې له مخې د غونډلې په څېر رغنده توکي لري . د وینا په دواړو ډولونو (نظم او نثر) کې شته . تل جوت او نه اوښتونکي دي ، خو کېدای شي په نظم او شعر کې یې رغنده توکي خپل ځای ونجوي او د نوي چاپیریال سره ځان سم کړي ، خو بیا هم هر رغنده توکی په هرځای کې ، چې وي ټولیزه مانا نه اغیزمنوي .

کله ناکله کېدای شي په متلونو کې ځینې توکي د ښکلا په موخه وغورځي . په دې مانا چې ځینې ګړونه او ویونه د متل د ویلو پروخت ونه ویل شي ، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلمنځي پوهاوي پر وخت کومه نیمګړتیا نه پېښوي؛ اورېدونکی پرې پوهېږي ، لکه : زه په طمع (یم) ـ ته بې غمه (یې) . دلته د وزن ، قافیې او ښکلا لپاره (یم) او (یې) مرستیال کړونه غورځېدلي دي یا لکه : د کور ګټه ، د لاهور ګټه (ده) . دلته هم (ده) د ښکلا ، قافیې او وزن په موخه غورځول شوی دی .

که د متل لپاره یواځې یو شکل او جوله غوره شي ، چې د نورو ژبنیو واحدو سره غوځ او جوت توپیر ولري نو د متل ، اصطلاح (Idiom) او نورو ژبنیو واحدونو ترمنځ ورته والی او ګډوالی به له منځه لاړشي ، چې تر دې دمه یو کړکېچ دی .

ځینې شعري یا نظمي ډولونه (لنډۍ یا یو بیت) هم د متل تر سرلیک لاندې راوړل ـوي ، چې فکر کوم متل ته د یو شکل ټاکنې په برخه کې لا خبره تیاره کوي . هر ژبنی واحد ، چې وګړي یې د خپلو خبرو او وینا په بهیر کې د وینا د ښکلا ، اغېز او پیاوړتیا لپاره کاروي ؛ متل بللی نه شو ، لکه : یو څوک چې د یوې موضوع د روښانتیا لپاره د قرانکریم یو ایات ، د حضرت محمد (ص) یوه وینا ، شعر، نکل ، د پوهانو ویناوې او نور څه وایي ، ټول یې متلونه نه دي ، کېدای شي له څو پړاوونو وروسته د متل د جولیزې او مانایيزې ځانګړتیا ، له راخپلولو وروسته یې متل وبولو.

ځینې متلونه ، چې وړاندې په نثري یا نظمي بڼه وو ، کېدای شي کوم شاعر په خپل شعر یا نظم کې کارولي وي ، چې غوړې لا غوړې کړي ، چې په بدیع کې ورته ارسال المثل وایي . دغه ډول شعرونه هم متلونه بللی نه شو ، بلکې په کار ده د متل آره بڼه ترې واېستل شي . همدارنګه کېدای شي د ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



متلونو آره بنه له منځه تللې وي او هغه بيت ، چې شاعر پکې هغه متل راوړی ، پاتې وي او د منظومو متلونو برخه گرځېدلې وي .

لکه چې وړاندې مو وويل ، متلونه کېدای شي د وينا په دواړو ډولونو(نظم او نثر) کې شتون ولري ، يعنې کېدای شي منثور وي يا منظوم ، ځکه کـه متـل د پوهانو او ځيرکو وگړو د تجربو زېږنده وبولو ، نو دا بيا په دې پورې تړلـې ده ، چې د متل لومړنی ويونکی د يـوې ژبـې عـادي هغـه دی او کـه يـو شـاعر يـا شاعروزمه يا هم ناظم که خبره لا روښانه او څرگنده کړم ، داسې چې :

که د متل لومړنی ويونکی ناظم يا شاعر وو ، نو څرگنده ده ، چې متل يې هـم د نظم او شعر په بڼه دی او که عادي ويونکی ، متل يې هم عادي نـثر ، خـو بيـا هم متل د عادي او ورځنيو خبرو په څېر بللی نه شو، بلکې يو ځـانگړی جـوليز او مانايیز جوړښت لري . متلونه د پښتو لنډيو په څېر لنډ او کوچنی فـورم دی ، چې پراخ مانايیز جوړښت لري او يـوه سـتره پېښـه او کيسـه پـه ځـان کـې ځايوي .

متلونه د يوې پېښې يا کيسې نـه وروسـته ويـل شـوي ، يـوه اوږده او پراخـه موضوع پـه لنډ شکل کې ځايوي. له همدې کبله پرې پوهېدنه يو څه ستونزمنه وي . له بلې خوا متلونه مانايیز پراخوالی او جامعيت لري ، په دې مانا چې کـه د متل کيسې  يا پېښې ته چې تر متل وړانـدې پېښـه شـوې وکتـل شي ، نـو ښايي متل تنگ او راټول کړي او پر هماغه ځانگړې موضـوع يـې وڅرخـوي ، خو د متل شکل او رغښت دا برید ماتوي او داسې څېـره غـوره کـوي ، چـې د پراخو او ډېـرو موضـوعاتو د څرگنـدونې جوگـه شي او هرڅـوک يـې د خپلـې موضوع سره پـه تړاو کې ووايي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متلونو پروړاندې اصطلاح یا ګړنه (Idiom) یـو داسـې واحـد دی ، چـې دا د یوې غونډلې (Sentence) نه بلکې د یوه غونډ (Phrase) بڼه یـا جولـه لـري . همدارنګه له مانایيز پلوه هم نیمګړې وي . ګړنه د غونـډلې یـوه برخـه وي پـه داسې حال کې ، چې متل یوه بشپړه غونډله (جمله) وي . لکه چې وړاندې مو وویل د متل موضوع یو ډول نصیحت وي ، له دې اخوا څه نـه رااخلـي . خـو ګړنه بیا داسې ترلې او ناخپلواکه نه ده تول تـولنیز موضـوعات رانغـاړي ، نـه یواځې نصیحت ، وجیزې او وراشې ( ۱۹ : ۴۵ ) .

نن سبا زموږ د ژبې زیاترو لیکوالو اصطلاحات (ګړنې) او متلونه سره یو کړې دي او اصطلاحاتو هم د متلونو ځای نیولی دی او زیاترو لیکلې کتـابونو کـې په همدې ډول خپرل شوي دي . مګر که چېرې د خپلې ژبې په تـاریخ یـوه څـه وړاندې نظر واچوو او غور پرې وکړو ، نو دابه راتـه څرګنـده شي ، چـې پخـوا متلونه د اصطلاحاتو پـه څېر نه وو، بلکې د متل په دواړو برخو کـې بـه یـوه څه همغږې موجوده وه ، لکه : ژرنده که د پـلارده ـ هـم پـه وار ده ، چـې ویـې غواړې په خوله ـ نو وبه یې خورې په څه ، چې څه کرې ـ هغه بـه رېبـې . خـو نن سبا اصطلاحات هم په متلونو ګډ شوي دي او د متلونو ځای یې نیـولی دی ، لکه : ترکاڼې د بېزو کار نه دی ، کوږ بار ترمنزله نه رسېږي او داسې نـور . دا ډول لفظي جوړښتونه پخوا اصطلاحات بلل کېـدل ، ځکـه چـې پـه دې ډول لفظي جوړښتونو کې لومړی دوه برخې نه شته او دویم دا چې همغږې په دوی کې هېڅ ارزښت نه لري ، چې په همدې اساس داهم اصـطلاحات بلـل کېـږي ، چې د ډېر استعمال له مخه اوس د متلونـو پـه چوکـاټ کـې راغلـي او مانـاییز ارزښتونه یې هم دومره زیات شوي ، چې د متلونو ځای یې نیـولی او د نـورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



متلونو په شان پــه ژبه کې کارول کېږي ، خو کوم اصطلاحات چې دلته مــونږ تر بحث لاندې نيولي داهم د هغه نورو اصــطلاحاتو پــه شــان ارزښــت لــري او ويونکي په همدې غرض ترې کار اخلي .

البته زما داخبره ښايي سل په سـلو کـې اوس رښــتيا نــه اوسي ، ځکــه پــه دې اصطلاحاتو کې تراوسه ټولې د متل ځای ته نه دي ور رســېدلي او د همــدغې اصطلاح پــه شکل په کار وړل کېږي ، چې زمونږ موخه او هــدف همدغــه ډول اصطلاحات دي ، چې بېلګې يې دادي :

لورپه لوټه اچول يا لور په لوټه تېره کول .

اوبښ په بډه منډل يا اوبښ په بډه وهل .

چې پورته دواړه اصطلاحات خپله مانا په مستقيمه توګه نه ښرګندوي ، بلکــې پــه دويمه مجازي مانا سره کارول کېږي ، چې لــومړۍ يــې د (چــل ، فريــب او غولولو) پــه مانا استعمالېږي او دويمه اصــطلاح يــې (پــه واقعيتونــو د ســترګو پټولو) مانا لري او هغه څوک چې نور غولوي او يا په ښکاره واقعيت ســترګې پټوي ، نو خلک دا دوه اصطلاحات د دليل او ملامتولو لپاره پــه خپلــو خبرو کې ورته وايي ( ۱ : ۱۰۰ ) .

لکه څنګه چې يو بوټی د سترګو په رپ کې تنوره او څانګوره ونه نه جــوړېږي ، لومړی يو کوچنی زړی د خاورو لاندې کېږي ، ټــوکېږي ، زرغــونېږي او يــو وخت داسې راشي چې ګور سيوری او خوږې مېوې ورکونکې ونه ترې جــوړه شي . همدغه شان پښتو ژبه له پخوا نه داسې ارته پراخه ، خوږه ، کره او پــوره نه وه ، بلکې دې د خپل پرمختګ په ترڅ کې ګڼ شمېر کلونه او پړاوونه ترشا پريښي دي . د دنيا ټولې ژبې په خپلو لومړيو پړاوونو کې لنډې او تنګې وې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زما په فکر د پښتو لمن د نورو ډېرو ژبو په نسبت زياته نيشت نيمگړې وه . دا ځکه پښتنو د زابل او سليمان په غرونو کې د شپونکيتوب ژوند تېراوه . په ورشوگانو کې يې د قبيلوي ټولگو په شکل شپې سبا کولې ، علم او پوهه يې لږه او ضرورتونه يې د گوتو په شمېر ول . په دغه ساده چاپېريال کې ورته د لږو او ساده لفظونو اړتيا پېښېده ، خو د وخت په تېرېدو سره کله ، چې پښتانه له غرونو کوز شول ، په بېلابېلو جغرافيايي سيمو کې خواره او مېشت شول ، د مختلفو علاقايي موسمونو او ضرورتونو سره مخامخ شول ، د نورو علاقو د نيولو سره د ټولنيز ژوند د تودو سړو نه خبر شول ، نو ژوند او پوهه يې مخ ته لاړه او دغه شان د تمدن په لور يې دمه گير گامونه واخيستل . د تهذيب او ژبې تړون هيڅکله ماتېداى نه شي . د تهذيبي ارتقا سره ژبې هم خپله پانگه پراخه او مهذبه کړه . متلونه ، محاورې او ښکلي ښکلي اصطلاحات پکې وزېږېدل . کله چې د غوره راتلونکې لپاره خلکو د ژوند د پېښو څخه پايله اخيستنه پيل کړه ، نو متل په وجود کې راغى ، چې د عقل او پوهې عکاسي کوي ، دغه شان د غوره پيغام رسونې په لړ کې چې د خوږو ، پستو ، جامعو لنډو او اغېزناکو جملو اړتيا پېښه شوه ، نو محاورې سترگې وغړولې ، چې د کولتوري معيار عکاسي کوي . محاوره د يو شمېر لفظونو داسې ښايسته ترتيب و ترکيب دى چې د اصلي ماناوو په ځاى مستعار مطلب په ډېر مهذب او موثر ډول ښکاره کوي . محاوره هم ، لکه د متل د فولکلوري ادب توکى دى . د دې زېږوونکى يو شخص نه بلکې ټول ولس دى ( ۱۴ : ۴ ) .

که زه وليکم ، چې پلانى په اصطلاح شاعر دى ، خلک مې له خبرې دا مانا اخلي چې زه دغه سړى شاعر نه گڼم او يا په بله ژبه زه دلته د (شاعر) کلمه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي مانا نه استعمالوم . موږ د علمي اصطلاحاتو ترکیب هم لـرو ؛ یـوه کلمـه چې په یوه علم کې خاصه مانا ولري ، د هغه علم اصطلاح ګڼل کېږي . سنت په لغت کې دود ته وایو ، خو په اسلامي پوهنو کې خپله بېله مانا لـري . د کیمیـا په اصطلاحاتو کې اوبه هغه مرکب ته وایي ، چې په یوه مالیکول کـې یـې یـو اتوم اکسیجن او دوه اتومه هایدروجن شامل وي مګر هغه څه چې موږ څښـو او اوبه یې بولو ، ممکن یوه اندازه کلـورین پکـې حـل وي یـا د نـور عنـاصرو مرکبات پکې وي ، چې د کیمیا علم یې بیا یواځې اوبه نه بولي .

د (علمي اصطلاح) او هغې کلمې ترمنځ ، چې وروسته له (په اصـطلاح) څخـه یې راوړه مشترک ټکي دا دي چې کلمه مو په خاصه مانا او بله مانـا اسـتعمال کړه . که ووایو چې : لرګی مات شو . دلته (مات) په اصـلي مانـا راغلـی دی ، مګر په دې بله جمله کې راغلی (مات) چې له لغوي او مستقیمې مانا پرته بله مانا ښندي اصطلاح بولو : پلانی مات سړی دی . دلته وایو چې (مات) پکې په اصطلاحي مانا راغلی دی .

یو داسې عبارت ، چې د خپلو رغنده کلمو له مستقیمو ماناوو بېله ، مجازي او استعاري مانا لري اصطلاح بللای شو . موږ وایـو : پلانـی لـور پـه لوټـه تـیره کوي . دلته د رغنده کلمو خپلې مسـتقیمې او لغـوي مانـاوې نـورې دي ، خـو دغه کلمې په شریکه ، پـه مجـازي او غیرمسـتقیمه ژبـه ، د پلمـې کولـو مانـا ښندي .

غیرمستقیمه ، ضمني او مجازي ماناوې په استعاره کې هم وي ، مګر اسـتعاره ځکه اصطلاح نه بولو ، چې د هغه شاعر خپله اختراع ده او تولنه له کلمې هغـه مانا نه اخلي چې شاعر په شعر کې راوړې ده . شاعر معشوقه سروه بولي ، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک دا کلمه په دې مانا نه استعمالوي ؛ خلک يوازې يـو ډول ونـې تـه سروه وايي .

اصطلاح د عادي ژبې برخه ده او د ژبې د نورو عادي کلمـو غونـدې د هغـې د مانا په اړه په ټولنه کې اتفاق لازم دی . د کيميا د پوهانو ټولنه د اوبو د مانا په اړه توافق سره لري ، پښتني ټـولنې پـه دې اتفـاق کـړی دی ، چـې لـه (سـپين سترګی) څخه د سترګو له سپين والي ببخي ببله بله مانا واخـلي ، خـو پـه دې باندې ټولنې اتفاق نه دی کړی ، چې سروه به دنګې معشوقې ته وايي . يو بـل شاعر ممکن د دنګـې معشـوقې لپـاره د (چنـار) کلمـه راوړي او (سروه) هغـه ځوک وبولي ، چې د زمانې سرې تودې ورباندې اثر ونه لري .

ځرنګه چې هنري ژبه تصويري ، مجازي او غيرمستقيم بيـان تـه مايلـه ده ، نـو شاعر او د هنري نثر ليکوال ممکن تر نورو ليکونکو د اصطلاحاتو راوړلو تـه ډېر اهميت ورکړي . زمـوږ ځينـې ليکـوال د اصـطلاحاتو د راوړلـو پـه خـاطر ستايل شوي دي ، خو موږ داسې ليکوال هم لرو ، چې اصـطلاحاتو يـې نـثر او هنر ته صدمه رسولې ده .

اصطلاح ، متل او بل هر توکي که يوازې په دې نيت نثر يا شعر ته ورداخلېږي ، چې ښايسته دی او د ليکنې ښايست به ورسره زيات شي ، دا تېروتنه ده . يوه کلمه يا عبارت يوازې هغه وخت د ليکنې ښايست زيـاتوي، چـې د مقصـد پـه رسولو کې تر مترادفو کلمو يا عبارتونو ښه برخه واخلي او د آهنګ او مانا پـه لحاظ د کلام له نورو اجزاوو سره لا ښه تناسب ولري .

حمزه شينواری فرمايي :

نن چې مې ډېر په زړه اورېږي د اختر مخه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه ته د تېرو خاطراتو د لښکر مخه ده

په اختر او خوشحالیو کې د یار او دوست یـادول د ادبیـاتو یـو نسـبتا عـام موتیف دی خو همدا تکراري مفهوم دلته خوند راکوي او د خوند لویه وجه یې په بیت کې راغلې اصطلاح ده . (په زړه اورېـدل) بـاران رایـادوي ، بـاران پـه ځمکه او په لویه ساحه کې اوري او یوه پرانیستې ساحه مو سترګو ته دروي . باران پسرلی او د ګلونو د غوړېدو موسم رایادولای شي . د ګلونـو او پسرلـي ورځې د اختر غوندې زړه غوښتونکې وختونه دي . باران رحمت دی ، د لښکر غـړي د زیـاتوالي پـه وجـه د بـاران لـه څـاڅکو سره تشـبیه کـولای شـو . پـه (اورېږي) کې د (ړې) توری شته ، چې د بیت په نورو کلمو کې تکرارېـږي او د کلام موسیقي پیاوړې کوي . باران اوښکې رایادولای شي ، چې د بېلتانه په وخت کې له سترګو تویېږي .

که د دې اصطلاح په ځای شاعر ویلي وای :

دا نن چې ډېر ډېر رایادېږې د اختر مخه ده .

یا : نن چې مې ډېر په زړه کې ګرځې د اختر مخه ده .

د بیت ښکلا به کمه شوې وه . (په زړه کې تېرېدل) یا (پـه زړه کـې ګرځېـدل) هم اصطلاحات دي ، خو د دې بیت ښکلا ورسره نه زیـاتېږي ، ځکـه هغـه نـور تناسبات چې په دې بیت کې یې په زړه اورېدل لري ، نه لري .

په لنډیو کې اورو :

په زړه مې ته پلمې مې نورې

کلي کې ګرځم ماشومان کرارومه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دلته له زړه څخه د بکس غوندې يو ظرف جوړ شوی دی . هغه شی ، چې په بکس کې ساتو ، نور يې نه ويني او د يو راز غوندې ساتل کېږي . د اشنا ياد هم دلته يو راز دی ، چې معشوقه يې د پټ ساتلو لپاره د ماشومانو کرارول پلمه کوي .

که (په زړه) اصطلاح بې (کې) تصور کړو ، داسې تصوير مو سترګو ته درېږي ، چې يو شی د بل شي له پاسه ايښی دی . هغه څه چې په بل شي يې ږدو ، ممکن تر لاندېني شي وړکی وي ، د لوی او کوچني رابطه د لنډۍ په دويمه جمله کې په بل ډول ياده شوې ده . له دې درکه هم راغلې اصطلاح د لنډۍ د توکونو ترمنځ تناسبات پياوړي کړي دي .

دا لنډۍ که داسې پيل شوې وای چې : مقصد مې ته پلمې مې نورې ، نو مطلب به همدا اوسنی مطلب وو مګر د تصوير او تناسب په لحاظ به مو تاوان کړی وو .

د استاد حمزه شينواري په دې بيت کې د (سرتيټېدلو) اصطلاح د بيت له نورو توکونو سره د تناسب په خاطر د بيت ښکلا زياته کړې ده :

ما کوز ورته لېمه کړه زما سر نه ټيټېده

شايد چې په الفت کې هم افغان پاتې کېدم

اصطلاح او هغه کلمه چې مجازي او غيرمستقيمه مانا ښندي ، زموږ سترګو ته انځور دروي . که د شاعر مقصد له دغه انځور سره سمون وخوري ، کاميابي ده او کنه صرف دې ته زړه ښه کول دي ، چې شاعر اصطلاح راوړې ده ، په هنري لحاظ اهميت نه لري . ځينې کسان کله کله د يو چا په تعريف کې وايي ، چې په خپل شعر يا نثر کې يې ولسي اصطلاحات خوندي کړي دي . په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډول تعریف کې ابهام موجود دی . که منظور ورڅخه دا وي چې د قاموس لیکونکي او لغت ټولونکي کار یې اسانه کړی دی ، خبره سمه ده ، خو که د لیکوال یا شاعر دا اقدام د کلام ښایست گڼي ، خبره یې صرف هغه وخت سمه بللای شو ، چې دغه اصطلاحات د کلام له نورو اجزاوو سره د نویو تناسباتو سبب شوی وي . په شعرونو کې د اصطلاحاتو د هنري اغېز مطالعه یو جالب بحث دی . زموږ ځینو لیکوالو او محققانو د یو شمیر دیوانونو او ټولگو اصطلاحات رااېستلي دي ، خو د هغو د هنري اغېز په اړه لا مطالعه نه ده شوې ، البته دا بحث هم سم نه دی سپړل شوی ، چې اصطلاح باید څه ته ووایو او څنگه یې تعریف کړو ؟ ایا د انگرېزي ایدیم ته اصطلاح ووایو ، محاوره ووایو او که یې د ځینو لیکوالو غوندې گړنه وبولو ؟ ایا په محاوره او اصطلاح کې فرق وکړو او اصطلاح یواځې د علمي هغو لپاره وکاروو او د خلکو د ژبې اصطلاحات ، محاورې وبولو ؟ پروفیسر قلندر مومند مرحوم به ویل چې محاوره د خلکو په ژبه کې وي او اصطلاحات د علم له څانگو سره تعلق لري . داکتر زیار په خپل کتاب (د خوشحال ادبي پښتو) کې (گړنې) ته په لیندۍ کې یو ځای (محاروه) او بل ځای (Idiom) لیکلی دی . ما په دې مقاله کې د اکثرو نورو لیکوالو غوندې د ایدیم لپاره د اصطلاح کلمه غوره وبلله ( ۱۷ : ۱۵۰ ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اخځونه :**

۱. الکوزی ، جانداد او شېرزاد ، محمد اقا . پښتوغونډله پوهـه (۱۳۸٦) .کابـل صميم ادبي ټولنه .

۲ . جاج پښتونزوی ، حبيـب الله . د فولکلـور تاريخچـه (۱۳۸۷) . ننګرهـار ، د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه .

۳ . حبيبـي ، عبـدالحی . د پښـتو د نـوي ادب لارې (۱۳۸٦) . پېښـور ، مـيهن خپرندويه ټولنه .

۴ . خاورې ، غوټۍ . د پښتو شفاهي ادبيات (۱۳٦٦) .کابل ، پښتو ټولنه .

۵ . خيالي ، لعل بادشاه . د پښتو متلونو تهـذيبي او لسـاني مطالعـه (۲۰۱۲) . مردان د ادبي دوستانو مرکه ، پښتو نوې ادبي ټولنه ، پښتو ليکونکي .

٦. درانی ، درويش . د پښتني ژوند کړه وړه (۲۰۱۴) . کوټه ، صحاف نشرـاتي موسسه.

۷. دوسـت شـينواری ، محمـد دوسـت . د پښـتو دولسيـ ادب لارې (۱۳۸۵) . پېښـور دانش خپرندويه ټولنه .

۸ . رښتين ، صديق الله . د پښتو ادب تاريخ (۱۳۷۷) .

۹. زاهد مشوانی ، عبدالقيوم . زاهـد پښـتو ـ پښـتو سـيند (۱۳۸۵) . پېښـور ، دانش خپرندويه  ټولنه .

۱۰. زغم ، احمدشاه . متلونه او اندونه (۱۳۹۰) فرهنګ مردم (فصلنامه) ، کابل ارګان نشراتي وزارت اطلاعات و فرهنګ ، دوره پنجم نشراتي ، سال هجـدهم ، شماره دوم زمستان ۱۳۹۰ ، شماره مسلسل ۳۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱. ژواک ، محمد دين . پښتو متلونه (۱۳۸۲) . پېښور ، الازهر خپرندويه ټولنه .

۱۲. سحر ، علم گل . خبري له خبرو پيداکېږي (۱۳۸۷) . پېښور ، دانش خپرندويه ټولنه .

۱۳. شينواری ، موسی خان . د متلونو قيصې (۱۹۹۵) . پېښور ، ماسټرز پرنټرز .

۱۴. عامر ، عبدالکريم . پښتو محاورې (۲۰۱۱) . لورلايي ، پښتو څېړنه .

۱۵. عميد ، حسن . فرهنگ عميد (سه جلدي ، جلداول) (۱۳۸۱) . تهران ، موسسه انتشارات اميرکبير .

۱۶. غريبيار، سيداگل . ولسي- مرغلرې (۱۳۸۴) . پېښور، دانش خپرندويه ټولنه .

۱۷. غضنفر ، اسدالله . جادوگر هنر . جلال اباد ، مومند خپرندويه ټولنه ، ۱۳۹۳.

۱۸. فولکلور (مقالې) . د لال پاچا ازمون په زيار (۱۳۸۹) . ننگرهار ، د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه .

۱۹. کډوال ، شاه محمود . گړنې ، څرگندنې او نومونې (۱۳۹۱) . جلال اباد ، مومند خپرندويه ټولنه .

۲۰. ليوال ، فدامحمد . پښتو متلونه (۱۳۹۰) . کوټه ، صديق خپرندويه ټولنه .

۲۱. محمد رفيع . د ماشومانو گل غونچه (۱۳۸۰) . پېښور ، د اريک د گرځنده کتابتونو اداره .

۲۲. منگل ، علی محمد . د ولسي ادب لهجه سوتل (۱۳۹۰) .

۲۳. وسيم يوسفزی ، فرهاد علی . د متلونو په لار (۲۰۱۴) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴. وفا ، محمد داود . د فولکلور پېژندنې لارښود (۱۳۹۳) . جلال اباد ، مومند خپرندویه ټولنه .

۲۵. Hornby A.S.Oxford Advanced Learner's Dictionary (۲۰۱۰) ۷ed. Oxford, Oxford University Press.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (احمدالله علیزی) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

يو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاه محمود کډوال

د خپرونو لړ: ۱۱۳

د افغانستان ملي تحريک
www.melitahrik.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**